سیفیتِ بریلویت

بمقابلہ

حنفیت



تالیف

مناظر اسلام جامع المنقول و
المعقول شیخ القران والحدیث
حضرت العلامة ابو ابراهيم

رحیم اللہ الحقانی الافغانی
دامت برکاتهم العاليه

زیر اہتمام

اَهلِ السُّنَّة وَالجماعة العَالَمِی

ندیم تریډ سنټر محله جنګي قصه خواني بازار پشاور

دکتاب ځانګړني

د کتاب نوم: فتنه سیفیت بریلویت بمقابله حنفیت
لیکوال: سلطان المناظرین الشیخ رحیم الله الحقاني الافغاني حفظه الله
کمپوز: فرهاد (دلسوز)
چاپ: لومړی وار.
د چاپ ځای: اهل السنة والجماعة العالمي
مسؤل اداره: مولوي هدایت الله بدر
دتر لاسه کولو ځای: ندیم مارکیټ محله جنګي قصه خوانی پېښور

هر مسلمان یې د تغیر نه بغیر د صدقې جاریې

په نیت چاپ کولی شي

یادونه:

د شیخ القران والحدیث حضرت مولانا ابو ابراهیم رحیم الله الحقاني الافغاني حفظه الله ټول تصانیف د اهل السنة والجماعة العالمي ادارې څخه تر لاسه کولی شئ.

مسؤل :

مولوي هدایت الله (بدر)
0348-4319541
فرهاد (دلسوز)
03078517886

دحضرت شيخ القران والحديث حضرت العلامه
رحيم الله الحقاني چاپ شوي كتابونه

- احقاق الحق فى الدفع عن مذهب الحق (٥) جلد.
- احسن التوضيح شرح مشكوة المصابيح (١) جلد.
- احسن الفرائد شرح شرح العقائد.
- عقد اللألى على حاشية الخيالى.
- القول المفيد فى اثبات التقليد.
- د رسول الله صلى الله عليه وسلم لمونځ.
- احكام الغنيمة.
- قواعد المناظره .
- شمس الحكمت شرح هداية الحكمت.
- الروض المكلل شرح مطول.
- فريدة الغواص شرح سلم العلوم.
- فتنه سيفيت بريلويت بمقابله حنفيت.

دميلاويدو پته:

اهل السنة والجماعة العالمي اداره

نديم ماركيټ محله جنګی پیښور

مسؤل:

مولوي هدايت ال د پير سيف الرحمن دعوى له بدرتپ

03484319541

فرهاد(دلسوذ)

03078517886

بسم الله الرحمن الرحیم

حامداً ومصلیاً

امابعد:

الحمد لله مونږ أهل السنة والجماعة احناف دیوبندیان یو.

اهل السنة والجماعة

(سنت) دین او قانون ته وایې.

(جماعت) دصحابه وو رضی الله عنهم مقدّس جماعت ته وایې.

اهل السنة والجماعة ددین په تشریح کې خپل عقل دشریعت اودصحابه وو رضی الله عنهم دتشریح تابع کړي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د (**یوم تبیض وجوه**) په تشریح کې فرمایلی دي چې: تبیض وجوه اهل السنة والجماعة وتسود وجوه اهل البدع والضلالة[(۱)].

حنفی: په اجتهادیاتوکې دامام ابوحنیفه رحمه الله په رهنمایی کې په دین باندې عمل کوونکي ته حنفی وایې.

د(۱۹۹۴ع) دمردم شماری مطابق په دنیاکې یو ارب او دیرش کروړه مسلمانان وو چې په دوی کې پنځه اتیا کروړه یوائې احناف وو[(۲)].

---

(۱): الدرالمنثور جلد(۲) صفحه (۱۱۲).

(۲): دنیا میں فقهی مذاهب کافروغ صفحه (۱۳۱).

الله جل جلاله په (واخرین منهم لما یلحقوبهم) کې امام ابو حنیفه رحمه الله ته اشاره کړې ده[1].

دیوبندی: د دین تکمیل د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس وشوا واکثره ملکونو ته تمکین یې د صحابه کرامو په لاس وشو او تدوین یې د امام ابو حنیفه رحمه الله په لاس وشو.

لکن په برصغیر او افغانستان کې بعضو خلکو د اصلی دین د بدلولو کوشش شروع کړو ډېرو بدعاتو ته یې دین وویلې.

نو اهل حقو علماوو د دین د حفاظت لپاره د دار العلوم دیوبند په نوم یوه مدرسه جوړه کړه او هغه مسائل یې جدا کړل چې دین نه وو او خلکو ورڅخه دین جوړ کړی وو حنفیت نه وو او خلکو ورڅخه حنفیت جوړ کړی وو.

لیمیز الله الخبیث من الطیب.

(۱): تبیض الصحیفة فی مناقب أبی حنیفة صفحه (۳).

دحنفی فقهې دترجیح وجهې

(۱):شاه ولی الله رحمه الله فرمایلي دي چې: ماته نبی علیه السلام راوپېژندله چې حنفی فقهه دمشهورو شرعی نصوصوسره موافقه ده[۱].

(۲): حنفی فقهه تابعی مدونه کړې ده ځکه چې امام صاحب رحمه الله رؤیةًوروایةً تابعي دی،اونورامامان تابعیان نه دي[۲].

(۳):دحنفي فقهې اصول اوضوابط دیوې شوری په ذریعه مرتب اومدون شوي دي او اراکین دشوری دټولو ځخه لوې مفسرین،محدثین،فقهاء اودهرفن ماهرین علماءوو، نوحنفي فقهه جمهوری فقهه ده[۳].

(۴): الله جل جلاله حنفي فقهې ته عام مقبولیت وربښلی دی ددنیا اکثرمسلمانان په حنفی فقهه عمل کوي[۴].

(۵):ددنیادټولومحدثینو سندد امام صاحب رحمه الله په شاګردانو تېرېږي او لویو لویو محدثینو چې دلکونه احادیثوحافظان وو بیایې هم دحنفی فقهې ځخه فتوی ورکولې لکه دامام بخاری رحمه الله استاذ عبدالله ابن مبارک رحمه

---

(۱):فیوض الحرمین صـــ (٤٧).

(۲): فهرست لابن ندیم صـــ (۲۹۸).

(۳): تاریخ بغداد ج(۱۲)صـــ(۱۰۸) مناقب موفق ج (۲)صـــ (۱۳۳) مناقب کردی ج (۲)صـــ (۳).

(٤):الفهرست(۲۹۹).

الله، وکیع ابن الجراح، یحی ابن سعید القطان ، یحی ابن معین ، یحی ابن ذکریا وغیرهم...رحمهم الله.

(۶): دامام صاحب رحمه الله اجتهاد ډېردقیق وو هیڅ باریک اړخ به ترېنه نه پاتې کېدلو[1].

(۷): په ټولو فقهوکې حنفي فقهه واحده هغه فقهه ده چې تحقیقي اوتقدیري دواړه قسمه مسائل په کې دي، نن صباپه زرګونو مسائل دتقدیري فقهې په رڼاکې حل کېږي.

(۸): دحنفي فقهې مسائل په اسرارو اومصالحومبني دي.

(۹): په حنفي فقهه باندې دنورو فقهو په نسبت عمل آسان دی.

(۱۰): په حنفي فقهه کې په ټولو احادیثو په یوځای دعمل کوشش شوی دی حتی چې داکوشش هم شوی دی چې ضعیف حدیث هم متروک العمل نه شي.

دحنفي فقهې سره دانګریزانو دوښمنی

زمونږدملکونو افغانستان اوپاکستان اکثریت مسلمانان په حنفی فقهه متحد وو، لکن کله چې انګریزان هندوستان ته راغلل نود(لړاو اورحکومت کرو) دقانون مطابق یې دحنفي فقهې دوښمنان راپیداکړل یوه ډله یې دویکټوری اهل حدیثوجوړه کړه چې په ښکاره یې دحنفی فقهې سره دوښمني شروع کړه

(۱): طبقات الشافعیة الکبری ج (۲)صــ(۱۷٤).

نوريې هم ډېرې فرقې جوړې کړې چې په دغه فرقو کې يوه فرقه د بريلويت هم ده چې سيفيت هم د دوی يو شاخ دی.

د سيفيت بريلويت فرقه په دروغو ځانونو ته ماتريديان او په فروعو کې احناف وايي.

ځکه چې ډېر داسې نوي نوي مسائل يې د ځان څخه جوړ کړي دي چې د ماتريديت او د حنفي فقهې سره بلکل مخالف دي ګويا کې چې د حنفي فقهې په مقابله کې سيفيت بريلويت هم يوه مستقله ډله ده.

تعجب!!!

د سيفيانو بريلويانو څخه چې د لمونځ، روژې، زکوة او حج وغيره مسائلو پوښتنه وکړې نو د حنفي فقهې څخه جواب وايي د قرآن او سنت څخه ډاريک (بالذات) استدلال نه کوي.

او چې بيا د دوی د نورو بدعاتو او شرکياتو مثلاً په حلقو کې ډ رقص، استمداد، علم الغيب، حاضر او ناظر، ذکر بالجهر تعبداً، عرس او مروجه محفل ميلاد وغيره په باره کې ترېنه پوښتنه وکړې نو بيا د حنفي فقهې د صريحو عباراتو په خلاف فوراً د ويکټوري اهل حديثو په شان د ځانونو څخه مجتهدين جوړ کړي د خپل ځان څخه صغری ګانې او کبری ګانې سره يو ځای کوي او خپلې خيالی، بدعي او شرکي نتيجې ور څخه راوباسي او په قرآن او سنت کې د تحريف يوه سلسله شروع کړي.

او که بيا ورته ووايې چې آيا تاسو د اخپل خود ساخته جديد مسائل د فقهی په کوم معتمد کتاب کې صراحتاً ښودلی شئ نو سمدستي د وهابيت ټاپه درباندې ووهي.

آخرڅه وجه ده چې سيفيان بريلويان حنفي فقهه ناقصه ګڼي ،اوخپلې صغراګانې اوکبراګانې سره يوځای کوي اوسيفي، بريلوي، نتيجه ترينه راوباسي؟
ولې خپل خودساخته (سيفيي بريلوي) مسائل دحنفي فقهې په کوم معتمد کتاب کې ښودلی نه شي؟
او ولې يې دحنفي فقهې په مقابل کې نوې متوازي فقهه جوړه کړې ده؟
که په خپلوذهني استدلالاتوشي نوبيا،حضرت مجدد الف ثانی رحمه الله فرمايلی دي چې هربدعتی اوګمراه دخپلو معتقداتو لپاره کتاب اوسنت مقتدا ګڼي (خپلې ګمراهيانې دکتاب اوسنت څخه ثابتوي) اوپه خپل بې کاره فهم دقرآن اوسنت څخه غيرمطابقی معناګانې رافهموي[1].
سيفيان بريلويان او ديوبنديان دواړه دحنفيت دعوه کوي نو ولې سيفيان بريلويان په دغو اختلافي مسائلوکې دحنفيت ثالثی، ته تيارنه دي؟
آيادا ددې واضح دليل نه دی چې دسيفيانو بريلويانو دحنفيت دعوه دروغ ده؟
په دې مختصره رساله کې به دالله جل جلاله په توفيق سره دا واضحه کړو چې سيفيان بريلويان دنوروبريلويانو په شان په خوله دحنفيت دعوه کوي.لکن په زړه کې دحنفيت سره دومره بغض لري لکه څومره بغض چې روافض داهل السنة والجماعة سره لري.
سيفيان بريلويان دنوروبريلويانو په شان په فقهې حنفي پورې دومره افتراګانې کوي لکه څومره افتراګانې چې روافض يې دصحابه کرامو پورې کوي.

(۱): مکتوبات ــــ مکتوب (۲۸۶) دفتراول ج (۲) صـــ (۷٦۷).

اوله مسئله

سیفیان بریلویان دي

په افغانستان،کوزه پښتونخوا اوبلوچستان کې چونکې دبریلویت څخه نفرت عام دی لهذا ددې علاقوسیفیان په خوله وايې چې مونږنه دیوبندیان یو اونه بریلویان یو حالانکې ددې علاقودسیفیانو ټول عقائداو اعمال هم دبریلویانو دي اودپنجاب اودسنده دبریلویانوپه شان ددیوبند دأکابرو دتکفیر قائل هم دي.

دلته ددوئ دمناظرینو ویډیواو اډیو بیانونه متواترموجود دي چې ددیوبند داکابرو تکفیراوتوهین یې کړی دی.

ددوی مرکزي مناظر دپېښور دبهادرکلي ایازعلی شاه سیفی دبدزبانی بیانونه ښه عام دي چې مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله ته یې (معاذالله)اشرف علی تاوانی ویلې همدارنګه یې بیابیا داشرف علی تهانوی رحمه الله تکفیرکړی دی.

امام اهل السنة مولانا سرفرازخان صفدر رحمه الله ته یې (معاذالله) خرویلی دی، حکیم اختررحمه الله ته یې معاذالله کافراوزندیق ویلی د، دشاه اسماعیل شهیدرحمه الله تکفیریې کړی دی او ټول سیفیان ورته ماشاء الله وایې شاباسی ورکوي اوددغوګستاخیانو تائیدیې کوي.

همدارنګه دسیفیانوبریلویانو په معتمدکتاب(تشریحات نابغه)کې یې لیکلي دي چې علماء دیوبنددامکان کذب قائل ووچې دابعینه دکفرنسبت دی (معاذالله).

په اوله حصه (۴۶۵) صفحه کې ويلي دی چې (اومسئله دامکان الکذب چې دخدای تعالی نه ددرغوويل ممکن دي داچې هرچا چيرلې بديې کړي اوددیوبند په علماء کې پرې چاقول کړی دی بریلویان پرې اعتراضات لري داغلطی ده دهغوی اودهغې لپاره پرتوک جوړول ښه کارنه دی ددیوبند بعضې علماء دامکان الکذب په مسئله قائل وو).

همدارنګه يې دتشريحات نابغه په اوله حصه (۴۶۴) صفحه کې په اشرف علی تهانوی رحمه الله دبريلويانو اعتراضات منلي اوصحيح يې ورته ويلي دي همدارنګه يې دشاه اسماعيل شهيدرحمه الله توهين کړی او وهابی يې ورته ويلی دی.

حالانکه دا اعتراضات دبريلويانودي، اوهراعتراض ته علماء دیوبند بیاپیا جوابونه کړي دي.

امام اهل السنة مولانا سرفرازخان صفدرصاحب رحمه الله ددې اعتراضاتو دجواباتو لپاره مستقل کتاب لیکلی دی په نوم د(عبارات اکابر) داحقاق الحق په پنځم جلد کې هم تفصيلي جوابونه شته دي.

په (۵۷۷) صفحه کې يې داحمدرضاخان بريلوی تائيدکړی دی اوپه (۵۶۷) صفحه کې دجامعې حقانيې اوفتاوا حقانيې توهين کړی دی.

په علماء ديوبنداعتراضات اود احمدرضاخان بريلوی تائيد چې بريلويت نه دی نوڅه شی دی.

په پنجاب، سندهـ او هندکې چونکې بريلويت عام دي نوپه هغه علاقوکې سيفيان په ښکاره ځانونو ته بريلويان وايې او اقرارکوي چې په ټولو عقائدو، اعمالو اوفتاوجاتوکې داحمدرضاخان بريلوی سره موافق دي.

دلته به دالله جل جلاله په توفيق سره دسيفيانو دمشرپيرسيف الرحمان صاحب وغيره نورو مشرانو سيفيانو دکتابونوځخه يوڅوعبارات رانقل کړو چې په ښکاره يې ځانونو ته بريلويان ويلي دي اودبريلويانو سره يې په ټولو عقائدو ، اعمالو او فتاوجاتوکې دموافقت اظهارکړی دی.

(۱): په (انوار رضا) ج ۴ شماره نمبر (۳)ډکې دپيرسيف الرحمان صاحب خپله مرکه (انټرويو) ده، په ميډياکې دپيرسيف الرحمان دځوی تائيدي ويډيو ښه عامه موجود ده چې وايې (انوار رضا) دده دپلار پيرسيف الرحمان صاحب مرکه (انټرويو) ده.

همدارنګه په (انواررضا) دپيرسيف الرحمان صاحب دځامنو حميدجان سيفی ، احمد سعيد المعروف يارجان سيفی ،محمد سعيد حيدری السيفی وغيرو.. تصديقات درج دي.

ددې کتاب په مختلفوصفحوکې دبريلويت اقرار اود ديوبند دعلماوو تکفيرموجود دی (معاذالله).

مثلاً: په ص (۲۵) کې يې داحمدرضاخان بريلوی صاحب په باره کې ليکلي دي چې: *(اعلی حضرت ولی کامل، عاشق رسول بی مثال عالم اور مجاہد تھے، وہ امام وقت ، ولایت کے اعلی مقام پر فائز تھے ، میں عقیدے ،مذہب ، قوم اور علاقہ ہر اعتبار سے ان کے موافق ہو)* انتهی،

اعلی حضرت احمدرضاخان کامل ولی په رسول الله صلی الله عليه وسلم عاشق، بې مثاله عالم او مجاهدؤ هغه دوخت امام اوکامل انسان وو،دولايت په اعلی مقام فائزوو زه(پيرسيف الرحمان)په عقيده، مذهب ، قوم اوعلاقه په هراعتبارسره داحمدرضاخان صاحب سره موافق يم.

په (۴۰) صفحه کې يې ليکلي دي چې: (اعلی حضرت ولی کامل، عاشق رسول، بی مثال عالم او مجاہد تھے وہ امام وقت اور مرد کامل تھے وہ ولایت میں اعلی مقام پر فائز تھے آپ آپنے وقت کے عظیم فقیہ، بی مثال محدث و مفسر جامع المعقول والمنقول تھے میں ان کی شخصیت سے انتہائی متاثر ہو میں عقیدی، مذہب، قوم اور علاقہ ہر اعتبار سے ان سے موافق ہو اور ان سے کوئی اختلاف نہیں).

اعلی حضرت احمدرضاخان کامل ولی ،عاشق رسول، بی مثاله عالم او مجاهد وو هغه دوخت امام اوکامل انسان وو او دولايت په اعلی مقام کې وو هغه دخپل وخت لوی فقيه، بی مثاله محدث، مفسر جامع المعقول و المنقول وو.

زه (پيرسيف الرحمان) داحمدرضاخان بريلوی صاحب دشخصيت څخه انتهايی متأثره يم زه په عقيده ،مذهب، قوم اوعلاقه هر اعتبارسره دهغه سره موافق يم اودهغه سره هيڅ اختلاف نه لرم.

همدارنګه يې په (۴۹) صفحه کې ليکلي دي چې: (اور میں فقیراخندزادہ سیف الرحمان نے خطیب بے مثل مولاناعلامہ مقصود احمد قادری صاحب خطیب مسجد داتا صاحب رحمہ اللہ اور دیگر علماء کرام کی موجودگی میں بار بار یہ بیان کیاکہ مجھے اعلی حضرت رحمۃ اللہ علیہ کے تمام فتاوی جات سے اتفاق ہے) انتهی.

مافقيرسيف الرحمان د داتاصاحب رحمة الله عليه دمسجد دخطيب مولانا مقصود احمد اودنورو علماوو په مخکې څو څوځله اقرارکړی دی چې زه داعلی حضرت احمدرضاخان بريلوی سره په ټولو فتاوی جاتوکې متفق يم.
همدارنګه ددې کتاب په متعددو صفحوکې دبريلويت اقراردی لکه په (۷۵ ، ۷۷) وغيره صفحوکې.

همدارنګه يې د(انوار رضا) جلدنمبر(۴) شماره نمبر(۳) کې عنوان قائم کړی دی په نوم د(حضرت اخندزاده مبارک کې حيات مبارکه کی اخری تحرير).

پیرسیف الرحمان صاحب دخپل ژند په آخري خط کې داحمدرضاخان بریلوی صاحب دتفسیر کنز الایمان فی ترجمة القرآن طرف ته په داسې الفاظو ترغیب ورکړی دی.

((کنزالایمان فی ترجمۃ القرآن اردو زبان مین اعلی حضرت امام احمد رضاخان فاضل بریلوی رحمہ اللہ کاوہ عظیم علمی وروحانی شاہکار ہی کہ جس کی اہمیت وافادیت کسی باشعور صاحب علم وذی شعور سی مخفی نہیں اور نہ ہی کوئی دیانت دار شخص اس کے عظیم علمی حیثیت کاانکار کرسکتاہی۔ قرآن کریم کی ترجمہ کی لئی ضروری ہی کہ مترجم روح قران سی اشنا ہو اور اس اصول پراعلی حضرت امام احمد رضابریلوی رحمہ اللہ پوری اترتی ہین اسی لئی کنزالایمان فی ترجمۃ القرآن مین شان الوہیت کامکمل پاس رکھاگیاہی اور منصب نبوت ورسالت کی آداب کوبھی پیش نظر رکھ کر ترجمہ کیاگیا اس میں شک نہین کہ یہ بہت عمدہ اور باادب ترجمہ ہی۔ کنزالایمان کی زبان کوثر وسلسبیل سی دہلی ہوئی اور عشق رسالت مآب صلی اللہ علیہ وسلم کی خوشبوؤں سی معطر ومعنبر ہی امام احمد رضارحمہ اللہ کا قلم عرفان ذات کی روشنیاں بکھیرتاہی اور ظلمت وبدعقیدگی کوکافور کرتا چلاجاتاہی۔ نقاہت وعلالت کی سب میں زیادہ کچھ کہنی کی پوزیشن میں نہیں ہوں ورنہ دیگر مترجمین کی لغزشوں اور غلطیوں کی نشاندہی کی ساتھ کنزالایمان کی افادیت پر سیر حاصل کتاب لکھ دیتا۔ سہ ماہی ((انوار رضا)) جوہرآباد کی طرف سی اشاعت خاص ((انوار کنزالایمان)) اہل حق کی لئی ارمغان علم وعرفان ہی میں اس کی اشاعت پر مسرور ہو نیز اس کی کامیابی، قبولیت اور مقبولیت کی لئے دعاگوہوں[1].

(۲): دپیرسیف الرحمان صاحب یوه رساله ده په نوم د (قیوم زمان مجدد دوران امام خراسان حضرت اخندزادہ فقیر سیف الرحمان مبارک رحمۃ اللہ علیہ المعروف پیرارچی وخراسانی کاپیغام علماء ومشائخ اہل السنۃ کے نام ناشر مکتبہ محمدیہ سیفیہ آستانہ عالیہ راوی ریان شریف۔ لاہور برائی رابطہ پیرعابد حسین سیفی (۰۳۳۴۴۲۶۳۹۴۳).

---

(۱): انوار رضا جلد نمبر (٤) شماره نمبر (۲) صفحه (۸).

ددې رسالې په (۳) صفحه کې یې لیکلي دي چې: (اور میں فقیراخندزادہ سیف الرحمان نے خطیب بے مثل مولانا علامہ مقصود احمد قادری صاحب خطیب مسجد داتا صاحب رحمہ اللہ اور دیگر علماء کرام کی موجودگی میں بار بار یہ بیان کیا کہ مجھے اعلی حضرت رحمۃ اللہ علیہ کے تمام فتاوی جات سے اتفاق ہے) - انتهی.

مافقیرسیف الرحمان د داتاصاحب رحمة الله علیه دمسجد دخطیب مولانا مقصود احمد اودنورو علماوو په مخکې څو څوځله اقرارکړی دی چې زه داعلی حضرت احمدرضاخان بریلوی سره په ټولو فتاوی جاتو کې متفق یم.

همدارنګه یې ددې رسالې په (۷) صفحه کې یې لیکلي دي چې: (آپ امام ربانی حضرت مجدد الف ثانی اور امام احمد رضاخان بریلوی رحمۃ اللہ علیہ کے افکار و نظریات سے انتہائی متاثر تھے اور آپ آپنی زندگی میں فقیر کے سامنے حسام الحرمین اور اعلی حضرت کے دیگر فتاوی جات کے تائید وحمایت کی) انتهی.

پیرسیف الرحمان صاحب دامام ربانی مجدد الف ثانی رحمه الله اواحمد رضاخان بریلوی رحمه الله دافکارو اونظریاتو څخه انتهایی متأثره وو اوپیرسیف الرحمان په خپل ژوندکې دفقیر(صاجزاده حاجی محمد فضل کریم رضوی ایم این ای) په مخکې دحسام الحرمین اوداعلی حضرت دنورو فتاوه جاتو تائیداوحمایت وکړو.

همدارنګه یې ددې رسالې په (۱۱)صفحه کې دمفتی غلام فرید هزاروی سعیدی رضوی نیفی وینا لیکلې ده، چې مفتی غلام فرید سیفی ویلي دي چې: (حضرت اخندزادہ صاحب سرکار تمام عقائد میں اہل السنۃ بریلوی سے پوری پوری مطابقت رکھتے ہیں، عرس کرواتے ہیں میلاد مناتے ہیں استانے پر عرس کے موقع پر سلام مع القیام بھی پڑھا جاتا ہے) انتهی.

پیرسیف الرحمان صاحب په تولو عقایدو کې د اهل السنة بریلوی سره پوره پوره مطابق وو (دبریلویانو په شان یې) عرس کولو، میلاد یې لمانځلو او په خپله استانه کې یې په عرس کې دسلام سره قیام هم کولو.

(۳):مولوی احمدعلی شاه سیفی کراچی چې دسیف الرحمان صاحب په لویو خلیفه ګانو کې دی لیکلي دی چې نن صبا په اختلافی مسائلو کې زمونږه داهل السنة سیفیانو لپاره دامام اهل السنة اعلی حضرت احمد رضاخان بریلوی قول ،قول فیصل او حجت دی[۱].

همدارنګه یې دبریلویانو دمناظراعظم مولوی نظام الدین ملتانی په حواله لیکلي دي چې مولوی نظام الدین داشاری کولو څخه منعه کړې ده حال داچې هغه لوی مناظر وو[۲].

مولوی نظام الدین هغه ګستاخ بریلوی دی چې په خپل کتاب انوار شریعت کې یې ځای په ځای ددیوبند اکابرو ته کنځل کړي دي اود شاه اسماعیل شهید رحمه الله حجة الاسلام مولانا قاسم نانوتوی رحمه الله، مولانا رشید احمد ګنګهوهی رحمه الله، مولانا خلیل احمد سهارنپوری رحمه الله اودمولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله تکفیریې کړی دی.

دداسې تکفیری بریلوی دکتاب څخه استدلال عین بریلویت دی.

(۴): دپیرسیف الرحمان صاحب خلیفه صوفی نثار الحق یو کتاب لیکلی دی په نوم د(اکرام مسلم)ددې کتاب په آخری صفحه کې یې یوعنوان لیکلی دی (دسالکینو لپاره ضروری کتابونه) او بیایې دکتر بریلویانو دکتابونو نومونه لیکلي

---

(۱):مجموعه رسائل ج (۲) صـ ۲۹۱ ناشرجامعه امام ربانی کراچی.

(۲):مجموعه رسائل حصه دوم صـ (۳٥٤).

دي لکه (تفسیرضیاء القرآن،علامه پیرکرم شاه الازهری رحمه الله، ترجمه وتفسیر اعلی حضرت احمد رضاخان رحمه الله، احکام القرآن مولانان نعیم الدین مراد ابادی رحمه الله ،سني بهشتی زیور مفتی خلیل الرحمان برکاتی مولاناعالم فخری).

نوسیفیانوته یې خپل مشر ددومره لویو لویو بریلویانو دکتابونو دمطالعه کولو ترغیب ورکول بریلویت نه دی څه شی دی؟

(۵): دپیرسیف الرحمان صاحب ممتاز خلیفه علامه سیدعمردراز سیفی مشهدی په خپله رساله مجلة العلم ؛خواجه سیف الرحمان؛ (۲) صفحه کې لیکلي دي چې (به یادگار امام اهل السنة ، مجدد دین وملت ، پروانه شمع رسالت عظیم البرکت عظیم المرتبة حضرت علامه مولانا الشاه احمدرضاخان فاضل بریلو قدس سره) نتهی.

دبریلویانو دبنیاد گزار لپاره دومره القاب یوائې بریلویان استعمالوي.

(۶): دپیرسیف الرحمان خلیفه مطلق صوفی نثارالحق (خیاط)یو کتاب لیکلی دی په نوم د(اکرام الحق)ددې رسالې په (۲۸۴)صفحه کې یې داحمدرضاخان بریلوی دپلار نقی علی خان په باره کې داسې لیکلي دي چې (اعلی حضرت عظیم البرکت اعلم العلماء الربانین افضل العلماء الحقانین حامی السنن معجزة من معجزاة المرسلین ذی التصنیفات الرایقة والتحقیقات الفایقه والتدقیقات الشایقه تاج المحققین،سراج المدققین، اکمل الفقهاء المحدثین حضرت سیدنا الواجد، مجدالماجد،اطیب الاطایب مولانا محمد نقی علی خان محمدی ،سنی، قادری برکاتی بریلوی اکرام الحق صـ(۲۸۴) ناشر تبلیغ صوفیا دعوت الی الخیر کراچي.

دامولوی نقی علی داحمدرضاخان بریلوی پلاروو اودحجة الاسلام حضرت مولانا قاسم نانوتوی رحمه الله دکتاب (تحذیرالناس) په باره کې همده فتنه راپورته کړې وه.

(۷):دسیفیانو پیرطریقت شیخ العلماء میاه محمد سیفی حنفی ماتریدی په خپل یوبیان کې ویلي دي چې زمونږپیراوپیشوا حضرت مجدد العصرمحبوب سبحان سیدنا ومرشدنا اخندزاده سیف الرحمان پیرارچی خراسانی مبارک مدظله مونږته داحمدرضاخان په تعلیماتوپه سختي سره دعمل کولو هدایت کولو اوراته ئې ویل چې داحمدرضاخان دفکرعام کولو لپاره باید مکمل کوشش وشي[۱].

دبریلویانو په تائیدکې پیرسیف الرحمان دعلماء دیوبند اکابرینو دتکفیرقائل دی

(۸):په (انواررضا صفحه ۵۰)کې یې دپیرسیف الرحمان صاحب په مرکه (انټرویو)کې رانقل کړي دی چې: (اس کے باوجود جب میرے سامنے حفظ الایمان کی وہ عبارت جس میں رسول اکرم صلی اللہ علیہ وسلم کی علم کو پاگلون کے علم سے تشبیہ دی گئ تہی تو میں نے اس کے مصنف، قایل، مصدق و مصحح کو کافر قرار دیا اواسی طرح دیگر گستاخانہ عبارات کے قایل، مصدق، و مصحح کو کافر قرار دیا اور میرا آج بہی ہمیں فتوی ہے اور الحمدللہ میں کتاب (حسام الحرمین) کی بہی مکمل تائید کرتاہوں) انتهی.

دمولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله پورې بریلویانو افتراء کړې وه چې مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله دنبی علیه السلام دعلم تشبیه (معاذالله) دلیونیانودعلم سره ورکړې ده.

---

(۱): (اهم مقاله صــ (۱۸) استانه عالیه سفیه لاهور).

دبریلویانو ددې افتراء لپاره مونږ په احقاق الحق پنځم جلد کې جواب رانقل کړی دی، مولانا سرفرازخان صفدر رحمه الله په عبارات اکابرکې هم تفصیلی جواب لیکلی دی.

نوپیرسیف الرحمان دبریلویانو دغه اعتراض ته په اشاری سره وایې چې زه دحفظ الایمان مصنف (مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله) ته کافر وایم معاذالله.

بلکې (ټولو دیوبندیانو ته چې) ددې کتاب قائلین، مصدقین یامصححین دي کافران وایم او اوس مې هم همدا فتوی ده همدارنګه دحسام الحرمین هم پوره تائیدکوم.

حسام الحرمین هغه کتاب دی چې دټولو اکابرو ددیوبند تکفیریې په کې کړی دی.

دحسام الحرمین تائید ددیوبند د اکابرو تکفیردی نوپیرسیف الرحمان ددیوبند داکابرو دتکفیر قائل ؤ.

(۹): د(فقیر سیف الرحمان مبارک کا پیغام علماء ومشائخ اهل السنة کی نام) په (۴) صفحه کې یې هم دحفظ الایمان مصنف مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله ته کافرویلی دی همدارنګه ددې کتاب قایلینو، مصدقینو اومصححینو یعنې ټولو دیوبندیانو ته یې (معاذالله) کافران ویلي دي.

همدارنګه یې ددې کتاب په همدې (۴) صفحه کې دحسام الحرمین دکتاب تائید کړی دی.

دهمدې رسالې په (۶) صفحه کې یې هم ددیوبندیانو په تکفیر کې دحسام الحرمین تائید کړی دی.

(۱۰): دپیرسیف الرحمان خلیفه احمدعلی شاه سیفی کراچۍ والا هم په حسام السیفیه کې دټولو اکابرینو دديوبند تکفیر کړی دی ،او ویلي دي چې څوک ددوی په کفر کې شک کوي هغه هم کافر دی.

(۱۱):دسیفیانو بقیة السلف محمد عابد حسین سیفی په خپل کتاب (مجدد عصر حاضر شهنشاه خراسان) په (۹۳) صفحه کې دپیرسیف الرحمان صاحب په خپل لاس لیکلی خط نشر کړی دی .

په هغې کې یې تبلیغی حضراتو ته صراحتاً جبریه او کافران ویلي دي وګوره (شهنشاه خراسان صـ ۹۳ شعبه نشر واشاعت دارالعلوم جامعه جیلانیه ، نادرآباد، بیدیان روډ ،لاهور کینټ).

(۱۲): پیرسیف الرحمان دولایت اود بزرګی دعوه کړې ده هدایة السالکین صـ (۳۲۱).

او په (۸۵) صفحه کې یې لیکلي دي چې دولی څخه منکر کافر دی.

(۱۳): پیرسیف الرحمان تبلیغی حضراتو ته جبریه ویلي دي: (کچھ عرصہ نوشہرہ جامع مسجد دل ارام میں خطابت کے فرایض ادا کئے۔ وہاں فرقہ جبریہ کے تبلیغی جماعت کے اکثریت تھی انوار رضا ص۔ (۷۴).

او په همدې انواررضا صـ (۴۴) کې یې لیکلي دي چې :(عقیدہ جبریہ رکھنے والا کسی طور پر بھی مسلمان نہیں).

یعنې دجبریه عقیدی والاهیڅ مسلمان نه دی.

په هدایة السالکین (۹۵) صفحه کې یې لیکلي دي چې: (حالانکہ جبریہ وغیرہ فرق ضالہ مبتدعین اعتقادی ہیں اور ضروریات دین سے منکر اور کافر ہیں).

یعنې جبریه ددین دضروریاتو څخه منکر او کافر دي.

نوتبليغي حضراتو ته يې (معاذالله) كافروويلې.

په هداية السالكين (۹۴) صفحه کې يې ليکلي دي چې: (اور انكار ضروريات كى وجه سے كافر ہو جائے تو اس كى كفر ميں شك كرنے والا يا اسے مؤمن ٹھہرانے والا بھی كافر ہوتا ہے).

يعنې تبليغي حضرات جبريه دي او جبريه قطعي کافران دي او څوک چې داسې کافر ته کافر نه وايي مسلمان يې ګڼي او يايې په کفر کې شک کوي نو هغه هم کافر دی.

نوتبليغي حضراتو ته خويې (معاذالله) کافران ويلي دي لکن څوک چې تبليغي حضرات کافران نه ګڼي يا يې په کفر کې شک کوي هغوئ ته يې هم کافران ويلي دي.

حالانکې تبليغي جماعت د ديوبند شاخ دی جبريه نه دي.

تبليغي حضرات د نورو اهل السنة والجماعة په شان فرمايي: چې هر شی د الله تعالی په اراده کېږي ،او خالق الله تعالی دی کاسب بنده دی.

پير سيف الرحمان د حرمينو د امامانو په اقتداء کې لمونځ نه کولو

(۱۴): پير سيف الرحمان به د حرمينو د امامانو په اقتداء کې لمونځ نه کولو په (انوار رضا صفحه ۸۵) کې د پير سيف الرحمن د ځوی احمد سعيد وينا ده چې: (چونكى وه خود جيد عالم دين ہيں اس ليے حرمين شريفين ميں نجدى امام كے اقتداء ميں نماز نہيں پڑھتے) انتهى.

يعنې چونکې سيف الرحمان خپله ښه عالم دين وو لهذا په حرمينو شريفينو کې به يې د نجدی امام په اقتداء کې لمونځ نه کولو.

(۱۴): پیرسیف الرحمان دبریلویانوپه شان نبی علیه السلام حاضراوناظرګڼلو

دپیرسیف الرحمان خلیفه دسیفیانو استاذالعلماء مولاناغلام فریدهزاروی سیفي رضوی یوه رساله لیکلې ده په نوم د(معروضات الحاذق فی خدمۃ مولانا صادق).
دهغې په (۱۲) صفحه کې یې لیکلي دي چې:(بلکہ میں مسمّٰی غلام فرید سیفی ہزاروی نے ایک موقع پر سرکار مبارک سے دوران گفتگو پوچھا کہ کیا حضور صلی اللہ علیہ وسلم حاضر وناظر ہیں؟ کیا یہ عقیدہ صحیح ہے؟ توآپ نے تصدیق فرماتی تھی کہ ہاں بالکل حضور صلی اللہ علیہ وسلم حاضر وناظر ہے)
یعنې مایوه ورځ دپیرسیف الرحمان نه پوښتنه وکړه چې آیانبی علیه السلام حاضروناظردی؟ هغه راته وویل چې هونبی علیه السلام حاضروناظردی.
(۲):دسیفیانو مصنف اعظم مولانا غلام ریس صاحب محمدی سیفی یومستقل کتاب لیکلی دی په نوم د(حاضروناظر محبوب)یعنې (ہمارانبی حاضروناظر ہی)[۱].

فانقیل:چې پیرسیف الرحمان په هدایة السالکین (۸۴) صفحه کې لیکلي دي:چې زه نه دبریل اوسیدونکی یم نه دبریل مرید یم نه دبریل شاګرد یم اونه دبریل مقلد یم انتهی.
نوپه څلور حیثیاتویې دځان څخه بریلویت نفی کړی دی.
قلنا:متعارف بریلویان په دغه مذکورو څلورو حیثیاتو بریلویان نه دي؛بلکې بریلویان هغو ته وایې چې عقیده اوعمل یې دبریلویانو وي اوپیرسیف الرحمان ددې څخه نفی نه ده کړې، پیرسیف الرحمان اونورسیفیان ددیوبند داکابرینو

---

(۱): مطبوع مکتبه محمدیه سیفیه راوی ریان حسین ټاون جی ټی روډ لاهور.

دتكفيرقائل دي، همدارنګه داحمدرضاخان تائيديې هم کړی دی، همدارنګه عقائديې دبريلويانودي، همدارنګه اعمال يې دبريلويانودي، نوپه دغو ټلوروا ړوحيثياتوسيفيان بريلويان دي.

(۲): دپيرسيف الرحمان داخبره مخکينۍ ده چې کله په خيبر پښتونخواکې اوسېدلو دلته چونکې دبريلويت څخه نفرت عام دی نوددې لپاره چې بزنس يې خراب نه شي نودلته يې داويلي دي لکن چې کله لاهورته لاړو نوبيا يې په ښکاره دبريلويت إقرارکړی دی لکه مخکې چې متعددې حوالې ذکرشوې.

(۱۵)چلينج

(۳):سيفيانوته چلنج ورکوم چې ستاسو مشر پيرسيف الرحمان داحمد رضاخان بريلوی څومره صفتونه کړي دي لکه مخکې چې ذکرشو تاسو دپيرسيف الرحمان دخولې څخه دديوبند داکابرو مولانا قاسم نانوتوی رحمه الله ، شيخ الهند رحمه الله ، مولانا رشيداحمدګنګوهی رحمه الله ، مولانا خليل احمد سهارنپوری رحمه الله ، مولاناذکريا رحمه الله اودمولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله وغيره... اکابرو صراحتاً يوصفت ثابت کړئ.

د پیر سیف الرحمن دعوی

اوله دعوه: زما په زرګونه مریدان او خلیفه ګان اولیاء دي[۱].

زما تقریباً اته زره خلیفه ګان دي او ټول کامل او مکمل اولیاء دي، او ددوی د ولایت څخه انکار کفر دی[۲].

(۱): تبصره: ستا د مریدانو او خلیفهګانو ولایت او بزرګي د کوم آیت، کوم حدیث، کومې اجماع او کوم قطعی دلیل څخه ثابت دي؟ چی انکار يې کفر شي د ولایت شخصیه غیر منصوصه څخه انکار ته چا کفر ویلی دی؟

دوهم: د پاکستان او افغانستان ټول مستند مدارس او مستند مفتیان سیفیان نه اهل سنت والجماعت ګڼي، او نه یې صحیح صوفیان ګڼي نو ایا د ټول "معاذ الله" کافران دي.

دوهمه دعوه: پیر سیف الرحمن د اخص الخواص اولیاء وو څخه دی[۳].

په زرګونو نیک خوبونه او حق کشفونه او رحمانی الهامات داسی موجود دی چی ددی فقیر په مجددیت او حقانیت باندی شاهد دي[۴].

(۲): تبصره: الله تعالی فرمایلي دي چې: (فلا تزکوا انفسکم هوا علم بمن اتقی).

د پیر صاحب دا دعوی تعلی تکبر او نفسانیت دي.

---

(۱): هدایت السالکین ص(۲۵۹).

(۲): هدایة السالکین ص(۲٦۰).

(۳): هدایه السالکین ص (۱۷٦).

(٤): هدایة السالکین ص (۲۹۹).

نوهم: حضرت مجدد الف ثاني فرمايلي دي چې: (الهام و کشف بر غير حجت نيست)[1].

نو د سيفيانو خوبونه او کشفونه څرنګه حجت شو؟

دريم: د مجدد لپاره دعوی نه ده ضروري کنه هر سړی به ځان ته مجدد وايي.

دريمه دعوه: په پيری، او بزرګی کې يې د مقابلې چلنج کړی دی.

(عندالارتهان تعرف السوابق کی مضمون پر ميدان سے معلوم ہو سکتا ہے)[2].

تبصره: د معجزاتو صدور د انبياوو څخه د معارضې، تحدی او چيلنج په طريقه وي او د کراماتو صدور د اولياوو څخه بغير د معارضې، تحدی، او چيلنج څخه وي په خوارقو کې منکر ينو ته چيلنج د نبوت خاصه ده، نو دپير صاحب په ولايت کې چيلنج په باطن کې د نبوت دعوه ده.

څلورمه دعوه

(۱): زما خليفه حضرت روحاني صيب په يوه ساه د قران ختم او لس زره ځله لااله الا الله لوستلی شي[3].

---

(۱): مکتوباتشريف ص (۸۹).

(۲): هداية السالکين ص (۱۵۲).

(۳): ص (۱۷۸).

(۲): د سیف الرحمان مریدان او خلیفه ګان د سیف الرحمان د علومو او کمالاتو واضحه نمونه ده[۱].

(۳): زه ځکه مجدد یم چې زما ټول مریدان عمامه په سروي او د ډوډۍ په اول او اخر کی مالګه څټيي[۲].

(۴): د (ان اولیاءه الا المتقون) صحیح مصداق سیفیان دي[۳].

(۱): تبصره: یو طرف ته یې تکبر او تعلی ته ګوره چې زما د مریدانو دغه حال دی نو خپله د سیف الرحمن به څه حال وي ؟

دوهم: عمامې په سر کولو ته یې د مجددیت علامه ویلې ده نو د افغانستان د قندهار، هلمند ،زابل، رزګان، غزنی وغیره ولایتونو مسلمانان بیا ټول مجددین شو ،ځکه هلته اوس هم غټې او واړه ټول عمامه تړي؟

همدارنګه د پنجاب بیربیري (بی ریشن) خلک هم عمامه تړي نو ایا دا هم ټول مجددین شو.

دریم: او د ډوډۍ څخه مخکې او وروسته د ثواب په نیت د مالګې څټل بدعت دی، او پدې باره کې حدیث موضوعی دی یو د مالګې والا د ځان څخه جوړ کړی دی.

---

(۱): ص (۱۷۸).

(۲): ص (۳۰۰).

(۳): ص ۱۷۸.

(وفي اللالى ياعلى عليك بالملح فانه شفاء من سبعين داءٍ لايصح فيه عبد الله بن احمد بن عمرو وهو وابوه يرويان عن اهل البيت نسخةً كلها باطلة وفيه العلاء يضع اللالى المضنوعة فى الاخبار الموضوعة)[1].

څلورم: چې د(ان اولياءه الا المتقون)صحيح مصداق سيفيان شو، ددېڅخه خود الازمه شوه چې غير سيفي ددې اى يت مصداق نه دى، نور ټول صوفيه كرام قادريان، چشتيان،سهروردیان وغيره..يې ددى ايت د مصداق څخه خارج كړل.

پنځمه دعوه: خولۍ په سر كول يا لوڅ سر ګرزيدل كفر دى.

په (۱۴۴) صفحه كېږې ليكلي دې چې:عمامه سنت دائمه "مستمره" لازمه او متواتره قطعيه دى.په۱۴٦صفحه كې يې ليكلي دي چې صرف خولۍ په سر كول يا لوڅ سر ګرځېدل د كافرانو شعار دى.

په ۱۴۵ صفحه كېږې ليكلي دي چې: د كفارو شعار خپلول حرام بلكې په كفر كې دداخېلېدلو سره مترادف دى.

(۱): تبصره: ددنيا اكثرو مسلمانانو ته يې كافران ويلي دي.

دوهم :كوم سيفيان چې صرف د پير صاحب د ملاقات لپاره عمامه په سر كوي او په عامو حالاتو كې خولۍ په سر كوي يا لوڅ سر ګرځي هغوى ته يې هم كافران ويلي دي.

دريم: نبى عليه السلام فرمايلي دي چې(بيننا وبينهم الصلوة فمن تركها فقد كفر).ترڅ سيفيان وائى چې بيننا وبينهم العمامة فمن تركها فقد كفر.

څلورم: فقهاوو عمامې ته سنت زائده ويلي دي.

---

(۱): الموضوعة. ص ۱۴۱ وتذكره الموضوعات ص ۳۰۳.

شپږمه دعوه: په ټوله دنیا کې د شریعت او د سنت صحیح تابعدار ان فقط سیفیان دي[1].

د احیاء سنت او اماتت بدعت یو اځنۍ نظاره په خانقاء سیفیه کې ده[2].

(۱) تبصره: د حصر صیغه ئې ذکر کړې ده، نو د مفهوم مخالف په طریقه نه بلکې صراحتاً یې نورو ټولو مسلمانانو، ټولو صوفیه کرامو او ټولو مشائخو ته بدعتیان وویل.

دوهم: تاسو تجربه وکړئ په سیفیانو کې به اتباع د سنت نه بلکې صرف بد اخلاقي بدزباني، تکبر، رعونت، نفرت، شحونت، کنزلي، بزنس، او رقص وګورئ.

اوومه دعوه (۱): پیر سیف الرحمن د غوث پاک رحمه الله څخه شپږ درجې اوچت دی، غوث پاک مجدد وو، او پیر سیف الرحمن مجدد افخم دی، او د پیر سیف الرحمن مقام د پیران پیر صاحب څخه اوچت دی[3].

تبصره: دلته یې د پیران پیر رحمه الله ډیره بې ادبي کړې ده.

پیر سیف الرحمان یې په کورسۍ کینولی دی او پیران پیر صاحب ئې د مسجد په کونج کې ودرولی دی.

(۲): پیر سیف الرحمان ته یې لمر او غوث پاک رحمه الله ته یې سپوږمۍ ویلې ده.

---

(۱): ص (۱۷۸).

(۲): ص (۳۰۱).

(۳): ص (۳۲٤تا۳۲۵).

(۳):د غوث پاک رحمه الله څخه یې سپوږمۍ جوړه کړې ده او په پیر سیف الرحمن کښې جذب کړې ده.

(۴):د غوث پاک رحمه الله څخه ئې سپوږمۍ جوړه کړې ده، او په ځمکه پې ایښې ده او د پیر سیف الرحمن څخه ئې لمر جوړ کړی دی او اسمان ته یې خیژولی دی.

(۵):غوث پاک ته یې صرف مجدد ویلی دی او پیر سیف الرحمن ته یې مجدد افخم یعنی د لویې مرتبې مجدد ویلی دی.

(۶):غوث پاک یې صرف د عبدیت په مقام فایز کړی دی،او پیر سیف الرحمن یې ور څخه شپږ مقامه اوچت کړی دی په اخر کښې تصریح کړی ده چې د پیر صاحب مقام د غوث پاک د مقام څخه اوچت دی.

(۷): د عبدیت څخه اوچت مقام د اولیاءو نشته حضرت مجدد الف ثانی رحمه الله فرمایلی دی چې(در درجات ولایت فوق عبدیت مقامی نیست[۱].

(۸):د عبدیت څخه د اوچتو مقاماتو نومونه کوم کوم دی ؟

اتمه دعوه: پیر سیف الرحمان په دنیا کې ولي دی او په آخرت کې به نبي شي[۲].

پیر سیف الرحمان دا د خپل خوب تعبیر گرځولی دی.

(یہ خوب واضح طور پر فقیر کے خواب کی تعبیر ہے)

نهمه دعوه: د پیر محمد چشتی د اعتراضاتو تصدیق کونکی کافر دی[۳].

---

(۱):مکتوب نمبر (۳۰ ج ۱)،مکتوب نمبر (۲۸۵).

(۲):هدایة السالکین صــ (۳۲۷).

(۳):صــ(۲٤۷).

لسمه دعوه: په پیرسیف الرحمان دروغ تړونکی کافردی اودسیفیانوپه وجد اعتراض کونکی کافردی[1].

تبصره: په یومشخص پیرباندې اعتراض کونکی ته کوم مفتی اوپه کومه فتاوی کې کافرویلي دي؟

په یومشخص پیرباندې اعتراض کونکي ته کومې فتاوی کافرویلی دی.

وروسته به په لسهاوو عبارات دحنفي فقهې ذکرکړوچې رقص الصوفیه ته یې حرام ویلی دی.

یوولسمه دعوه: پیرسیف الرحمان راروانوخوبونوته په خپله بزرګۍ ظاهري حجج ویلي دي[2].

لهذا دخوب واقعات یې داسې ګڼلي دي لکه دویښې.

لهذاپه خوب کې امام الانبیاء والی یې داسې دی لکه دویښې.

پیرسیف الرحمان دنبی علیه السلام په موجوده ګۍ کې ټولوانبیاوو او اولیاوو ته امامتي ورکړه[3].

ابوبکرصدیق رضی الله عنه اوعبدالرحمان بن عوف رضی الله عنه یوځلې دعذرپه صورت کې اوپه اول کې دنبی علیه السلام په عدم موجوده ګۍ کې امامتي ته مخکې شویوو. لکن پیرسیف الرحمان بې عذره اودرسول الله صلی الله علیه وسلم په موجوده ګۍ کې امامتي ته مخکې شوی دی.

---

(۱): صـ (۲٤۷).

(۲): صـ (۳۲۹).

(۳): صـ (۳۲۹).

دولسمه دعوه: پیرسیف الرحمان درحمان په جزء کې دالله جل جلاله سره شریک دی[1].

دیارلسمه دعوه: پیرسیف الرحمان دبدرپه جنګ کې دنبی علیه السلام دتورې روح ؤ[2].

نبی علیه السلام پیرسیف الرحمان ته سوال وکړو چې زما أمت ګناهګاردی ته کوشش وکړه[3].

د پیر سیف الرحمان په خلاف د مستندو مدارسو او مفتیانو حضراتو فتوی

(۱):د پیر سیف الرحمن تصنیفاتو ده لره په عوض د مصلح کېدلو مفسد جوړکړي دي او دده اسلام یې مشکوک کړی دی په ټول اهل اسلام فرض ده چې دده بیعت واپس کړي، او دده مقابله وکړي، او حکومت دې ئی ګرفتار کړي.

بیـــان مفتي محمد فرید صاحب اکوړه خټک.

(۲):دې ګمراه پیر سیف الرحمن تبلیغی جماعت ته کافر ویلي دي او مسلمان ته بلا دلیله کافر ویل پخپله ویونکی په څوواره کافر دی او د اسلام خارج دی.

بیـــان ډاکټر فدا حسین مبلغ اسلام بالاماړی پشاور.

(۳):پیرسیف الرحمن ته دتوبې دعوت ورکړلشي او که توبه نه کوي نو دده لپاره هغه سزاده کومه چې دزندیق ده.

بیـــان دعبد المالک شیخ الحدیث منصوره لاهور.

---

(۱):صـ (۳۲۸).

(۲):صـ (۳۲۸).

(۳):صـ (۳۳۲).

(۴):پیر سيف الرحمن لو يو عالمانو د اسلام مشاهير علماء كرام او پاكو مسلمانانو ته كافران ويلي دي د حديث مطابق دى پخپله كافر او د اسلام څخه خارج شوى دى۔

بيان د مفتى غلام صديق يكه توت پښاور۔

(۵):فرقه سيفيه يو گمراه او د حق دښمنه طائفه ده ،په هر مسلمان فرض ده چې ځان ترېنه وساتي او مقابله يې وكړي۔

بيـــان د مفتى سراج الدين صوابى۔

(۶): پیر سيف الرحمن او دده مريدان ضال او مضل (گمراه او گمراه كونكي) دي اسلام څخه وتلي دي دا دامت لپاره يوه لويه فتنه ده۔

بيان د محمد ايوب جان بنورى دارلعلوم سرحد پشاور۔

(۷):مندرجه بالامفتيانو او علماؤ كرامو د فتوا تائيد كوم او دپیر سيف الرحمن عقائد او اعمال د شريعت اسلام څخه خلاف دي او دى د مسلمانانو دپاره دگمراهى سبب گڼم

بيان د شيخ الحديث مولانا حسن جان رحمه الله

(۸):پیر سيف الرحمن د اسلام څخه خارج دى او دده قتلول واجب دي، حكومت دې دى قتل كړي يا دې دپاكستان څخه وباسي۔

بيان د مفتى محمد دينگل بهار۔

(۹):پیر سيف الرحمن يقينا او بلا شبهة ددين اسلام خائن او دښمن دى د هدايت په نامه عوام گمراه كوي بايد چې د وطن نه خارج كړلشي۔

بيـــان د مولانا عبد الرحيم جيتي روډ پښاور۔

(۱۰):داسي شخص هېڅکله د الله ولی نه شي کېداب بلکې ګمراه او سخت مجرم دی دده څخه ځان لیری ساتل پکار دي.

بیـــان دمفتی عصمت الله کراچی.

(۱۱):ددین بزرګان او دامة علماء داسلام څخه خارج مقررول پخپله د اسلام څخه خارج دي

بیان دپیر سباق حافظ بشیر احمد حفظه الله

(۱۲):پیـــر سیـــف الرحمن مکتوبات او تألیفات د خرافاتویوه مجموعه ده، او دی داسلام څخه بالکل خارج دی.

بیان دصبیح الدین صاحب حق صاحب چارسده.

(۱۳):بلاشبه پیرسیف الرحمان دجال دی اومسلمانان ګمراه کوي دقادیانیانو څخه زیات مفسد دی باید چې بندي خانه کې واچول شي یابه دار وځړولشي.

بیان دمولوی نعمت الله شیخ الحدیث کوهاټ:

(۱۴):دفرقه سیفیه عقایده او نظریات فرقه اغانی خانی سره مطابق دي چه ضال او مضل او کافر دی.

بیـــان دمفتی محمد اقبال مدرسه نصرالعلوم ګوجرانواله

(۱۵):دا پیـــر سیـــف الرحمن پیر نه دی بلکې په حقیقت کې دجال او مرتد شوی دی باید چې دعلاقي څخه وایستلشي.

بیـــان دمفتی محمد سردار

(۱۶):دپیـــر سیـــف الرحمن حرکات د شریعت او مذهب څخه بالکل خلاف دي دده سروهل پکار دي.

بیـــان دقاضی الله تمیرګره سوات

(۱۷):مونږ د سرحد علماء فتوا تائید کوو دغه پیـــر سیـــف الرحمن گمراه او گمراه کونکی دی باید د ملک څخه وایستلشي.

بیـــان د مفتی مشتاق احمد بنوریټاون کراچی.

(۱۸):داپه دجالي او فریب او مخصوص جادو په ذریعه مسلمانان گمراه کوي.

بیان د مفتی عبدالله

(۱۹):د پیـــر سیـــف الرحمن په باره کې د مفتی فرید احمد صاحب رایه دلمر په شان روښانه ده ددې گمراه څخه اجتناب واجب دی.

بیان د مفتی مزمل شاه مردان.

(۲۰):ددې جعلي پیـــر سیـــف الرحمن په کفریاتو سکوت کول بې دیني او دالله ج او رسول ﷺ څخه دبغاوت ښکاره دلیل دی.

بیـــان د شیخ الحدیث محمد حسن دارلعلوم اتمانزیی چارسده.

(۲۱):دپیـــر سیـــف الرحمن مکتوبات په عوض داصلاح په مسلمانانو کې د فساد خورولو ذریعه ده بلاشبه داسلام څخه خارج او کافر دی دملک څخه وایستلی شي.

بیـــان د مفتی محمد احمد شیـــرگړه.

(۲۲):دپیـــر سیـــف الرحمن عقائده گمراه کوونکي دی په عوض دمصلح مسفد جوړشوی دی او داسلام د دائرې څخه وتلی دی.

بیـــان د مولانا بجلیگهر صاحب رح.

(۲۳):ددغه گمراه پیر په بارکې د علماوو کرامو فتوا تائید کوم او فتوی حق گنم

بیـــان د مفتی محمد نعیم خطیب کوهاټ

(۲۴): مسلمانانو ته کافر ویل پخپله کافر دی، او ددغه پیر منونکي او ددې عقیدې ته صحیح ویلو والاهم کافر دی.
بیــان د محمد خبان پراچه ټاون کراچي.

(۲۵): ددغو کفري عقائدو پیــر سیــف الرحمن اسلام مشکوک دی باید حکومت یې گرفتار کړي او د ملک څخه یې وباسي.
بیــان ددین اظهر حقاني زرگړی کوهاټ.

(۲۶): موږ دبلوچستان ټول علماء دسرحد دعلماء دفتوا تائید او تصدیق کوو چه پیــر سیــف الرحمن کافر او زندیق دی خپل معتقدین دې ورڅخه دبیزاري اظهار وکړي ورنه هغه کافر دی، جواب ورکوونکی پخپله فتوا کی صادق دي دحق پیر وی باید وکړهشي.
بیــان د مولانا عبدالمجید مدرس مدرسه عربیه خیرالمدارس کویټه

(۲۷): جعلي پیــر سیــف الرحمن پخپله او دده مریدان ټوله گمراهان دي، او نور خلک هم گمراهان کوي ټول مسلمانان دېځانونه ددې فتنې څخه وساتي خصوصاً دیني طالبان دې دده څخه اجتناب وکړي دوی دطالبانو داسلامی تحریک پټ دښمنان دي.
بیــان د قاری مهرالله مفتی سیــف الرحمن دیوبندی مدرسه تجوید القران.

(۲۸): داجعلي پیــر سیــف الرحمن رسائل زما او زماد اعتمادو رفقاوو په نظر دلغویاتو، هزلیاتو او کفریاتو علاوه نورهیڅ نه دي نو په دې سبب باید ټول مسلمانان دده دکتابو او عقائدو څخه ځان وساتي.
بیــان د مفتی جامعه بحرالعلوم کویټه العبد عبدالستار گلستانی.

(۲۹):پیرسیف الرحمان عام مسلمانانو او دیني جماعتوته کافر ویلي پخپله کافردی، کومو علماوو چې دده په باره کې فتوی ورکړیده زه د هغو تائید او تصدیق کوم.

بیــانونه دمولانا عبدالستار شاه،مولانا سید محمدطاهر،مفتیګل حسن صاحب

(۳۰):دغه جعلی پیــر سیــف الرحمن پیر نه دی بلکه ضال او مضل دی د اسلامي حکومت فریضه ده چې داسې ګمراهان بر سر عام په دار وځړول سی.

بیــان د حافظ خیر محمد مدرسه خیر المدارس.

(۳۱):پیــر سیــف الرحمن دخپلو موجوده عقائدو په وجه ګمراه دی، د زندیق شرعي سزا دې ورکړلشي داسې دقادیانیانو په طریقه سره ددجال تشهیر کوي.

بیــاندمولانا انوارالحق خطیب مرکزی جامع مسجد کوهټه

(۳۲):دا جعلی پیر ضال ومضل دی دده څخهځان ژغورل او دده ګمراهي مسلمانانوته باید څرګندهشي دادعلماء حق فریضه ده.

بیــان داحقر مولانا عبدالباقی مدرسه مفتاح العلوم.

(۳۳):دا جعلي پیرګمراه دی ټوله مسلمانان دده فتنې څخه ځان وساتئ.

بیــان دمولانا رسول شاه جامعه بحرالعلوم کویټه

(۳۴):خادمان دین متینی ټول په یوه قلم کافرکول د عقل په نزد مفتی پخپله کافر کیږي شرعي فتوای لاخپل پر ځای.

بیــان دمولانا محمد یعقوب شرودی جامعه رشیدیه کوټــه

(۳۵):من کفر مسلما فقد کفر.

دوهمه مسئله

دسيفيانو رقص اوګډا

فائده: تصوف ته په قران اوحديث کې احسان اوتزکيه وايي.

اود وجد تعريف علماوو داسې کړی دی چې الوجد مايصادف قلبک ويرد عليک بلاتعمد وتکلف[1].

وجد: بې چينۍ، دزړه نرمۍ، دپوستکي د: بګيدلو، دسکوت، سکون دژړا اوبې هوشۍ هغو حالاتو ته وايي چې په زړه باندې بې اختياره وارد پېږي سبب ورته اکثر دالله تعالی څخه ويره اوخوف وي، کله غلبه دحزن اوکله غلبه دخوشحالۍ وي.

امام قشيری ليکلی دي چې: (وکل وجد فيه من صاحبه شئ فليس بوجد)[2].

اختياری حالات جوړول وجد نه دی انتهی. (ولايحل الااذا صارت الحرکات کحرکات المرتعش)[3].

په وجد کې دصوفی حرکات داسې وي لکه دمرتعش په فتاوی تاتارخانيه کې دي چې (ومن اباحه من المشائخ ذلك الذی حرکاته کحرکات المرتعش، وقال السری: شرط الواجد فی زعقته أن يبلغ الی حد لوضرب وجهه بالسيف لايشعر فيه بوجع[4].

دواجد شرط دادی چې په مخ يې په توره ووهې نوچې هم په درد پوه نه شي.

حجل: دډېرې خوشحالۍ څخه په يوه پښه دخپل ځای څخه ولاړېدلو ته وايي.

(۱): الرسالة القشيرية ص (۹۷).

(۲): الرسالة القشيرية ص)۹۷).

(۳): الصاعقة المحرقة ص (٥٦).

(٤): الصاعقة المحرقة ص ۲۹، شامی ص ٥۷۷)

دوجد ،جذب اود حجل حالات دائم نه وي بلکې په سلفو باندې کله کله دبې هوشی، ژړا، دپوستکي زیګیدلو وغیره حالات راغلي دي.
په بعضو په ټول عمرکې فقط یوځل یادوه ځل موقتا داسې کیفیات راغلي دی.
دسیفیانو بریلویانو رقص او ګډا دصوفیه کرامو وجد اوجذب نه دی بلکې ددوی وجد دلاندې امورو مجموعه ده:
(۱):په قصد اوتکلف سره دتیونو او اوګو خوزول.
(۲):په خپل اختیار دکلابو په شان أو، أو اوغیږدل.
(۳):په خپل اختیار په یوبل بالخصوص په أمردانو (لغړزنو) غورځېدل.
دمسجد دستنې اوددیوال څخه ځان بږ کولی شي لکن په امردانو(لغړزنو) ورغورځېږي اوپه لغړزنو دورپریوتلو څخه ځان نه شي بچ کولی.
(۴):سرونه غورزول زګونه کول.
(۵):ښکته پورته کېدل.
۶-ددروغو څخه قصداً په ځان داسې کیفیت راوستل لکه پیریانو چې نیولی وي حالانکې دبس یا ددیوال په سرورباندې داسې کیفیت نه شي راتلی.
۷-همداسې ګډېدل او ګډېدل،حالانکې په وجد اوحجل کې دوام نه وي.
۸-او داهرڅه دالله جل جلاله له وېرې نه وي بلکې داهرڅه دجاهلو پیرانو ددستمال دخوزلو مرهون منت وي.
منشأ ورته دجاهل پیر اشارې اودستمال خوزول وي.

د سيفيانو د رقص بنياد چا ايښی دی؟

(۱):د دغو نام نهادو صوفيانو د رقص بنياد شيطان ايښی دی.

امام قشيری رحمه الله " المتوفی سنه ۴۶۵" ليکلي دي چې ابو الحارث الأولاسي الصوفي فرمايلي دي چې يوه ورځ مې په خوب کی شيطان وليدو چې ښي او چپ طرف ته يې ډلې ډلې خلک ولاړ وو.

نو يوې ډلې ته يې وويل چې (ارقصوا،فرقصوا اطيب ما يكون ثم قال لی يا ابا الحارث ما اصبت شيأ اخل به عليكم الا هذا)[1].

رقص وکړئ هغوی رقص وکړو بيا شيطان ابو الحارث ته وويل چې صرف ددې رقص له لارې به تاسي گمراه کوم.

(۲):علامه قرطبی رحمه الله فرمايلی دی چی درقص الصوفيه بنياد سامری ايښی دی،(واما الرقص والتواجد فاول من احدثه اصحاب السامری لما اتخذ لهم عجلاً له خوار قاموا يرقصون حواليه ويتواجدون فهو دين الكفار وعباد العجل)[2].

درقص او تواجد بنياد سامري ايښی دی کله يې چې ورته د زيوراتو څخه خوسی جوړ کړو نو سامريانو ترې گير چاپيره رقص او تواجد شروع کړو.

(۳) :الشيخ محمد بن صفی الدين الحنفی الشامی رحمه الله (المتوفی سنه ۱۲۰۰ هـ)ليکلي دي چې (اليهود اول من احدثوا السماع والرقص)[3].

درقص الصوفيه بنياديهودو ايښی دی لکه څنگه چې دقرطبی په حواله د سامريانو ذکروشو.

---

(۱):الرسالة القشيرية ص ۳۷۷ باب السماع.

(۲):قرطبي سورة طه اية نمبر(۱٤۲).

(۳):الصاعقة المحرقة على المتصوفة الرقصة المتزندقة ـص(۳۷).

دتصوف په نوم ددې رقص په خلاف
لیکل شوي کتابونه

دتصوف په نوم ددغو رقاصانو په خلاف دېر کتابونه لیکل شوي دي یو څو یې دا دي:

(۱): ذم السماع: لابی الطیب الطبری.

(۲): کف الرعاع عن محرمات اللهو والسماع: لأبی العباس الهیثمی رحمه الله.

(۳): رسالة فی حکم السماع: للشیخ علی النوری رحمه الله.

(۴): جزء فی تلبیس ابلیس: لابن الجوزی رحمه الله.

(۵): جزء فی تحریم السماع: للآجری رحمه الله.

(۶): نزهة الاسماع فی مسألة السماع: لابن رجب الحنبلی.

(۷): الکلام علی مسئلة السماع: لابن قیم الجوزی رحمه الله.

(۸): ذم الملاهی لابن ابی الدنیا.

(۹): الرهص والوقص لمستحل الرقص: للحلبی رحمه الله.

(۱۰): فتیا فی ذم الشبابة والرقص والسماع: لابن قدامه الحنبلی رحمه الله.

(۱۱): رسالة فی السماع والرقص: للشیخ محمد بن محمد المنجبی الحنبلی رحمه الله.

(۱۲): ألصاعقة المحرقة علی المتصوفة الرقصه المتزندقة للشیخ محمد بن احمد بن محمد ابو الفضل صفی الدین الحنفی الأثری الحسینی البخاری (المتوفی ۱۲۰۰ هـ.

دسيفيانو بريلويانو درقص اوګډا اجمالي حکمونه:

(۱):دغه رقص حرام دی[1].

(۲):دتصوف په نوم دغه رقص بدعت دی[2].

(۳):دتصوف په نوم ددغه رقص حلال ګڼونکی کافر دی[3].

(۴):دتصوف په نوم دغه رقاصان مردود الشهادة دي (شاهديې نه قبلېږي)[4].

۵-دتصوف په نوم دغه رقاصان دشراب خورو څخه هم بدتر دي[5].

۶ -دتصوف په نوم دغه رقص ګناه کبیره ده او حلال ګڼونکی يې کافر دی[6].

(۷):دتصوف په نوم دغه رقاصان دخرو په شان رمباړې وهي[7].

(۸):دتصوف په نوم دغه رقاصان دکفارو څخه هم زيات ګمراهان دي[8].

(۹):دتصوفپه نوم دغه رقصان زنادقه دي[9].

(۱۰):د تصوف په نوم دغه رقاصان ساقط المروةدي انسانيت په کې نشته دی[10].

---

(۱):شامی ج۱ ص ۳۰۷ بیروت.

(۲):البریقه ج۲ ص (۱۳۳).

(۳):شامی ج۱ ص (۳۰۷).

(٤):فتاوی ابی السعود ص (٤٧٦).

(٥):البریقه ج ۲ ص (۱۳۳).

(٦):البریقه ج۲ ص (۱۳٤).

(۷):البریقة ج۲ ص (۱۲۷).

(۸):البریقة ج۲ ص (۱۲۷).

(۹):عمدة القاری ج٦ ص (۲۷۱).

(۱۰):الامر بالاتباع ـص(۹۹).

(۱۱):د تصوف په نوم ددغه رقصانو په اقتدا کې لمونځ نه دی جایز[۱].

(۱۲):د تصوف په نوم رقص د کفارو او سامریانو دین دی[۲].

(۱۳):د تصوف په نوم ددغو رقاصانو عمل مردود، ملعون، غلط او باطل دی[۳].

(۱۴):د هغه چا شاهدی هم نه قبلیږی چې ددغه رقاصانو مجلس ته حاضریږي[۴].

(۱۵):په هغه ځای لمونځ نه دی جایز په کوم ځای کې چې ددغه رقاصانو رقص کړی وي تر څو ونه وینځل شي او یا یې خاورې ونه ویستل شي[۵].

(۱۶):دتصوف په نوم دغه رقص کوونکي اینسي شیطانان دي[۶].

د سیفیانو ددغه رقص په خلاف د حنفي فقهي عبارات(۱): په در مختار کی فرمایلي دی چی:(ومن يستحل الرقص قالوا بكفره)[۷].

علامه شامی رحمه الله ددی په تشریح کی فرمایلی دی چې:(المراد به التمايل والخفض والرفع بحركات موزونة كما يفعله بعض من ينتسب إلى التصوف. وقد نقل في البزازية عن القرطبي إجماع الأئمة على حرمة هذا الغناء وضرب القضيب والرقص. قال: ورأيت فتوى شيخ الاسلام جلال الملة والدين الكرماني أن مستحل هذا الرقص كافر، وتمامه في شرح الوهبانية. ونقل في نور العين عن التمهيد أنه فاسق لا كافر. ثم قال: التحقيق القاطع للنزاع في أمر الرقص والسماع يستدعي تفصيلا ذكره في عوارف المعارف وإحياء العلوم، وخلاصته ما أجاب به العلامة النحرير ابن كمال باشا بقوله: ما في التواجد إن حققت من حرج ولا التمايل إن أخلصت من بأس فقمت تسعى على رجل وحق لمن دعاه مولاه أن يسعى على الرأس.

---

(۱):البريقة ج ۲ ص (۱۳۷).

(۲):البريقة-ج۲ص(۱۳٤).

(۳):بلوغ المرام لمولانا عبد العلي الديوبندى ص(۲٤۲).

(٤):فتاوى ابى السعود -ص(٤۷٦).

(٥):البريقه-ج۲ص(۱۲۷).

(٦):الصاعقة المحرقة ص- (۲۲).

(۷):كتاب الجهاد ج٦ ص (۳۹٦).

الرخصة فيما ذكر من الاوضاع عند الذكر والسماع للعارفين الصارفين اوقاتهم الى احسن الاعمال ،السالكين المالكين لضبط انفسهم عن قبايح الاحوال فهم لا يستمعون الا من الاله،ولا يشتاقون الا له،ان ذكروه ناحوا وان شكروه باحوا، وان وجدوه صاحوا،وان شاهدوه استراحوا،وان سرحوا فى حضرة قربه ساحوا،اذا غلب عليهم الوجد بغلباته ،و شربوا من موارد ارادته،فمنهم من طرقته طوارق الهيبة فخر وذاب، ومنهم من برقت له بوارق اللطف فتحرك وطاب، ومنهم من طلع عليه الحب من مطلع القرب فسكر وغاب، هذا ما عن لى فى الجواب والله تعالى اعلم بالصواب).

د رقص څخه په موزونو حركاتو سره كړېدل را كړېدل ټيټيدل او جيګيدل مراد دي،لكه بعضى تصوف ته منسوب خلک يې چې كوي.

په فتاوى بزازيه كې د علامه قرطبى رحمه الله په حواله په دې خبره اجماع را نقل شوې ده چې دا غزلې، شپيلي وهل او رقص حرام دى او فرمايلي يې دي چې ما د شيخ الاسلام جلال الملة والدين فتوى ليدلې ده چې ددغه رقص حلال ګڼونكى ته يې كافر ويلى دى او ټول تفصيل په شرح الوهبانيه كې دى.

(تر دې ځاى پورې د شامى تحقيق خلاص شو).

بيايې وروسته د مجهولې تمريض په صيغه فرمايلي دي چې په (نور العين) كې د تمهيد څخه را نقل شوي دي چې د دې رقص حلال ګڼونكى فاسق دى او كافر نه دى بيايې فرمايلي دي چې د مسئلې د رقص او سماع لپاره قاطع تحقيق تفصيل غواړي، چې په عوارف المعارف او احيا العلوم كې يې ذكر كړى دى خلاصه يې هغه ده چې ابن كمال باشا ذكر كړې ده چې په تواجد كې ګناه نشته كه متحقق شي(اكثر نه متحقق كيږى "ان" د شک لپاره دى).

او نه په كړېدلو كى باک شته چې په اخلاص سره وي(اكثر اخلاص نه وي "ان" د شک لپاره دى).

ته ودریدلی پیاده منډی وهی او څوک چی مولا بللی وی پکار دی چی په سر منډی ووهي.

ددې اوضاعو رخصت عارفینو ته دی چې خپل اوقات یې په نېکو اعمالو کې مصرف کړي وي.

سالکین وي او خپل ځان د خرابو حالاتو څخه کنټرول کولی شي.

پس دوی، صرف د الله تعالی ته غوږ نیسی او صرف د الله تعالی شوق لري الخ.

د اتحقیق شامی دبل چا څخه د تمریض په صیغه را نقل کړ او په دې تحقیق کې هم د صوفیانو وجد ذکر دی د سیفیانو رقص یې نه دی ذکر کړی.

(۲): علامه شامی رحمه الله وروسته په کتاب الحظر و الاباحة کې یو ځاې د عدم جواز فتوی ورکړې ده فرمایي چې:(وفي الملتقى فقال): وعن النبی (ص) أنه كره رفع الصوت عند قراءة القرآن والجنازة والزحف والتذكير، فما ظنك عند الغناء الذي يسمونه وجدا ومحبة فإنه مكروه لا أصل له في الدين

قال الشارح: زاد في الجوهرة: وما يفعله متصوفة زماننا حرام لا يجوز القصد والجلوس إليه، ومن قبلهم لم يفعل كذلك، وما نقل أنه عليه الصلاة والسلام سمع الشعر لم يدل على إباحة الغناء. ويجوز حمله على الشعر المباح المشتمل على الحكمة والوعظ، وحديث تواجده عليه الصلاة والسلام لم يصح، وكان النصراباذي يسمع فعوتب فقال: إنه خير من الغيبة، فقيل له هيهات بل زلة السماع شر من كذا وكذا سنة يغتاب الناس. وقال السري: شرط الواجد في غيبته أن يبلغ إلى حد لو ضرب وجهه بالسيف لا يشعر فيه بوجع اهـ، قلت: وفي التاترخانية عن العيون إن كان السماع سماع القرآن والموعظة يجوز، وإن كان سماع غناء فهو حرام بإجماع العلماء، ومن إباحة من الصوفية، فلمن تخلى عن اللهو، وتحلى بالتقوى، واحتاج إلى ذلك احتياج المريض إلى الدواء. وله شرائط ستة: أن لا يكون فيهم أمرد، وأن تكون جماعتهم من جنسهم، وأن تكون نية القول الاخلاص لا أخذ الأجر والطعام، وأن لا يجتمعوا لأجل طعام أو فتوح، وأن لا يقوموا إلا مغلوبين، وأن لا يظهروا وجدا إلا صادقين.

والحاصل: أنه لا رخصة فی السماع فی زماننا، لان الجنيد رحمه الله تعالی تاب عن السماع فی زمانه اهـ.)[1].

دقرآن دقرأت په وخت آواز اوچتول همدارنګه دجنازې په وخت کې همدارنګه دکافرانو سره دجګړې په وخت کې اودوعظ په وخت کې مکروه دی.

نوستاڅه ګمان دی په آواز اوچتولو باندې دغزلو اودسندرو په وخت کې هغه چې دوی وجد اومحبت ورته وايې پس ښکه چې داعمل مکروه دی په دين کې هيڅ اصل نه لرې.

شارح فرمايلي دي چې په (الجوهرة) کېبې داخبره زياته کړې ده چې هغه عمل چې زمونږ دزمانې متصوفه يې کوي حرام دی ورتلل اوکيناستل ورته جائزنه دي.

اوسلفو دارنګه عمل نه دی کړی اوهغه روايت چې په هغې کې راغلي دي چې نبی عليه السلام شعر اورېدلی دی دغزلو په مباحوالی دلالت نه کوي همدارنګه يې جائز دي حمل کول ئی په مباحو اشعارو چې په حکمت او وعظ مشتمل وي او په کوم حديث کې چې نبی عليه السلام ته دتواجد نسبت شوی دی هغه حديث صحيح نه دی.

او نصرآباذی سماع کوله نوچاملامته کړو.

نصرآبازی ورته وويل چې سماع دغيبت څخه ښه ده نو په جواب کې ورته وويل شو چې هيڅ کله داسې نه ده بلکې دسماع شردڅوکاله غيبت څخه هم زيات دی.

حضرت سری فرمايلي دي چې په چاچې وجد راغلی وي دهغه لپاره شرائط دادي چې وجد به دومره بې اختياري وي اودومره به په ځان نه پوهېږي چې که چېرته يې په توره په مخ ووهې نوهم په درد پوه نه شي.اه

(۱):ص(۵۷۷).

زه وایم چې په تاتارخانیه کې دعیون په حواله راغلي دي چې که سماع، دقرآن یادوعظ سماع وي نوبیا جائز ده اوکه دغزلو سماع وي نوبیا په اجماع سره حرامه ده اوکومو صوفیه ووچې سماع ته جائزه ویلې ده نوهغه دهغه چا لپاره ده چې دله و اولعب څخه یې ځان خالی کړی وي اوپه تقوی یې ځانښکلی کړی وي اوسماع ته دومره محتاجه شوی وي لکه چې دواءته څومره محتاجه دی بیا ددی سماع لپاره شپږشرطه دي(۱):چې بېړیری (لغړزنی) به پکې نه وي.

(۲):تولبه دیو نظر والاوي یعنې صوفیان به وي (۳):چې نیت یې خالص دالله رضاوي. (۴):دروپو اوڅښناک نیت په کې نه وي.(۵):چې کله پاڅېږي نو مغلوب الحال وي.(۶):خپل وجد نه ظاهروي مګر رشتینی وي.

حاصل دخبرې دادی چې زمونږ په زمانه کې دسماع رخصت نشته ځکه چې جنید بغدادی رحمه الله په خپله زمانه کې دسماع څخه توبه ویستلې وه.

(۳):په فتاوی عالمګیری ج۵ ص ۳۱۹ کې یې د(الباب الرابع فی الصلاة والتسبیح وقراءة القرآن والذکر والدعاءورفع الصوت عند قراءة القرآن).

په آخر کې فرمایلې دي چې(رفع الصوت عند سماع القرآن والوعظ مکروه ومایفعله الذین یدعون الوجد والمحبة لااصل له ویمنع الصوفیة من رفع الصوت وتخریق الثیاب کذافی السراجیة).

دقرآن اود وعظ داوریدلو په وخت کې چیغې وهل مکروه دي اوهغه چیغی چې دوجد اود محبت دعوه کوونکي یې وهي په دین کې اصل نه لري اوصوفیه به دچیغو وهلو اودجامو شکولو څخه منعه کولی شي.

(۴):همدارنګه یې په عالمګیری ج ۵ ص ۳۵۲ دالباب السابع عشر لاندې لیکلي دي چې:

. (في اليتيمية سئل الحلواني عمن سمو أنفسهم بالصوفية واختصوا بنوع لبس لبسوه واشتغلوه باللهو والرقص وادعوا لأنفسهم المنزلة؟

فقال: "أفتروا على الله كذبا أم بهم جنة"

وسئل إن كانوا زائغين عن الطريق المستقيم: هل ينفون من البلاد لقطع فتنتهم عن العوام؟

فقال: إماطة الأذى أبلغ في الصيانة وأمثل في الديانة وتمييز الخبيث من الطيب أولى وأزكى وأولى.

كذا في التتارخانية "قال- رحمه الله تعالى- السماع والقول والرقص الذي يفعله المتصوفة في زماننا حرام لايجوز القصد إليه والجلوس عليه وهو والغناء والمزامير سواء، وجوزه أهل التصوف واحتجوا بفعل المشايخ من قبلهم، قال: وعندي أن ما يفعلونه غير ما يفعله هؤلاء، فإن في زمانهم ربما ينشد واحد شعرًا فيه معنى يوافق أحوالهم فيوافقه، ومن كان له قلب رقيق إذا سمع كلمةً توافقه على أمر هو فيه ربما يغشى على عقله فيقوم من غير اختيار وتخرج حركات منه من غير اختياره، وذلك مما لايستبعد أن يكون جائزاً مما لا يؤخذ به، ولايظن في المشايخ أنهم فعلوا مثل ما يفعل أهل زماننا من أهل الفسق والذين لا علم لهم بأحكام الشرع، وإنما يتمسك بأفعال أهل الدين، كذا في جواهر الفتاوى).

په فتاوى(اليتيمية) کې ليکلي دي چې دامام حلوانی رحمه الله څخه دهغو خلکو په باره کې پوښتنه وشوه چې ځانونو ته صوفيه وايې او دنورو خلکو څخه جدا خاص لباس يې وي او په لهوه او رقص مصروف وي.

او ځان لپاره دمرتبې دعوه کوي نو امام حلوانی رحمه الله ورته وفرمايل چې دغو صوفيانو دالله جل جلاله پورې دروغ تړلي دي، وايې چې الله تعالی مونږته درقص حکم کړی دی، حال داچې الله تعالی درقص حکم نه دی کړی، نو الله تعالی پورې دروغ وايې.

نه پوښتنه وشوه چې آيا که دغه صوفيان د مستقيمې لارې څخه کاږه روان يا دښارونو څخه به شړلی شي چې دعوامو څخه فتنه ختمه شي؟

نو امام حلوانی رحمه الله ورته وفرمایل چې هودغه رقاصان صوفیان وشړئ ځکه چې دلارې څخه ضروری شیان لرې کول دېرښه حفاظت دی اودېره ښه دینداري ده.

اوخبیث (رقاصان صوفیان) دطیب اوښو خلکو څخه جداکول ډېر پاکیزه اوبهترعمل دی.

مصنف رحمه الله فرمایلي دي چې زمونږ دزمانې متصوفه چې کومه سماع کوي غزلې وایې اورقص کوي حرام دی ورتلل اوکیناستل ورسره نه دي جائز.

اوددغو متصوفه وو سماع اورقص دسندرو اومزامیرو سره یوشان ته دی.

بیایې اعتراض رانقل کړی دی چې اهل تصوف خو دمتصوفه وو سماع اورقص ته جائزوایې.

دلیل یې دادې: چې مخکینیو مشائخو داعمل کړی دی نو مصنف رحمه الله جواب ورکوي چې زمونږ دزمانې متصوفه چې کوم عمل کوي هغه دمخکینیو مشائخو دعمل سره فرق لري، ځکه چې مخکې زمانه کې به کله یوشعر ولوستل شو په هغې کې به داسې معنا وه چې دشیخ دحال سره به موافقه وه نوچې دشیخ زړه به نرم وو بې هوشه به شوبې اختیاره به ودرېدلو اوغیر اختیاري حرکات به ترینه صادرېدل اودابعیده نه ده چې جائزه شي اودهغواعمالو څخه شي چې مؤاخذه ورباندې نشته، اوپه هغومخکنیو مشائخوباندې داګمان مه کوه چې هغوی زمونږ دزمانې دفاسقواوبې علمه متصوفه وو په شان سماع اورقص کړی دی اوبېشکه تمسک ددینداره خلکوپه عمل کېږي. انتهی

فائده: په دې عبارت کې یې ددې زمانې رقاصانو ته متصوفه ویلي دي داسې نه ده چې دصوفیه وو رقص ته یې جائزاودمتصوفه وو رقص ته یې ناجائزویلي دي بلکې رقاصانوته یې متصوفه ویلي دي.

نولهذا سیفیان رقاصان متصوفه دي دوهم داچې ټول مستندمدارس اومشائخ سیفیانوته متصوفه وايي،همدارنګه يې ورته بې علمه اوفاسقان ويلي دي اوددې زمانې رقص ته يې حرام ويلی دی.

(۵):په حاشیة الطحطاوی(۳۱۹)کتاب الصلاة فصل فی صفة الاذکار کې فرمايلي دي چې:(واماالرقص والتصفيق،والصريخ وضرب الأوتار،والصنج والبوق الذی يفعله بعض من يدّعی التصوف فانه حرام بالاجماع لانهازی الکفارکمافی سکب الانهر،وفی مجمع الأنهرعن التسهيل الوجدمراتب وبعضه يسلب الاختيارفلاوجه لمطلق الانکاروفی التتارخانيةمايدل علی جوازه للمغلوب الذی حرکاته کحرکات المرتعش اهـ)

رقص (ګډېدل)چکې وهل ، چيغې وهل ،رباب وهل اوبنګروهل هغه چې بعضې مدعيان دتصوف يې کوي نودا په اجماع سره حرام دی ځکه چې داد کفارو عمل دی.

اوپه مجمع الانهرکې يې دتسهيل په حواله ليکلي دي چې دوجد لپاره مراتب دي په بعضو مراتبوکې اختيارختم شي (نوددغه وجد څخه چې اختيارپه کې ختم شي) انکارنه دی په کار په فتاوی تاتارخانيه کې راغلي دي چې دهغه چاوجد جائزدی چې حرکات يې دومره بې اختياره وي لکه دمرتعش حرکات. انتهی

فائده:سفيانووغيره رقاصانو حرکات داسې نه دي لکه دمرتعش هغه په رقص کې ددېوال څخه ځان بچ کوي دمسجددستنې څخه ځان ساتي صرف په لغړزنو وزغورځي.

(۶):علامه ابن نجيم الحنفی رحمه الله فرمايلي دي چې:(وقال الامام شمس الائمه السرخسی ففی هذالحديث بيان کراهة رفع الصوت عندسماع القرآن والوعظ،فتبين به ان مايفعله الذين يدعون الوجد والمحبة مکروه لااصل له فی الدين وتبين به أنه يمنع المتشفة ومقی اهل التصوف ممايعتادونه من رفع الصوت وتمزيق الثياب عندالسماع لان ذلک مکروه فی الدين عندسماع القرآن والوعظ فماظنک عندسماع الغناء[1]).

[1] البحر الرائق ج ۵ صـ (۸۲).

الامام شمس الائمه السرخسي رحمه الله فرمايلي دي چې په حديث کې د قرآن
د تلاوت په وخت کې او د وعظ په وخت کې د اواز د اوچتولو څخه منعه راغلې ده
نو ددې څخه معلومه شوه چې جهلاء صوفيان چې د وجد لپاره الهي محبت کې
د تواجد دعوه کوي لپاره ددې بيان چې کوم حرکتونه کوي مکروه او ناجائز دي
نو ددې رنګ احمق صوفيان به د وجد او د محبت په نوم د چغو وهلو
او د صور شکولو څخه منع کولى شي ځکه چې دا اعمال د قرآن د تلاوت په وخت کې
مکروه دي نو د سماع په وخت کې به څرنګه جائز شي انتهى

(٢) قال في التتارخانية [illegible] من يستحل الرقص
قالوا بكفره [illegible]
د رقص او صوت په حلال ګڼلو سړى [illegible] کافر کېږي [illegible]

(٥) [illegible] على ضرب الدف بالقضيب [illegible]
[illegible]
[illegible] انتهى
قال [illegible] مراده من [illegible]
[illegible] في [illegible] الرقص والغناء [illegible] مراده من
[illegible]

[illegible] د قرآن لوستل [illegible] د قرآن په ادا کې [illegible] چې
[illegible] مجلس کې [illegible] په [illegible] مجلس کې دي [illegible]
لوستل کيږي چې د قرآن او د رقص [illegible] په کې راجمع شوي وي لکه [illegible]

[illegible]
[illegible]

اودنصاراوو په عبادتخانو کې چې نه لوستل کیږي ځکه چې په داسې مجالسو کې شيطانان راجمعه کيږي انتهى.

صاحب دحيات القلوب فرمايلي دي چې: دمجمع الشياطين دوه معناګانې دي.

اول داچې: جنى شيطانان مرادشيځکه چې جني شيطانان درقص اوغزلو مجلس ته رازي.

دوهم داچې: انسي شيطانان مرادشي اوانسي شيطانان دمتصوفه وو(رقص کونکو) نه عبارت دي اودغه متصوفه يعنى رقص کونکي دجني شيطانانو يعنې دابليسځخه بدتر دي.

(۹): وفى شرح الكنز للمولى العينى بعد ماذكر قوله عليه السلام: كل لعب ابن ادم حرام الاثلاثة: ملاعبة الرجل أهله وتأديبه فرسه ومناضلته بقوسه ,,,وهذان صريح فى تحريم الرقص الذى يسميه المتصوفه الوجدوسماع الطيب وانماهوسماع فيه انواع الفسق وانواع العذاب فى الاخره[1]. انتهى.

علامه عينیْ الحنفى رحمه الله دکنز په شرحه کې دنبى عليه السلام ددې حديث په تشريح کې چې: دانسانانو ټولې لوبې حرامې دي بغير ددغو دريولوبوځخه ,چى داس ټريننګ دی، دليندې ټريننګ دی اودخپلې بي بي سره لوبې دي ,,, اودابنکاره تصريح ده چې هغه رقص حرام دی چې متصوفه ورته وجد اوښه سماع وايې بې شکه چې په دې کې مختلفې نوعې فسق او مختلفې نوعې دآخرت دعذاب په کې دي.

(۱۰):علامه عينى الحنفى رحمه الله په شرحې دتحفه کې فرمايلي دي چې: (ويجب منع الصوفية الذين يدعون الوجد والمحبة عن رفع الصوت وتمزيق الثياب عند سماع الغناء لأن ذالك-اى رفع الصوت وتمزيق الثياب-حرام عند سماع القرءان,فكيف عند سماع

(۱):الصاعقة المحرقة ص(۲۲).

الغناء الذی هو حرام خصوصا فی هذا الزمان الذی اشتهر فیه الفسق وظهرت فیه انواع البدع واشتهرت فیه طایفة تحلوا بحلیة العلما, وتزیوا بزی العلماء, والحال ان قلوبهم ملئت من الشهوات الفاسدة, وهم فی الحقیقة ذئاب, نعوذ بالله من شرهم)(۱).

واجبه ده چې صوفيان دغزلو داوربدلو په وخت کې دچيغو وهلو اودجامو دشکولو څخه منعه شي, ځکه چې دقران داوربدلو په وخت کې چيغې وهل اوجامې شکول حرام دي، نودحراموغزلوداوربدلو په وخت کې به څرنګه نه وي حرام؟خصوصاً پدې زمانه کې چې فسق اوبدعتونه پکې ښکاره دي، او داسې خلک را ظاهر شوي دي چې شکلونه اولباس يې دعلماوو دی اوزړونه يې دفسق څخه ډک دي اوپه حقيقت کی ليوان دي, ددوی (رقاصانو صوفيان) دشر څخه الله تعالی ته فناه نيسو.

(۱۱):همدارنګه علامه عينی رحمه الله فرمايلي دي چې:(فالعجب منهم ان يدعون محبة الله ويخالفون سنة رسوله ' لانهم يصفقون بأيديهم 'ويطربون ويغنون ويصعقون'وكل ذلك جهل منهم، فمن ادعى محبة الله وخالف سنة رسول الله فهو كذاب ،وكتاب الله يكذبه.

ولاشك فی انهم لايعرفون مالله ولايريدون ما محبة الله، وهم يصورون فی انفسهم الخبيثة صورة معشقة، وخيالا فاسدا، فيظهرون بذالك وجدا عظيماً، وبكاءً جسيما، وحركاتا مختلفه، وقعقعة عظيمة،والازباد تنزل من افواههم، حتى ان الجهال وحمقى من العامة يعتقدونهم ويلازمون، وينسبون انفسهم اليهم ويتركون شريعة الله ورسول الله، فماهم الا فی الدعاوی الفاسدة، والاقوال الكاسدة،اعاذنالله واياكم من شر هذه الطايفة، ومن شر الجنة والناس 'انتهی كلام العينی رحمه الله'شرح التحفه'بحواله الصاعقة المحرقه'ص ۲۴.

تعجب دی چې دغه (رقاص صوفيان) دنبی عليه السلام دسنتو مخالفت کوي، چکې وهي، مستي کوي ،غزلې وايې اوغورزي راغورزي اوبياهم دالله تعالی

(۱):الصاعقة المحرقة ص(۲۳).

د محبت دعوه کوي، او دا ټول د دوی جهالت دی ، ځوک چې د نبی علیه السلام د سنتو د مخالفت (د رقص کولو) باوجود د الله تعالی د محبت دعوه کوي نو هغه سخت دروغژن دی . د الله تعالی کتاب ورته دروغژن وایې، او په دې کې شک نه شته چې دغه (رقاصان صوفیان) نه الله تعالی پیژني او نه د الله تعالی محبت، او دوی (چې جذب کیږي) نو یو پخپل خبیث نفس کی یو خبیث عشقي (د ښځې یاد بیړیږي لغړزني هلک) صورت ذهن ته راولي او غلط (د زنا او لواطت) خیال شروع کړي نو په دې سره غټه بې حالي اوړیا ظاهره کړي، او مختلف حرکات شروع کړي، رمباړې وهي، د خولې ځخه یې زګونه غورزیږي، تر دې چې جاهلان او بې عقله عوام ورباندې نېکه عقیده جوړه کړي، د دوی مریدان او منجاوران شي، همدوی ته ځانونه منسوب کړي(مثلا زان ته سیفی وغیره وایې) بس د جاهل پیر پسې روان وي شریعت او د نبی علیه السلام سنت یې پرېښي وي، دوی په فاسده دعوه کې دي، د دوی خبرې کوته او باطلې دي، الله تعالی دې د دې (رقاصانو صوفیانو) د شر ځخه مونږ وساتی، او الله تعالی دې مونږ د پیریانو او انسانانو د شر ځخه وساتي، د علامه عینی رحمه الله خبره ختمه شوه.

(۱۲): رقاص پیر په منځ پرتوګ لړلی وو او جاهلو مریدانو یې پهاوښکو ځادرونه لامده کړی وو : وذکر صاحب الکشاف فی تفسیره فی سورة آل عمران: عند قوله تعالی: قل ان کنتم تحبون الله فاتبعونی یحببکم الله – (وعن الحسن: زعم اقوام علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم أنهم یحبون الله فأراد أن یجعل لقولهم تصدیقا من عمل، فمن ادعی محبة الله وخالف سنة رسول الله فهو کذاب، وکتاب الله یکذبه ،واذارأیت من یذکر محبة الله ویخالف ویصفق بیده مع ذکرها ویطرب وینعر ویصعق فلاشك فی انه لایعرف ماالله ولایدری ما محبة الله؟ وما تصفیقه وطربه ونعرته وصعقته الا لأنه تصور فی نفسه صورة مستملحة معشقة فسماها الله بجهله ودعارته، ثم صعق وطرب ونعر وصعق علی تصورها-

وربما رأيت المني قد ملأ آزار ذالك المحب عند صعقته، وحمقى العامة حواليه قد ملأ او حينئذ ارداءهم بالدموع لما رقهم من حاله)-انتهى كلامه.

صاحب د تفسير كشاف د قل ان كنتم تحبون الله فاتبعوني په تشريح كې د حسن بصري رحمه الله قول رانقل كړى دى چې: د نبي عليه السلام په زمانه كې بعضو خلكو د محبت دعوه كوله نو الله تعالى ددوى د دعوى د تصديق لپاره معيار عمل مقرر كړو ،نو څوك چې د الله د محبت دعوه كوي او بيا د نبي عليه السلام د سنتو څخه مخالف وي نو دا سخت دروغژن دى د الله تعالى كتاب ورته دروغژن وايي، او چې كله دې داسې خلك وليدل چې د الله تعالى سره د محبت خبرې كوي او محبت د ذكر سره چك چكې وهي او مستي كوي رمباړې وهي اوغورزي راغورزي نو په دې كې شك نشته چې د غه رقاص نه الله پيژني او نه د الله تعالى محبت،او دده د چكو ،مستي رمباړو او غورزيدلو راغورزيدلو وجه داده چې ده خپل خبيث فكر ته د كومې (ښځې يا د ببرېيرې لغړزني هلك) عشقي صورت راوستى دې بيا يې چكى ، مستى، رمباړې اوغورزيدل راغور زيدل شروع كړي دي سبب ورته د اعشقي صورتونه دي،او د پرځلي داسې شوي دي چې (د نام نهاد پير د ښځو او د هلكانو د عشقي صورتونو په فكر كې انزال شوى وي) پرتوگ يې په منى لړلى وي، او(مريدىي دا خيال وي چې پيريې جذب دى) نو زړه يې پخپل پير خوگ شوى وى او دڅراڅخه يې څادر په اوښكو لوند كړى وي.

والمسايل الفقهية النقلية لا مدخل للاعتزال فيه اصلا فلا يرد انه معتزلى (۱).

(۱۳): صاحب د فتاوى تاتارخانيه فرمايلي دي چې: **هل يجوز الرقص والسماع؟**

---

(۱):الصاعقة المحرقه ص (۲٦).

الجواب: لايجوز,,وذكرفى الذخيرة انه كبيرة ومن اباحه من المشايخ فذالك للذى صارت حركاته كحركات المرتعش وانه ايضاليس فى الشرع رخصة منه.

سوال: ايارقص اوسماع جايزه ده؟

جواب: نه ده جايز،اوپه ذخيره کې دي چې رقص اوسماع کناه کبيره ده ،اوپه مشائخو کې چې چا ورته مباحه ويلې ده نو هغه دهغه چا په باره کې ده چې دهغه حرکات داسې بې اختياره شي لکه دمرتعش اوګوزڼ مرض والا(سيفيان داسی نه وي بلکې دديوال څخه هم ځان ساتي دستنې څخه هم ځان ساتي چې څوک جيب ته ګوتې وروړي هم نه يې پريږدي، صرف په يوبل ورغورزي خصوصاً په لغړ زنوباندې په ورپريوتلوکی بې خاله وي.

بيايې وروسته دعوارف تحقيق اوشرايط رانقل کړي دي لکه مخکې دشامي (کتاب الحظر والاباحة) په حواله ذکرشو په اخرکې يې خپله فيصله ليکلې ده چې:

والحاصل انه لارخصة فى باب السماع فى زماننالان جنيداتاب عن السماع فى زمانه(۱)"

(۱۴):**وفى جواهر الفتاوى : ان السماع والقول والرقص الذى يفعله المتصوف فى زماننا حرام لايجوز القصد والجلوس اليه وهووالغناءوالمزاميرسواءوالمشايخ قبلهم فعلواغيرمافعل هولاء)**(۲).

سماع غزلې اورقص چې زمونږ دزمانې متصوفه يې کوي حرام دی، ورتلل اوکيناستل ورسره نه دي جايز، اورقص داسی دی لکه سندری او ډمتوب، مخکنيو مشائخو داسې نه کول لکه دنن صبا (نام نهاد صوفيه يې چې کوي).

(۱۵):**وذكرفى جواهر الفتاوى ايضافى كتاب الكراهية ،فى الباب الخامس، سماالغناءوضرب القضيل والتصفيق والك خلخكة والرقص وتمزيق الثياب الذى يفعله المتصوفة وغيرهم**

---

(۱):بحواله – الصاعقة المحرقة ص (۲۸).

(۲):عوارف المعارف ص ۱۱۴على هامش الجزء الخامس من الاحياء ،بحواله الصاعقة المحرقه ص (۲۹).

لايعرف لمثل هذا في الشرع جواز، وهو محظور شرعا، وفيه الاثم الكبير، وهو من الملاهي اللتي توجب القدح في العدالة والامتناع عنه واجب، هكذا ذكروا وهو الصحيح,, انتهى.

غزلې اورېدل، شپیلی (نل وهل)، چکې وهل، رقص کول، جامې شکول، چې زمونږ دزمانې متصوفه وغیره ئې کوي په شريعت کې جایز نه دي، په شريعت کې ممنوع دی، په دې کې سخته ګناه ده، اودا دلوبو اوساعت تېريو څخه دي چې عدالت ته نقصان رسوي، ددې څخه ځان ساتل واجب دي، علماوو همداسې ليکلي دي اوهمدا صحیح ده.

فایده: ددې عبارت معنا داده چې څوک چې رقص کوي دامتصوفه دي، دامعنا نده چې: دمتصوفه وو رقص ناجایز دی اودصوفیه وو جایز دی، دفقهاوو په یوعبارت کې هم داسې نه شته چې دصوفيه وو رقص جایز دی، لهذا سیفیان متصوفه دي ، همدارنګه دافغانستان اوپاکستان ټول مستند مدارس ، مشایخ اومفتی صاحبان سیفیانو ته ګمراهان اومتصوفه وايي.

(۱۶): وذكر في الحاوي المنية لصاحب المجتبى: السقوط عند قراءة القران اوعند التهليل اوالتسبيح على طريق الوجد يكره كراهة تحريم، وقيل: يكفر، وكذا الرقص وضرب الرجل على الارض عند ذالك. (۱)

دقران کریم دتلاوت په وخت کې غورزېدل راغورزېدل همدارنګه دلااله الاالله[۱] دذکر په وخت کې یاد, سبحان الله, په وخت کې غورزېدل راغورزېدل مکروه تحریمي دي اوبعضو علماوو ورته کفر ویلی دی همدارنګه رقص اوپښې په ځمکه وهل هم حرام دي اوبعضو علماوو ورته کفر ویلی دی.

(۱۷): وفي شرح الكنز المسمى بالبحر الرايق للعلامه ابن نجيم رحمه الله في كتاب العيدين: وتمنع الصوفية من رفع الصوت والصعق، وصرح بحرمته العيني في شرح التحفه، وشنع على من يفعله مدعيا أنه من الصوفيه (۲)،،

---

(۱): الصاعقة المحرقة ص (۳۱).

(۲): الصاعقة المحرقة ص(۳۱).

صوفيه به دچيغو وهلواودځان دغورزولو راغورزولوڅخه منعه كولي شي،
علامه عيني رحمه دتحفې په شرحه كې دصوفيه وو دغو غورزيدلو
راغورزيدلو ته صراحتا حرام ويلي دي،اوهغو مدعيانو دتصوف ته يې ډېر بد
ويلي دي چې چيغې وهي اويوپربل غورزي راغورزي.

(۱۸): وفي جواهر الفقه: السماع والرقص الذي يفعله المتصوفة في زماننا حرام الخ كذا في شرح مختصر الوقايه للبرجندي في كتاب الكراهية[1].

سماع ،غزلې اورقص چې زمونږ دزمانې متصوفه يې كوي حرام دي.

(۱۹): په۶۵۱هجري كې داحنافو،شافعيه وو،مالكيه وو اوحنابله ووعلماوو اومفتيانو كراموڅخهيوه استفتاءوشوه چې(ماتقول السادات الفقهاءوايمة الدين وعلماءالمسلمين،وفقهم الله لطاعته واعانهم على مرضاته،في جماعة المسلمين وردوا الى بلد فقصدوا الى المسجد .وشرعوايصفقون ويغنونويرقصون تارة بالكف وتارة بالدف والشبابه.فهل يجوزذلك في المسجد شرعا؟افتونا ماجورين رحمكم الله).

فقالت الشافعيه: الرقص هومكروه يشبه الباطل ومن قال به ترد شهادته' والله اعلم

وقالت المالكيه: يجب على ولاة الأمورضربهم وردعهم واخراجهم من المساجد حتى يتوبوا ويرجعوا والله اعلم.

وقالت الحنابلة: لايصلى خلفه ولاتقبل شهادته ولايقبل حكمه ان كان حاكما فهوعلى يده فاسد والله اعلم.

وقالت الحنفيه: الحصير اللتي يرقص عليها لايصلى عليها حتى تغسل،والأرض اللتي يرالتييرقص عليهالايصلى عليهاحتى يحفرترابهاويرمى والله اعلم.

الصاعقة المحرقة تاليف محمد بن صفي الدين الحنفي(المتوفى ۱۲۰۰ هجري).

څه وايي فقهاء دهغوخلكومسلمانانو په باره كې چې په مساجدوكې چكې وهي،غزلې وايي اورقص كوي؟

---

[1] الصاعقة المحرقة(۳۲).

نوشوافعو وفرمایل چې رقص مکروه دی دباطل سره مشابه دی اودقاصانو شاهدي نه قبلیږي.

مالکیه وو وفرمایل چې په حاکمانو واجبه ده چې ویې وهي ، ویې رټي اودمساجد څخه یې اوباسي تردې چې توبه وباسي اودخپل عمل څخه رجوع وکړي.

حنابله وو وفرمایل چې ددغورقاصانوپسې لمونځ نه کیږي ،شاهدییې نه قبلیږي،فیصله یې نه قبلیږي اګرچې حاکم وي اوکه نکاح یې تړلې وي نوهغه هم فاسده ده.

اواحنافو وفرمایل چې: هغه پوزکی اوفرش چې رقص وربانديې شوی وي په هغې لمونځ مه کوئ ترڅوموچې وینځلی نه وي، اوپه هغه ځمکه هم لمونځ مه کوئ په کومه ځمکه چې رقص شوی وي ترڅوموچې ترې خاورې ویستلې نه وي.

(۲۰):بعضې خلک وایې: چې دنبی علیه السلام په وخت کې حبشو په مسجد کې معاذالله رقص کړی وو نوحافظ ابن حجر رحمه الله په جواب کی فرمایلی دی چې: واستدل قوم من الصوفية بهذالحديث على جواز الرقص وسماع الات الملاهى ورده الجمهور باختلاف القصدين فان لعب الحبشة بحرابهم كان للتمرين على الحرب فلايحتج به للرخص فى اللهو(۱). انتهى.

همدارنګه یې فرمایلي دي چې: وأماما ابتدعه الصوفية فى ذلك: فمن قبيل مالايختلف فى تحريمه لكن النفوس الشهوانية غلبت على كثيرممن ينسب الى الخير،حتى لقدظهرت من كثيرمنهم فعلات المجانين والصبيان،حتى رقصوا بحركات متطابقة،وتقطيعات متلاحقة وانتهى التواقح بقوم منهم الى ان جعلوها من باب القرب وصالح الاعمال...وهذاعلى التحقيق من اثارالذندقة(۲).

---

(۱):فتح الباريج۲ص(٤٤٢).

(۲):فتح الباری ج۲ص (٤٤٢).

(۲۱):صاحب د فتاوی بزازیه فرمایلي دي چې: (وغرضه استماع الدف والمزمار واللعب بالرقص الذی احدثه اولا السامری حین اخرج لهم عجلا جسدا له خوار، نقل صاحب الهدایة ان المغنی للناس انما لاتقبل شهادته لانه یجمعهم علی کبیرة، والقرطبی علی ان هذا الغناء وضرب القضیب والرقص حرام بالاجماع عندمالك وابی حنیفة والشافعی واحمد ذکر ذلك فی مواضع من کتابه وسید الطایفة الشیخ احمد الیسوی صرح بحرمته ورأیت فتوی شیخ الاسلام جلال الملة والدین الکرمانی ان مستحل هذا الرقص کافر)۔[۱].

دصوفیه وو درقص اول ایجاد سامری کړی دی اودارقص دڅلورو واړو امامانوپه نیزحرام اوحلال ګڼونکی یې کافردی.

(۲۲):ملاعلی قاری رحمه الله فرمایلي دي چې :(لاالذکر باللسان المشتمل علی صیاح وانزعاج وشدة تحریك العنق واعوجاج کمایفعله بعض الناس زاعمین ان ذلك جالب للحضوروموجب للسرورحاشالله بل سبب الغیبوبة والغرور)[۲].

هغه ذکرچې په احادیثومبارکه ووکې راغلی هغه دچیغو اودسرونودغورځولو راغورځولو اودغاړې دغورځولو راغورځولو اودشاته اودمخته کېدلو والا ذکرنه دی لکه څرنګه چې بعضې خلک یې کوي اوهمدغه خلک بیادافکر کوي چې دغه (باطل)عمل سبب دحضوردزړه دی الله تعالی ددې څخه پاک دی.

بلکې دغه سرونه غورځول راغورځول دالله تعالی څخه دلرې والي سبب دی.

(۲۳):(سئل فی متصوفة العصر الذین یرقصون حالة الذکرویریدون بذلك القربة،فماالحکم فی ذلك،هل هومباح اوحرام،وهل یمنع فاعل ذلك امرکیف الحکم؟

اجاب:قال فی العمرة الفتاوی ورقص الصوفیة حرام بالاجماع وکافر مستحله ولاتقبل شهادة من حضرمجالس هذالنوع کذافی مجمع الفتاوی.

وقداجاب عن مثل هذالسوال شیخ الاسلام الاجل الزاهد الامام ابوبکرالطرطوشی رحمه الله فقال فی اثناءجوابه واماالرقص والتواجد فأول من احدثه اصحاب السامری لمااتخذلهم

(۱):بزازیه ج ۱ صــ (۳۱۹)

(۲):مرقات ج ۵ صــ (۵۵۶).

بجلاله حوار قاموير قصون ويتواجدون فهودين الكفار وعباد العجل وانما كان مجلس النبي صلى الله عليه وسلم مع اصحابه كأنما على رؤسهم الطير من الوقار فيجب على السلطان ايدالله به الدين وقمع به المعتدين ان يمنعهم عن ذلك لانه نهي عن المنكر ولا يحل لاحد يؤمن بالله تعالى واليوم الآخر ان يحضر معهم) انتهى (١).

هغه خلک چې ځانونو ته صوفيان وايې او د ذکر په وخت کې رقص کوي سرونه غورځوي راغورځوي او خپل دغه عمل ثواب ګڼي او وايې چې په دې عمل سره مونږ الله تعالى ته نږدې کېږو نو داسې حلقې په شريعت کې څه حکم لري؟

آيا مباحې دي او که حرامې؟

آيا د دې حلقو والا به منعه کولی شي او که نه؟

جواب: د ذکر په حلقو کې د صوفيانو رقص (سرونه غورځول راغورځول) په اتفاق او په څلورو مذاهبو کې حرام دي او څوک چې د صوفيه وو دغه رقص حلال ګڼي هغه کافر دی او څوک چې د غو خلقو ته حاضرېږي د هغه شاهدی نه قبلېږي.

دغه رقص او تواجد (د ذکر په حلقو کې ځان په ځمکه غورځول راغورځول) اول د سامري کافر مريدانو دنيا ته راوړی دی.

کله چې سامري د زيوراتو څخه خوسی جوړ کړو نو مريدانو يې رقص او وجد شروع کړو.

د نبی عليه السلام صحابه کرام رضوان الله عليهم اجمعين خوبه د نبی عليه السلام په مجلس کې داسې قرار او ارام ناست وو لکه په سرونو يې چې مرغان ناست وي.

(١): فتاوى ابى سعود صـ (٤٧٦).

نوپه اسلامی بادشاهانو لازمه ده چې دارقاصان ددې څخه منع کړي او هيڅ مسلمان ته چې په الله تعالی اوپه ورځ دآخرت ایمان لري نه ده جائزچې ددغو رقاصانو دذکرحلقو ته ورشي (۱).

(۲۴): شاه عبدالعزیز رحمه الله دمتعددو فتاوو په حواله لیکلي دي چې رقص الصوفیه حرام دی.

مثلاً: فتاوی عالمگیری لیکلي دي چې رقص الصوفیه حرام دی.

«»په مضمرات کې یې لیکلي دي چې گناه ده او حلال گڼونکی یې فاسق دی.

«»په الاختیار کې یې لیکلي دي چې رقص الصوفیه په ټولو دینونو کې گناه کبیره ده.

«»په محیط کې یې لیکلي دي چې تغنی تصفیق او استماع یې حرام ده او مستحل یې کافر دی.

«»په اختیار الفتاوی کې یې ورته مکروه ویلي دي.

«»په الفتاوی البیهقیه کې یې ورته حرام ویلي دي او مستحل ته یې کافر ویلي دي.

«»په جامع الفتاوی کې فرمایلي دي چې رقص حرام دی او حلال گڼونکی یې کافر دی.

«»په الحمادیه کې لیکلي دي چې تغنی په ټولو دینونو کې حرامه ده.

«»په تتارخانیه کې فرمایلي دي چې رقاصان صوفیان دالله جل جلاله پورې دروغ تړي، په کار ده چې دښارونو څخه وشړل شي.

(۱): فتاوی ابی السعود صـــ (۱۷٦).

«»په آخر کښې يې ليکلي دي چې (وقال الشيخ ان سبعاً وسبعين نفراً من الفقهاء اتفقوا على تحريم الغناء وبين اسماءهم على التفصيل)(١).

(٢٢):(افات البدن من الأعضاء الثمانية ،القلب والسان والاذن واليدوالرجل والبطن والفرج والعين وهذه كثيرة جدا،منها الرقص،سواء كان فى الذكر اوقرآءة القرآن اوالتسبيح اوالتهليل وهوالحركة الموزونة والاضطراب من لعب غيرمستثنى من قوله عليه الصلاة والسلام كل لعب حرام الاالرمى والمسابقة والملاعبة لاهله يدخل فيهما مايفعله بعض الصوفية فى زماننا)(٢).

اته(٨)اعضاء دانسان په بدن کې موجود دي.

زړه ،ژبه ،غوږ ، لاس ،پښه ،ګېډه ،فرج او سترګې دهريو أفتونه بيخي زيات دي.

په دغه أفتونوکې رقص دی دذکرپه وخت کې وي اوکه دقرآن دقرأت په وخت کې وي رقص موزون اومرتب حرکت پورته اوښکته سرغورځولو اوښکته پورته کېدلو ته وايې اوضطراب بې وزنه اوبې ترتيبه حرکاتوته وايي.

رقص اواضطراب دواړه په هغه لهواولعب کې داخل دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته حرام ويلي دي (کل لعب حرام الا الرمى ، والمسابقة، والملاعبة لاهله)په رقص اواضطراب کې زمونږ دزماني دصوفيانو افعال داخل دي.

(٢۶)-(فيخاف عليهم امرعظيم)وهوالكفرعندالمصنف رحمه الله وصريح الكفرعندغيره كشيخ الاسلام الكيلانى رحمه الله والبزازى رحمه الله وابن كمال باشا رحمه الله لانه انكارالاجماع كماسيأتى اه(٣).

دمصنف په نيز دذکراوحلقوپه وخت کې په دغورقص کونکوباندې ديوغټ کارويره ده چې کفردی.

بلکې بعضې علماء ورته ښکاره کافران وايي لکه شيخ الاسلام ګيلانى ، امام بزازی صاحب دفتاوی بزازيه اوابن کمال باشا.

---

(١):فتاوى عزيزى صـ (٦٦) فارسى.

(٢):البريقة ج ٢ صـ (١٣٣).

(٣):البريقة ج٢ صـ (١٣٣).

(۲۷): وعن بعض المؤلفین کالشیخ ابراهیم الحلبی رحمه الله تعالی قال بلغنی عن بعض من انکرت علیه الرقص انه قال بعد ما غاب عنی لاینکرون علی شارب الخمر وینکرون علینا.
قال وقد کان هذا اشد من ذاك لان شاربها یعتقد حرمة الخمر فربما یستغفر ویتوب وفاعل ذاك یعتقد کونه عبادةً فلا یستغفر بل یتباهی ویرجو من الخلق المنزلة والتعظیم اه[1].

حضرت امام ابراهیم حلبی حنفی رحمه الله فرمايلي دي چې په بعضو رقاصانو صوفيانومې ردوکړو نوهغه وويل چې شراب خوروته څه نه وايې اوپه مونږردکوي.

امام حلبی رحمه الله فرمايلي دي چې دغه په حلقوکې رقص کونکي دشراب خورو څخه بدتردي ځکه چې شراب خواره خپل کارګناه ګڼي دېرځله به استغفاروکړي اودغه په حلقوکې ګډيدونکي خپله ګډاعبادت ګڼي توبه نه اوباسي اودخلکو څخه عزت اومرتبه هم غواړي.

(۲۸): وقال الطرطوشی رحمه الله حین سئل عن مذهب الصوفیة اما الرقص والتواجد، فاول من احدثه اصحاب السامری، اسمه موسی بن ظفر وکان منافقالما اتخذ لهم عجلاً جسداً له خوارٌ قاموا یرقصون علیه ویتواجدون فرحاً به»، فالرقص دین الکفار وعباد العجل وقال فی التتارخانیة وهذا دلیل علی حرمة الرقص علی مذهب الحنفیة رحمه الله اه[2].

دعلامه طرطوشی رحمه الله څخه دصوفيانو دمذهب په باره کې پوښتنه وشوه هغه ورته وفرمايل چې رقص اوتواجد اول سامری دنياته راوړی دی کله يې چې ورته خوسی جوړکړو نودسامری مريدانورقص اوتواجدشروع کړو نورقص دکافرانواوګاوپرستانودين دی.

په فتاوی تاتارخانيه کې دي چې همدغه دليل دی لپاره دحراموالی درقص په حلقوکې.

---

(۱): البریقة ج۲ صـ۱۳۳
(۲): البریقة ج۲ صـ ((۱۳٤)).

(۲۹): وفي الذخيرة انه كبيرة وقال الامام البزازي رحمه الله في فتاواه قال القرطبي رحمه الله ان هذا الغناء وضرب القضيب والرقص حرام بالاجماع عند مالك رحمه الله وابي حنيفة رحمه الله والشافعي رحمه الله واحمد رحمه الله وسيد الطائفة احمد النسوي رحمه الله صرّح بحرمته ورأيت فتاوى شيخ الاسلام جلال الملة والدين الكيلاني رحمه الله ان مستحل هذا الرقص كافر اه[1].

ذخيرة الفتاوى ليكلي دي چې په حلقو کې سرونه غورځول او ګډېدل ګناه کبيره ده.

او امام بزازی رحمه الله په خپله فتاوی کې د قرطبی څخه رانقل کړي دي چې غزلې، سندرې ويل، شپيلۍ وهل او رقص د څلورو امامانو په نيز حرام دی.

حضرت احمد نسوی (چې د ډېرو کراماتو خاوندؤ) فرمايلي دي چې د صوفيانو رقص حرام دی او جلال الدين ګيلانی رحمه الله فرمايلي دي چې څوک چې په دغو خلقو کې رقص ته جائز وايي هغه کافر دی.

(۳۰): وعن السهروردی رحمه الله وهو عن ابی عباس السقايا رحمه الله يقول تطوف الشياطين عراة بأطراف قوم يشتغلون بالسماع والرقص ويلعبون بينهم وينفخون في افواههم فيتواجدون اه[2].

امام سهروردی د ابو العباس السقايا څخه رانقل کړي دي چې شيطانان ځانونه بربنډ کړي، او بيا د دغو خلکو څخه ګېرچاپېره تاوېږي چې حلقې کوي او سرونه غورځوي ځانونه خوزوي شيطانان د دوی څخه بربنډ تاوېږي او د دوی په مابين کې لوبې کوي او چې شيطانان د دوی په خوله کې پوکی وکړي نو دوی تواجد شروع کړي او ځانونه غورځوي راغورځوي.

(۳۱): وعن الامام الرازي رحمه الله تعالى انهم يرقصون رقص الفجار وينهقون كالحمار، ويظنون انهم على طريق الابرار بل هم اضلّ من الكفار[3].

(۱): البريقة ج۲ صـ (۱۳٤).

(۲): البريقة ج۲ صـ (۱۳۷).

(۳): البريقة ج۲ صـ (۱۲۷).

امام رازى رحمه الله فرمايلي دي چې دغه خلک چې په حلقوکې دفاجرانو په شان سرونه اواندامونه غورځوي دخروپه شان رمباړې وهي اوداګمان هم لري چې مونږدنيکانواو د اولياوو په لار برابريو نودغه کسان دکافرانوڅخه هم سخت ګمراهان دي(ځکه چې دبزرګي په نوم خلک ګمراه کوي).

(۳۲): وعن الامام المحبوبى رحمه عن امام الائمة ابى حنيفة رحمه الله لاتجوز الصلاة فى موضع رقص فيه حتى طهر اويخرج ترابه: امام محبوبى رحمه الله دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله څخه رانقل کړي دي چې په کوم ځاى چې رقص اوحلقه شوي وي په هغه ځاى کې لمونځ نه دى روا ترڅوچې په اوبوويننځل شوى نه وي اوددغه ځاى خاوره ويستل شوي نه وي، البريقه ص ۱۳۷.

(۳۳): وقالت الحنابلة لايصلى خلفه ولاتقبل شهادته ولاحكمه وقالت الحنفية رحمه الله الحصير التى يرقص عليها لايصلى عليها حتى تغسل والارض التى يرقص عليها لايصلى عليها حتى يحفر ترابها» والله اعلم[1].

حنابله وو فرمايلي دي چې درقص والاوو پسې لمونځ مه کوئ.

اوددغه رقص والاوو شاهدي ،قضاء اوحکم نه قبليږي.

احنافو فرمايلي دي چې په هغه پوځکي (بوريا)چې رقص وربانديې شوى وي لمونځ نه کيږي ترڅوچې وينځل شوى نه وي اوپه هغه ځمکه چې رقص الصوفيه وربانديې شوى وي لمونځ مه کوئ ترڅوچې مووينځلي نه وي اودهغې ځمکې خاوره موغورځولې نه وي.

(۳۴): من له انصاف وديانة واستقامة طبع اذا رأى رقص بعض صوفية زماننا،اى فى ديارناعيانا،وفى الديارالأخرسمعاً بالشهرة بل بالتواتر فى المساجد والاذكار بالحان ونغمات

(۱): البريقة ج۲ صـ(۱۳۷).

مختلطا بهم المرد جمع الامرد واهل الاهواء من جهال العوام والمبتدعة الطغام ای الارزال لايعرفون الطهارة والقرآن والحلال والحرام بل لايعرفون الايمان والاسلام اه.
ان هؤلآء اتخذ ودينهم لهوا ولعبا اه[1].

څوک چې انصاف ،ديانت اومستقيم طبيعت لري چې کله په مساجدوکې اوذکرپه حلقوکې دبعضوصوفيانورقص وګوري اويايې په تواترسره واوري چې سرونه اوزګونه غورځوي، ښکته اوپورته کېږي اولغړزني(بې ږيرې هلکان)ورسره خلط اويوځای وي جاهل عوام اورزيل بدعتيان ورسره خلط اويوځای وي دغوکسانو داسلام دين څخه لعو اولعب جوړکړی دی.
داخلک په اودس نه پوهېږي ،په قران نه پوهېږي حلال اوحرام نه پېژني ايمان اواسلام نه پېژني.
(۳۵):علامه عينی الحنفی لیکلي دي چې (ولااعتبارلماابتدعته الجهلة من الصوفية فی ذلك فانك اذا تحققت اقوالهم فی ذلك ورأيت افعالهم وقفت علی آثارالرندقة منهم، وبالله المستعان)[2].
دغوبې علمه اوجاهله صوفيانوچې کوم بدعات راپيدا کړي دي هيڅ اعتبار نه لري که ته په غورسره ددوی خبره واورې اوددوی په کارونوستاعلم راشي نو ته به پوه شې چې په دوی کې نښې اوعلامې دزنديقانو شته.
(۳۶):علامه قرطبی رحمه الله لیکلي دي چې:(مذهب الصوفية بطالة وجهالة وضلالة وماالاسلام الاكتاب الله وسنة رسول الله واماالرقص والتواجد فأول من احدثه اصحاب السامری لما اتخذهم عجلاجسدا له خوار قاموا يرقصون حواليه ويتواجدون فهودين الكفار

(۱):البريقة ج ۲ صـ(۱۳۷).
(۲): الطهارة والقرآن.

وعباد العجل واما القضيب فأول من اتخذه الزنادقة ليشغلوا به المسلمين عن كتاب الله تعالى وانما كان يجلس النبي صلى الله عليه وسلم مع اصحابه كأنما على رؤسهم الطير من الوقار.

فينبغي للسلطان ونوابه ان يمنعهم من الحضور في المساجد وغيرها ولا يحل لاحد يؤمن بالله واليوم الأخر ان يحضر معهم ولا يعنيهم على باطلهم ،وهذا مذهب مالك وابي حنيفة والشافعي واحمد بن حنبل وغيرهم من ائمة المسلمين رحمهم الله تعالى وبالله التوفيق انتهى (١).

علامه قرطبی رحمه الله لیکلي دي چې مذهب دصوفیه وو سخت باطل ،جهالت اوګمراهی ده.

اسلام دالله تعالی کتاب اودنبی علیه السلام سنت دی.

دغه په حلقوکې سرونه غورځول، بنکته پورته کېدل ،اورقص الصوفیه سامری دنیاته راوړی دی.

کله چې یې ورته خوسی (عجل)جوړکړونودسامری مریدانو تواجداورقص شروع کړو.

نورقص الصوفیه دکافرانو اوګاو پرستانودین دی.

اوشپیلۍ غړول دزندیقانوایجاد دی چې مسلمانان داسلام اودقرآن څخه راګرځوي.

بادشاه اودقدرت والاوو ته په کارده چې داخلک دمسجدونو څخه منعه کړي اوهرڅوک چې په الله تعالی اوآخرت ایمان لري هغوی ته نارواده چې دغودرقص والاوو مجلس ته حاضرشي اوکومک ورسره وکړي اودا دامام مالک،امام ابوحنیفه،امام شافعی اودامام احمد رحمهم الله مذهب دی.

(١):قرطبي سورة طه ايت نمبر (٩٣).

(۳۷):عن حصين بن عبدالرحمن قال قلت لاسماء بنت ابی بکرکيف کان أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم عند قرآءة القرآن؟

قالت کانوکما ذکرهم الله. أوکماوصفهم عزوجل تدمع عيونهم وتقشعرجلودهم، فقلت لها:ان ههنارجالااذا قرء على احدهم القرآن غشى عليه،فقالت : اعوذبالله من الشيطن الرجيم[۱].

حضرت حصين رحمه الله فرمايلي دي چې ماحضرت اسماء رضی الله عنها ته وفرمايل چې دنبی عليه السلام صحابه کرامورضوان الله عليهم اجمعين به دقرآن دقرأت په وخت کې په کوم حال وو؟

حضرت اسماءرضی الله عنها ورته وفرمايل چې داسې به وو لکه څرنګه چې الله تعالى ذکرکړی دی ياالله تعالى بيان کړی دی چې دسترګوڅخه يې اوښکې روانې وې اوپوستکی يې زيګه شي.

نوماورته وويل چې دلته داسې خلک دي چې قرآن وربانديږ ولوستل شي نوبې هوشي وربانديږ راشي حضرت اسماءرضی الله عنها وفرمايل چې اعوذبالله من الشيطن الرجيم (يعنې داشيطاني اثردی).

(۳۸):عن عمران بن عبدالعزيزقال:سمعت محمدبن سيرين وسئل عن من يستمع القرآن فيصعق،فقال:ميعادمابيننا وبينهم أن يجلسوعلى حائط فيقرأعليهم القرآن من اوله الى آخره ان سقطوفهم کمايقولون[۲].

دمحمدابن سيرين څخه دهغه خلکوپه باره کې پوښتنه وشوه چې قرآن واوري نووغورځيږي يعنې جذب شي نومحمدبن سيرين رحمه الله جواب ورکړو چې دغه کسان دې په يواوچت ديوال کينول شي اوبيادې ورته داول څخه تراخره

(۱):تلبيس ابليس صـ۲۲۰ التفسيرمن سنن سعيدبن منصورمحققاج۲ صـ ۳۳۳ نورهم دېرسندونه لري.

(۲):تلبيس ابليس صـ (۲۲۲).

پورې قرآن تلاوت کړی شي نوکه چېرته ددیوال په سرجذب شونو بیا رشتیاوایې.

(۳۹): **ولقدحدثنی بعض المشائخ عن الغزالی انه قال الرقص حماقة بین الکتفین لاتزول الابالتعب**(۱).

په حلقو کې غورځېدل راغورځېدل داوګوپه مابین کې حماقت دی نه زایلېږي مګرپه ستړیوالي.

(۴۰): مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله عنوان لګولی دی په نوم د(مروجه سماع اورقص کی حرمت)(۲).

(۴۱): حضرت مجدد الف ثانی رحمه الله لیکلي دي چې نن صبادسماع شرائط نشته بلکې دنن صبامروجه سماع اورقص بې له شکه چې سراسرضرر دی اودباطنی تربیت سره منافی دی دداسې سماع څخه دعروج فکربالکل بې معنی دی(۳).

(۴۲): الشیخ ابوالحسن علی بن عثمان الهجویری داتاصاحب رحمه الله لیکلي دي چې مادابوالعباس الشقانی رحمه الله څخه واورېدل چې فرمایل یې چې زه دسماع په یومجلس کې ناست وم نوشیطانان مې بربنډ ولېدل چې ددوی څخه ګېرچاپیره تاویدلواوددوی په مخکې یې لوبې کولې اوپه دغو (صوفیانور قاصانو) کې پوکي کول نوپه دې باندې به فقیران په وجدکې راغلل، په دې

(۱): تلبیس ابلیس صـ (۲۲۶).

(۲): التکشف صـ (۶۱۷).

(۳): مکتوبات صـ ۷۶۲ دفتراول حصه پنجم مکتوب (۲۷۵).

باندې صرف هغه څوک پوهېږي چې دکامل نظرخاوندوي اودشیطانانوپه چلونوپوهېږي[(۱)].

همدارنګه علامه هجویری رحمه الله عنوان لګولی دی (رقص اوددې متعلقات) بیایې فرمایلي دي چې په دې باندې ځان پوهول په کاردي چې په شریعت اوطریقت کې درقص لپاره هېڅ اصل نشته ځکه چې په دې باندې ټول عقلاء متفق دي چې رقص لهوه دی اودلهوی تعریف په مشائخو کې هېچانه دی کړی اوپه دې کې یې غلونه ده کړې.

وروسته یې لیکلي دي چې خلاصه داده چې رقص عقلاً اوشرعاً خراب عمل دی وروسته فرمایې چې رقص ته جائزویونکی کافردی[(۲)].

حضرت مجدد الف ثاني فرمایلی دی چې:(وعمل صوفیه درحل و حرمت سند نیست همین بس نیست که ما ایشانرا معذورداریم وملامت نه کنیم ومر ایشان رابحق سبحانه تعالی مفوض داریم این جا قول امام ابی حنیفه وامام ابویوسف وامام محمد معتبراست نه عمل ابی بکرشبلی وابی حسن نوری صوفیا نخام این وقت عمل پیرآن خود رابهانه ساخته سرود ورقص رادین وملت خود رفته اند،وطاعتو عبادت ساخته اولیك الذین اتخذو دینهم لهوا ولعباً وازروایت سابق معلوم شده است کسی که فعل حرامرا مستحسن.

دانداز زمره اهل اسلام می براید ومرتد میگرددپس خیال باید کرد که تعلیم مجلس سماع ورقص نمودن بلکه ازا اطاعت و عبادت دانستن چه شناعت دارد)[(۳)].

---

(۱):الصاعقة المحرقة صـــ(٤٠).

(۲):کشف المحجوب صـــ (٥٦٢)

(۳):کشف المحجوب صـــ (٥٦٢)

په حل اوپه حرمت کې دصوفيه کرامو عمل حجت نه دی ايا داکافی نده چې موږ دوی معذور وګڼو اوملامته يې نه کړواودوی الله تعالی ته وسپارو ؟ دلته دامام ابوحنيفه امام ابويوسف اوامام محمدرحمهم الله قول معتبر دی، دحضرت ابوبکر شبلی رحمه الله اودحضرت ابوالحسن نوری رحمه الله قول ته اعتبار نه شته نن صبا بعضو خامو کچه صو فيانو دخپلو پيرانو عمل بهانه کړی دی اورقص اوسرود ئې ځانته دين اوملت جوړ کړی دی، اوداطريقه يې عبادت اوطاعت جوړ کړی دی داهغه خلک دي چې دخپل دين څخه يې لهو لعب جوړ کړی دی، اود مخکني روايت څخه معلومه شوه چې کوم شخص چې حرام فعل ښه وګڼي هغه داسلام دډلې څخه خارجيږي اومرتد ګرځي نو فکر کوئ چې دسماع اودرقص دمجلس تعليم ورکول اودېته عبادت ويل څومره بدي لري.

السماع الشرعی

نبی عليه السلام ،صحابه کرامو اوسلفو به چې قران ياوعظ واوريدلويابه يې دالله تعالی ذکر وکړونو لاندې حالات به ورباندې راتلل:دايمان قوت (په اعتبار دکيفت سره زيادت).

ويره: الله تعالی فرمايلی دی چی : الذين اذاذکرالله وجلت قلوبهم واذاتليت عليهم اياته زادتهم ايمانا.

خوشحاليدل: الله فرمايلی دی چی : فاماالذين آمنوافزادتهم ايمان وهم يستبشرون.

دپوستکی زيګ کيدل: تقشعرمنه جلودالذين يخشون ربهم.

اوښکی روانيدل: تری اعينهم تفيض من الدمع

وايضاً قرء عليه عبدالله بن مسعودرضی الله عنه سوره النساءحتی بلغ ,,فکيف اذاجئنامن کل امة بشهيدوجئنابك علی هؤلاء شهيداً ,,دمعت عينارسول الله صلی الله عليه وسلم

سجده باندی پریوتل: یخرون للاذقان سجدا

سکوت اواستماع: واذصرفنا الیك نفرا من الجن یستمعون فلما حضروه قالوا انصتوا

بغیر له چیغو ژړا: فی الصحیح: انه صلی الله علیه وسلم کان اذا صلی وقرء سمع له ازیز کازیز المرجل.

تسبیح

سؤال

تعوذ

عن حذیفة رضی الله عنه انه صلی معه لیلة فقرأ فافتتح البقرة... کلما مربایة فیها تسبیح سبح، واذامر بآیة فیها سؤال سأل واذامر بآیة فیها عذاب تعوذ

یو ایت بیا لوستل: انه علیه السلام قام لیلة بقوله تعالی: فان تعذبهم فانهم عبادك وان تغفر لهم فانك انت العزیز الحکیم،، فمازال یکررها حتی الصبح ثم قرآها فی صلوة الصبح

بی هوشی: وسمع الشافعی رحمه الله: هذا یوم لاینطقون ولایوذن لهم فیعتذرون فغشی علیه

وسمع فضیل بن عیاض قارئا یقرء یوم یقوم الناس لرب العلمین فسقط مغشیا علیه

بی اختیاره چیغه په صحیح روایت کی ژړا: وسمع عمر رضی الله عنه رجلا یقول: ان عذاب ربك لواقع ماله من دافع. فصاح صیحه. والصحیح انه بکی

کله دبی هوشی څخه وروسته وفات کیدل: وروی عن زراره بن اوفی وکان من خیار التابعین وکان یؤم الناس بالرقه-فقرأ:: فاذانقر فی الناقور فذالك یومئذ یوم عسیر. فصعق ومات فی محرابه.

داد سلفو حالات وو.

دوی کې نه چا په خپل اختیار سره تیونه او اوکې خوزولې. نه چا منډې رامنډې وهلې، نه چا سرونه غورزول راغورزول،نه څوک ښکته پورته غورزېدل راغو رزېدل، نه چا زګونه کول، نه چارقص کولو، نه چا په امردانو ځانونه غورزول، اونه دجاهل پیر ددستمال اشارې وې ،اونه داکیفیات دائم وي.

فایده:بعضی وائی چی په اجیاء العلوم کی ئی رقص ته جایزویلی دی حلانکی زمونږ دمذهب کتابونه شته نو دبل مذهب کتاب ته څه ضرورت دی؟ همدارنګه احیاءالعلوم دموضوعاتو مجموعه ده همدارنګه چی یوشی دایرشی په مابین دسنت او بدعت کي هغه به متروکولی شی یا دایرشی په مابین دکفر او بااحت کی نو کفر طرفته به ئی ترجیح وې ځان تری ساتل پکار دی۱۲.

دریمه مسئله

ذکربالجهر تعبداًبدعت دی عندالاحناف

(۱)فایده: ذکر بالجهر نشاطاًجایز دی،کله دیو مقرردیوې عجیبې جملې په وخت کې یادښکلي قراءت داورېدلو په وخت کې په اوچت آواز خلک سبحان الله ووایې یادطبیعت جوړولو لپاره.

(۲):لدفع الوسواس والخواطرهم ذکر بالجهر جایز دی.

(۳):ذکر بالجهر تعلیماً وعلاجاًهم جایز دی، دبعضو سلاسلو صوفیه کرام خصوصاً دچشتیه شریفه والاتعلیماًاوعلاجاًذکربالجهر کوی.

(۴):**ذکربالجهراعلاناًهم** جایز دی ،لکه په اذن ،تلبیه وغیره که.

(۵):حضرت عمر رضی الله عنه دذکربالجهر لپاره حکمت داسې بیان کړی وو چې **(اطردالشیطان واوقظ الوسنان)**.

(۶): علامه ظفر احمد العثمانی فرمایلی دیچی (ان المراد بقول ابی حنیفه رحمه الله ان الجهر بالتکبیر بدعة ما کان فیه تعبد، ولا دلیل فی الحدیث ان الصحابة رضی الله عنهم جهروا به تعبد الاحتمال انهم جهروا به للنشاط وارهاب العدو)[1].

نوذکر بالجهر د مجاهد لپاره ارهاباً للعدو هم جایز دی.

(۷): په مجاهدینو کښې د جذبې د راپیدا کولو لپاره هم جایزدی لکه د خندق د کنبستلو په وخت کی وو د مسجد د تعمیر په وخت کی د نبی علیه السلام څخه جهر ثابت دی.

خلاصه دا چې: نشاطاً، تعلیماً، علاجاً و دفعاً للوسواس، همدارنګه اعلاناً و اظهاراً، همدارنګه ارهاباً للعدو، همدارنګه ایقاظاً ذکر بالجهر جایز دی.

(اذا لم ئوذ للنائمین ولم یشوش علی المصلین ولم یکن الجهر مفرطا).

او ذکر بالجهر تعبداً و ثواباً بدعت دی، (بان یعتقد الثواب فی الجهر و یعده عبادتاً) چې جهر عبادت او ثواب وګڼې، نو بیا ذکر بالجهر بدعت دی[2].

سیفیان بریلویان چې میلادونو او عرسونو ته روان وي نو دبس یا دبل ګاډي په چت ناست وي چې بازار او دخلکو ګڼې ګوڼې ته ورسیږي نو ذکر بالجهر شروع کړي، او چې د ګڼې ګوڼې څخه ووزي، نو بیا غلي شي، نو ددوی ذکر بالجهر یوازې تعبداً نه دی بلکې په دغه بدعت کی ریاء هم کوي

(۲): فایده: ذکر په څلور قسمه دی:

اول: فرض، لکه لمونځ.

دوهم: واجب، لکه دلوی اختر تکبیرات.

---

(۱): اعلاء السنن ج۸ص(۱۲۵).

(۲): نصب الخیام ص ۲۵٤ د مولانا عبدالعلی دیوبندی رحمه الله، او حکم الذکر بالجهر، ص۶۷ص۱۹۷ د مولانا سرفراز خان صفدر رحمه الله.

دریم: سنت، لکه اذان، اقامت، تلبیه.

څلورم: مستحب، لکه په عامو حالاتو کې په ژبه یا په زړه دالله تعالیٰ یادول. تسبیحات تهلیلات وغیره وظایف کول.

په اولو دری واړه قسمه ذکرونو کې شریعت صراحتاً دجهریا داخفا حکم کړی دی، په څلورم قسم کې جهر تعبدا ذامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز بدعت دی.

دلائل (۱): الله تعالی فرمایلی دی چی: **(ادعوا ربکم تضرعا وخفیه)**.

خپل رب په پټه اوعاجزۍ سره رابلئ، امام ابوحنیفه رحمه الله دذکر بالجهر په بدعتوالی ددې ایت څخه استدلال کړیدی، لکه څرنګه چې علامه الشیخ ابراهیم الحلبی الحنفی رحمه الله لیکلي دي چې: **(قال ابوحنیفه رحمه الله: لیس کلامنا فی مطلق الذکر فانه امر مرغوب فیه فی کل الاحیان بل فی الجهر به وهوبدعة لقوله تعالی ادعوا ربکم تضرعا وخفیة الاما استثناه الشرع)**[1].

امام ابوحنیفه رحمه ا لله فرمایلي دي چې: زمونږ خبره په مطلق ذکر کې نه ده، ځکه چې مطلق ذکر په هر وخت کې بهتر عمل دی بلکې زمونږ خبرهٔ په ذکر بالجهر کې ده، ذکربالجهربدعت دی، ځکه چې الله تعالی فرمایلی دي چې (رابلئ رب خپل په عاجزۍ اوپه پټه).

(۲): قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله ددې ایت په تشریح کې فرمایلي دي چې: **(ثم اجمع العلماء علی ان الذکر سرا هو الافضل والجهر بالذکر بدعة الا فی مواضع مخصوصة مست الحاجة فیها الی الجهر کالاذان والاقامة وتکبیرات التشریق وتکبیرات الانتقال فی الصلوة للامام والتسبیح للمقتدی اذانأب نائبة والتلبیة فی الحج ونحوذالك)**[2].

---

(۱): غنیة المستملی ص ۵۳۱، کبیری ص ۵۷۵، بدائع ج۱ ص (۱۹٦).

(۲): تفسیر مظهری ج ۳ ص(٤۰۸).

په دې د علماوو اجماع ده چې ذکر په پټه بهتر دی،او ذکر بالجهر بدعت دی
مګر په هغو خاصو ځایونو کې بدعت نه دی، چې هلته جهرته ضرورت وي لکه
اذان ،اقامت ، تکبیرات دتشریق ، دامام لپاره. دانتقال تکبیرونه، اوچې کله
ضرورت پیښ شي نو دمقتدي لپاره تسبیح ویل، په حج کی تلبیه اوددې په شان
نور ځایونه.

(۳): الله تعالی فرمایلي دي چې: (**واذکر ربك فی نفسك تضرعا وخیفة ودون الجهر من القول بالغدو والاصال ولاتکن من الغافلین**).

اوخپل رب په زړه کې په عاجزۍ اودویرې حالت کښیادوه اوپه داسې اواز چې
دجهر څخه کم وی،صبا اوبیګا، اومه کیږه ته دغافلانو څخه.

امام ابوحنیفه رحمه الله ددی ایت څخه هم دذکربالجهر دبدعتوالی لپاره
استدلال کړی دی.

ابوحنیفه ثانی ابن نجیم المصری الحنفی رحمه الله لیکلی دی چی:**فقال ابوحنیفه رحمه الله رفع الصوت بالذکر بدعة ویخالف الامر من قوله تعالی واذکر ربك فی نفسك تضرعا وخیفه ودون الجهر من القول. فیقتصر علی مورد الشرع.**[1]

امام ابو حنیفه رحمه الله فرمایلی دی چی ذکر بالجهر بدعت دی اودالله تعالی
ددی ارشاد څخه مخالف دی چی: واذکر ربک فی نفسک تضرعا وخیفة الخ.

ابو البرکات عبدالله ابن احمد النسفی رحمه الله لیکلي دي چې:(**واذکر ربك فی نفسك هو عام فی الاذکار من قراءت القرءان والدعاء والتسبیح والتهلیل وغیرذالك**).

داایت عام دیټولواذکاروته دقران قراءت وي، دعاوي اوکه تسبیح اوتهلیل
وي، داټول په پټه لوستل پکار دي.

---

(۱):البحرالرایق ، ج ۱ ص (۱۵۹).

(۳)؛شاه محمداسحق رحمه الله لیکی دی چې:(سوال هفتاد پنجم ذکر جهر درشرع جایزاست یاگناه کدام گناه؟).

جواب: ذکر جهر درمذهب حنفیه بدعت است مگر جاییکی درآن ذکر ذکرجهر آمده مثل اذان وغیره.

درآن بدعت نیست. وماسوآی آن بدعت است –(**قال فی فتح القدیر والاصل فی الاذکار الاخفاء والجهر بدعة**) ...**وانچی دربعضی احادیث ذکرجهرثابت شدبغیر مواضع مقرربناء برتعلیم است**[1].

پنځه اویایم سوال: ایا ذکربالجهرجایزدی اوکه ناجایز اوکه ګناه؟ که ګناه وی نو کوم قسم ګناه ده؟

جواب دادی چې: ذکربالجهر په حنفی مذهب کی بدعت دی مګرپه هغه ځای کې په کوم ځای کې ذکر بالجهر راغلی وي لکه اذان وغیره، نوپه دې کې اوازاوچتول بدعت نه دی اوددې څخه ماسوئ په نوروځایونوکی بدعت دی،په فتح القدیر کې راغلي دي چې اصل په اذکاروکې اخفاء ده اوجهر بدعت دی ،،، اوپه بعضوکومو احادیثو کې چې ددغوځایونو څخه علاوه ذکر بالجهر راغلی دی نوهغه په تعلیم ورحمل دي.

(۳):دحضرت ابو موسی اشعری رضي الله عنه څخه روایت دی چې: (**لماغزارسول الله صلی الله علیه وسلم خیبراوقال لماتوجه رسول الله علیه وسلم اشرف الناس علی واد فرفعوا اصواتهم بالتکبیرالله اکبر-الله اکبرفقال رسول الله صلی الله علیه وسلم اربعوا علی انفسکم انکم لاتدعون آصم ولاغایباانکم تدعون سمیعاقریباوهومعکم**)[2].

کله چې نبی علیه السلام دخیبر غزوې ته ووتلو اویایې وفرمایل چې کله چی نبی علیه السلام متوجې شو نوخلک یومیدان ته ورسېدل پس په اوچت اوازیې الله اکبر الله اکبر اوازونه شروع کړل نوددې په اورېدلوسره نبی علیه السلام وفرمایل چې: په خپلوځانونو نرمي وکړئ بې شکه چې

---

(۱):مرآة مسایل ص(۹۵).

(۲):الحدیث . صحیح البخاری ج۲ص (۶۰۵).

تاسو کوڼ او غایب نه رابلئ بلکې داسې ذات رابلئ چې قریب او اوریدونکی دی او هغه ستاسی سره دی.

علامه عینی رحمه الله ددی حدیث په تشریح کې فرمایلي دي چي: (لان حاصل المعنی فیه انه صلی الله علیه وسلم کره رفع الصوت بالذکر والدعاء)[1].

څکه چې په دې کې حاصل دمعنا دادی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په اوچت اواز ذکر او دعا دواړه مکروه ګڼلي دي.

(۴): ولابی حنیفه رحمه الله ان رفع الصوت بالتکبیر بدعة فی الاصل لانه ذکر والسنة فی الاذکار المخافة لقوله تعالی ادعوا ربکم تضرعا وخیفة[2].

دامام صاحب په نیز ذکر بالجهر بدعت دی.

دلمونځ څخه بعد ذکر بالجهر مکروه او بدعت دی

(۵): لان رفع الاصوات فی ادبار الصلوات خلاف المعهود فلا یثبت الا بالیقین والیقین فیما اتفق علیه کبار الصحابه.[3]

واذا کبر وبعد الصلوة علی اثر صلوة فانه مکروه وانه بدعة.[4]

بعضې خلک د سلام د ګرزولو څخه وروسته ذکر بالجهر شروع کړي، دغه عمل بدعت دی.

دلمونځ څخه وروسته په اوچت اواز ذکر داسلام دمعلوموا حکامو څخه مخالف کار دی، مکروه او بدعت عمل دی،او حکم نه ثابتیږي مګر په یقین سره او یقیني حکم هغه وي چې دلویو، لویو صحابه کرامو نه ثابت وي په مشکوة (ج ۱ ص ۸۸) کښی حدیث دی عبد الله بن عباس رض فرمایلی دی چي مابه دنبی کریم ص دلمونځ ختمیدل په الله اکبر پیژندل، انتهی علامه عینی رحمه الله ددی حدیث په تشریح کی فرمایلي دی چي استدل به بعض السلف علی استحباب رفع الصوت بعض السلف علی استحباب رفع الصوت التکبیر والذکر عقب المکتوبة وممن استحبه من المتاخرین ابن حزم وقال ابن بطال اصحاب المذاهب المتبعة وغیرهم متفقون علی عدم استحباب رفع الصوت بالتکبیر والذکر حاشا ابن حزم وحمل

(۱): عمدة القاری ج۱٤ص(۲٤٤).

(۲): بدایع ج۱ ص(۱۹٦).

(۳): مبسوط للسرخسی ج۲ص(٤۳).

(٤): فتاوی هندیه ج٥ص(۳۱۹).

الشافعی هذا الحدیث علی انه جهر لیعلمهم صفة الذکرلانه کان دائما عمدة القاری ج ۶ ص ۱۲۶) بعضو سلفو چې په هغوی کښې ابن حزم رحمه الله هم دی ددی حدیث له وجه له لمونځ څخه وروسته په اوچت اوازتکبیراو ذکرته مستحب ویلی دی او ابن بطال رحمه الله فرمایلی دی چې دګومو مذاهبو پیروی چې کیږی، (احناف مالکیه، شافعیه، حنابله) ټول پدی متفق دی چې دلمونځ څخه وروسته ذکر بالجهراو په اوچت اواز تکبیر مستحب نه دی او امام شافعی رح فرمایلی دی چې نبی کریم ص دلمونځ څخه وروسته کله ناکله دتعلیم لپاره په اوچت اواز الله اکبر ویلی دی ددی لپاره چې صحابه کرام طریقه دذکر یاده کړی داسی نده چې همیشه ئی په زوره الله اکبر ویلی دی علامه ساعاتی رحمه الله فرمایلی دی چې وهو محمول علی انه فعل ذلک لتعلیم الناس الذکرفقط وغیرذلک کان یسربه بلوغ الامانی (ج ۴ ص ۷۱) یعنی نبی علیه السلام داذکر بالجهرتعلیماکړی دی علامه کشمیری رحمه الله لیکلی دی چې تمسک بظاهره ابن حزم وذهب الی سنیة الجهربالتکبیر دبرالصلوة وانکرها الجمهور، فیض الباری ج (۱ ص ۳۱۵) ابن حزم رح ددی حدیث دظاهرمطابق دلمانځه څخه وروسته جهر بالکتبیرته سنت ویلی دی لکن جمهورو ددی څخه انکار کړی دی ملاعلی القاری ددی حدیث په تشریح کی ډیر توجیهات لیکلی دی بیائی لیکلی دی چې: وقیل ذلک فی ایام التشریق بمنی وهذا اوفق لمذهب الحنفیة فی کراهتهم الجهر بالذکر فی عداما ورد ددی څخه په منی کی تکبیرات التشریق مراد دی او داتوجیه داحنافو دمذهب سره ډیره موافقه ده ځکه چې هغوی به غیرمنصوصو ځایونو کی ذکر بالجهر مکروه ګنې ۱۲.

(۶): لان الجهر بالتکبیر بدعة فکان الاخذ بالاقل اولی احتیاطا.[1]

تکبیر (ذکر) بالجهر بدعت دی.

تنبیه: اولی په معنا دواجب سره په فقهه کی ډیر راغلی دی.

(۷): وفی الفطر المختار من مذهبه انه لایجهر[2].

---

(۱): تبیین الحقایق زیلعی ج۱ ص(۲۲۷).

(۵): تبیین الحقایق زیلعی ج۱ ص(۲۲۷).

فقال ابوحنیفه رحمه الله رفع الصوت بالذكر بدعة[١].
په وړوکي اختر کې چې مسلمانان عیدګاه ته روان وي نوذکربالجهر دې نه کوي، امام ابوحنیفه رحمه الله فرمایلي دي چې ذکربالجهر بدعت دی.
(٨): رفع الصوت بذكر اوقراءت والصياح خلف الجنازة اه لما روى البيهقي ان الصحابة رضي الله عنهم كرهوا رفع الصوت عند الجنازة وعند القتال وعند الذكر اه. فجرام يجب انكاره اهـ[٢].
اواز اوچتول دذکر، دقراءت اوجنازې پسې دتللو په وخت کې بد اوخراب عمل دی، صحابه کرامو داعمل مکروه ګڼلو.
(٩): رفع الصوت بالذكر بدعة فيقتصر على مود الشرع[٣].
ذکربالجهربدعت دی.
(١٠): ولايكبر يوم الفطر يعني جهرا في قول ابي حنيفه رحمه الله وهل يكبر في الاسواق في الايام العشر قال الفقيه ابوجعفر رحمه الله سمعت ان مشايخنا رحمهم الله قالوا يرون ذالك بدعة[٤].
دوړوکي اختر په ورځ تکبیر (ذکر) بالجهر د امام صاحب په مذهب ممنوع دی، اودلوی اخترپه لسو ورځو کې په بازارونوکې په اوچت اوازتکبیرونه ویل بدعت دی.
ردالمحتار فرمایلی دی چې ویلی شي لکن قاضی خان بالاتفاق له اصحابو الترجیح دی.

---

(١): فتح القدير ج٢ص(٤١).
(٢): الفقه الاسلامي وادلته ج٢ص(٥١٧).
(٣): شاميه ج١ص(٥٥٨).
(٤): شاميه ج١ص(٥٥٨).

(۱۱)؛دحضرت ابوهريره رضى الله عنه اودحضرت على رضى الله عنه په احاديثوكې دقيامت تقريباً پنځلسى علامې ذكر شوي دي،يوه پكې داهم ده چې:(وظهرت الاصوات فى المساجد)[۱].

ددې حديث په تشريح كې ملاعلى القارى رحمه الله ليكلي دي چې(وقدنص بعض علماءنا بان رفع الصوت فى المسجد ولوبالذكر حرام)[۲].

زمونږ بعضو علماوو په صراحت سره فرمايلي دي چې په مسجد كې اواز اوچتول حرام دي اګر كه دذكر اواز وي.

(۱۲):فان رفع الصوت بالتكبير تعبدا بدعة.[۳] دعبادت په نيت.

په تكبير اواز اوچتول بدعت دى.

(۱۳):قال العينى قوله لايكبر اى جهرا وانما قيدنا بالجهر لان التكبير خير موضوع لاخفاء فى جوازه بصفة الاخفاء وجه الاول ان رفع الصوت بالذكر بدعة فيقتصر على مور دالشرع[۴].

علامه عينى رحمه الله فرمايلي دي چې خفيه ذكربهترين عمل دى، اوذكر بالجهر بدعت دى.

(۱۳):وفى فتاوى القاضى رفع الصوت بالذكر حرام قد صح عن ابن مسعود رضى الله عنه: انه سمع قوما اجتمعوا فى مسجد يهللون ويصلون عليه الصلوة والسلام جهرا فراح اليهم

(۱):مشكوة ج۲ص(٤٧٠).
(۲):مرقات ج۱۰ص۱۷۱ طبع ملتان.
(۳):اعلاء السنن ج ۸ ص(۱۲۲).
(٤):اوجزالمسالک ج ۸ ص(۱٤).

فقال ماعهدنا ذالك على عهده عليه السلام وما اراكم الامبتدعين فمازال يذكر ذالك حتى اخرجهم عن المسجد[1].

دقاضی صاحب په فتاوی کې دي چې ذکر بالجهر حرام دی، او دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه صحیح ثابته ده چې هغه واورېدل چې یو څه خلک په مسجد کې راجمعه شوي دي او په اوچت اواز سره لااله الاالله وايې اودرود شریف لولي نوعبدالله بن مسعود رضی الله عنه ورغلو. اوورته ویې فرمایل چې دا(ذکربالجهر تعبدا) دنبی علیه السلام په زمانه کې نه وو،اوزما په ګمان تاسوبدعت یانیې بیاییایې ورته همدا خبره کوله تردې چې دمسجد څخه یې وویستل.

(۱۴):دنبی علیه السلام دصحابه وو رضی الله عنهم په باره کی رائحی چې(اقلهم تكلفا)[2].

ملاعلی القاری رحمه الله ددې په تشریح کې فرمایلي دي چې:(ولايتحلقون للاذكاروالصلواة برفع الصوت فى المساجد وفى بيوتهم)[3].

صحابه کرامو رضی الله عنهم به په کورونو اومسجدونو کې په اوچت اواز دذکر اودرود لپاره حلقې نه جوړولې.

---

(۱):بزازيه على هامش الهنديه ج۳ص(۳۷۵).

(۲):مشكوة ج ۱ص(۳۲).

(۳):مرقات ج۱. ص (۲۱٤).

دجنازې پسې شاته ذکرکول بدعت دی

(۱): علامه کاسانی رحمه الله فرمایلي دي: (ويطيل الصمت اذا تبع الجنازة، ويكره رفع الصوت بالذكر)(۱).

دجنازې پسې دتللو په وخت کې به خاموش اوسې او په دې وخت کې په اوچت آواز ذکرمکروه دی.

(۲): علامه ابن نجيم رحمه الله ليکلي دی چې: (وينبغي لمن تبع جنازة ان يطيل الصمت ويكره رفع الصوت بالذكر وقرأءة القرآن وغيرهمافي الجنازة والكراهة فيها كراهة تحريم)(۲).

دجنازې پسې شاته ذکربالجهرحرام دی.

څلورمه مسئله
عقيده دعلم الغيب

سیفیان بریلویان دفقهی حنفی په خلاف غيرالله ته هم علم الغيب ثابتوي.

داهل السنة والجماعة احنافو دعقيدې وضاحت: دلته څلورشیان جدا جدا دي:

(۱): دنبی کریم صلی الله علیه وسلم علم (۲) غیب (۳) اخبار بالغيب (۴) علم الغيب:

(۱): دنبی صلی الله علیه وسلم علم: درسول الله صلی الله علیه وسلم په علم کې اختلاف نشته دی.

درسول الله صلی الله علیه وسلم علم دټول مخلوق دعلم څخه زيات ؤ نبی علیه السلام فرمایلي دي چې (اوتيت علم الأولين والأخرين).

(۱): بدائع ج۱ ص (۳۰۲).

(۲): البحرالرائق ج۲ ص(۲۰۷).

د نبی علیه السلام د علم دلائل د علم الغیب دلایل نه شي کېدلی.

(۲) غیب: د غیب تعریف داسې دی چې (**مالایدرکه الحواس ولاتقتضیه بداهة العقل**)

بیضاوی تحت قوله تعالی یؤمنون بالغیب آه.

تشریح یې داده: چې اسباب د علم درې دي (۱) خبر صادق (۲) حواس (۳) عقل:

بیا په عقل باندې کله دیو معلوم ادراک بداهةً کېږي او کله استدلالاً

نو غیب د یته وایې چې په حواسو او په عقل باندې یې ادراک بداهةً نه کېږي.

یعنې دکوم معلوم ادراک چې دحواسو په ذریعه کېږي هغه غیب نه دی

او همدارنګه دکوم معلوم ادراک چې په عقل بداهتاً کېږي هغه غیب نه دی.

پاتې شو هغه معلوم چې دخبر صادق په ذریعه یې ادراک کېږي لکه: دبرزخ او دقیامت حالات.

همدارنګه هغه معلوم چې دعقل په ذریعه یې استدلالاً ادراک کېږي لکه: نظری قضایا، نو دا او دواړه غیب دي.

یو بل قسم غیب هم شته چې نه یې دخبر صادق په ذریعه ادراک کېږي او نه دعقل په ذریعه استدلالاً لکه ددیوال شاته څه شی دی؟

دا نه په خبر صادق کې راغلی دی او نه په عقل استدلالاً معلومېږي همدارنګه دمرګ نیټه وغیره...

حاصل دا چې غیب په دوه قسمه دی (۱): ماتحت الاسباب چې دخبر صادق په ذریعه یا یې دعقل په ذریعه استدلالا ادراک ممکن وي.

دوهم: مافوق الاسباب چې دخبر صادق او عقل په ذریعه یې ادراک ممکن نه وي.

قاضي بيضاوی رحمه الله فرمايلي دي چې غيب په دوه قسمه دی(۱) :(ما ننصب عليه دليل)يعنه ماتحت الاسباب كما تقدم.

دوهم: (مالم ينصب عليه دليل)يعنې مافوق الاسباب .

اول قسم ته اضافی غيب وايې دوهم قسم ته حقيقی غيب وايې.

حقيقی غيب فقط دوهم قسم دی اول قسم ته غيب ويل په اعتبار دماكان سره دی.

صاحب دفتاوی بزازيه فرمايلي دي چې (وما اعلم الله لخيار عباده بالوحی او الالهام الحق لم يبق بعد الأعلام غيبا)[1].

الله جل جلاله چې بنده ګانو ته دوحی یادالهام په ذريعه دكوموغيبو اطلاع وركړې ده نو د اطلاع څخه بعد دا غيب غيب نه پاتې كيږي.

همدارنګه حافظ ابن حجررحمه الله فرمايلي دي (فان لبعض الغيوب اسبابا قد استدل بها عليه لكنه ليس بحقيقی)[2].

يعنې دوحی ، الهام وغيره.... اسبابو په وجه چې كوم غيب منكشف شي داحقيقی غيوب نه دي .

يعنې ماتحت الاسباب غيوب حقيقی غيوب نه دي .

اخبار بالغيب(۳): په ماتحت الاسبابو يعنې په اضافی غيوبو چې الله تعالی چاته علم وركړي نو په شريعت كې دهغې څخه په اخبار بالغيب ، ايمان بالغيب او اطلاع بالغيب باندې تعبير كيږي .

---

(۱):بزازيه ج ٤ صفحه (۱۱۹).

(۲):فتح الباری صـــ (٤۹۱).

علامه سید شریف الجرجانی رحمه الله فرمایلي دي چې (وانما لم یجز الاطلاق فی غیره تعالی لانه یتبادر منه تعلق علمه به ابتداءً فیکون مناقضاً واما اذا قید وقیل اعلمه الله تعالی اواطلعه علیه فلا محذور فیه)(۱).

علم الغیب(۴): په مافوق الاسباب غیوبو باندې علم ته علم الغیب وایې اودا دالله جل جلاله خاص صفت دی.

خلاصه داچې علم الغیب دېته وایې چې اسباب دعلم به نه لري یعنې ذاتي به وي ،یعنې مافوق الاسباب به وي.

اومافوق الاسباب یوائې دالله جل جلاله علم دی اودمخلوق علم ماتحت الاسباب دی.

نودهیڅ مخلوق علم ،علم الغیب نه شي کېدلی .

په علم الغیب کې درې خبرې ضروري دي(۱)ذاتی والی (۲)ازلی والی (۳) کلی والی.

وروسته به دابن عابدین په حواله راشي چې علم غیب به ذاتی ،ازلی اوکلی وي ،اوداسې علم فقط دالله تعالی دی.

په حنفی فقهه کې علم الغیب فقط ذاتی یعنې مافوق الاسباب ته وایې

(۱):علامه الوسی رحمه الله فرمایلي دي (فالعلم به لکونه بواسطة الاسباب لایکون من علم الغیب)(۲).

---

(۱):السیدشریف برهامش کشاف ج ۱ صـــ (۱۲۸).
(۲):روح المعانی ج ۲۰صـــ (۲۹۹).

یعنې علم الغیب ذاتی وي داسبابو (وحی،الهام،کشف،عقل اوحواسو)په ذریعه به نه وي.

(۲):(هومالم یقم علیه دلیل ولااطلع علیه مخلوق)[1].

په علم الغیب کې دلیل او اطلاع نه وي یعنې ذاتی اومافوق الاسباب وي.

(۳):(ماغاب عن المشاهد ولم یقم علیه دلیل)[2].

علم غیب ذاتی وي دمشاهدې اوددلایلوواسطه په کې نه وي یعنې دوحی، الهام وغیره سبب په کې نه وي.

(۴):(والتحقیق ان الغیبب ماغاب عن الحواس والعلم الضروری والعلم الاستدلالی وقدنطق القرآن بنفی علمه عمن سواه تعالی فمن ادعی انه یعلمه فقط کفرومن صدق المدعی کفرواماماعلم بحاسة اوضرورة اودلیل فلیس بغیب)[3].

په علم الغیب کې هیڅ سبب نه وي نه حواس اونه علم ضروری اونه علم استدلالی اوماتحت الاسباب چې دحواسوپه ذریعه په یوشي علم راشي اویادعقل په ذریعه بداهةً په یوشي علم راشی یادبل دلیل په وجه لکه دوحی، الهام یاکشف په ذریعه په یوشي علم راشي نود اعیب نه دی اوچاچې دعوه دعلم غیب وکړه هغه هم کافردی اوچاچې دمدعی دعلم الغیب تصدیق وکړو هغه هم کافردی.

(۵):(وماعلم الله لخیارعبادہ بالوحی اوالالهام الحق لم یبق بعدالاعلام غیبا).

(۱):تفسیر نسفی ج ۲ صـــ (٦١٧).

(۲):تفسیرمظهری ج ۷ صـــ (۱۲۷).

(۳):نبراس صـــ (۳٤۳).

(٤):بزازیه ج ٤ صـ (۱۱۹).

کوم غیب چې دوحی یادالهام په ذریعه یې الله تعالی چاته علم ورکړي نوداطلاع څخه وروسته هغه غیب غیب نه پاتې کېږي ،نوپه هغې باندې علم، علم الغیب نه دی.

(۶):(ان علم الانبیاء والاولیاء هوباعلام من الله تعالی لهم وعلمنا بذلك هو باعلامهم لنا

وهذا غیر علم الله الذی تفرد به وهو صفة من صفاته القدیمة الازلیة الدایمة ..:. فلایعلم الغیب احد الاهو وماسواه ان علموا جزئیات منه فهوباعلامه واطلاعه وحینئذ لایطلق انهم یعلمون الغیب اذلاصفة لهم یقتدرون بها علی الاستقلال)[۱].

فوائد(۱):اطلاع بالغیب عین علم غیب نه وي ځکه چې اطلاع بالغیب انبیاوو او اولیاوو ته هم شته او مونږ ته هم شته انبیاوو او اولیاوو ته الله تعالی اطلاع ورکړې ده اومونږ ته اولیاوو او انبیاوو اطلاع راکړې ده حالانکې علم الغیب زمونږ سره نشته ،نوکه په غیبو داطلاع څخه وروسته علم ،علم الغیب وي ،نوپه کار ده چې مونږ ته هم علم الغیب ثابت شي.

(۲): غیرالله ته دټولو غیبو اطلاع نه ده شوې بلکې دبعضو جزئیاتو اطلاع ورته شوې ده.

(۳):علم الغیب ذاتی ، ازلی ،کلي اومحیط وي.

چې داطلاع واسطه په کې نه وي بلکې مستقل وي نوهمدا د(ذاتی) معناده او د(ازلیة) لفظ خوصراحتاً راغلی دی او د(الدایمة)څخه هم کلیة اواحاطه رافهمېږي اود(ماسواه وان علم جزیات)څخه هم کلیت اواحاطت رافهمېږي .

لهذا علم الغیب ذاتی، ازلی ،کلي اومحیط وي .

(۸) : (فان لبعض الغیوب اسباباً قداستدل بها علیه لکنه لیس بحقیقی)[۲].

---

(۱):رسائل ابن عابدین ج۲ صـــ (۴۵۹).

(۲):فتح الباری صــ (۴۹۱).

دوحی،الهام، کشف، حواسو، عقل وغيره ذرائعو په وجه چې کوم غيب منکشف کېږی هغه حقيقی غيب نه دی.

داحنافوپه نيزغيرالله ته علم الغيب ثابتول کفر دی: حقيقی غيب مافوق الاسباب ذاتی، ازلي اوکلي وي لهذا غيرالله ته دعلم الغيب عقيده کفرده.

ملاعلی قاری رحمه الله فرمايلي دي چې **(فالعلم بالغيب أمر تفرد به سبحانه وتعالى ولاسبيل للعباد اليه الا بأعلام منه والهام بطريق المعجزة اوالكرامة اوالارشاد بالامارات فيما يمكن فيه، ذلك ولهذا ذكر في الفتاوى ان قول القائل عند رؤية هالة القمراى دائرته (يكون مطرٌ) مدعيا علم الغيب لابعلامة الكفر)**(١).

(٢): علامه ابن عابدين رحمه الله فرمايلی دي چې **(قلت وحاصله ان دعوى علم الغيب معارضة لنص القرآن فيكفربها)**.

ردالمحتار باب المرتد مطلب فی دعوی علم الغيب.

(٣): **(رجل تزوج بشهادة الله ورسوله كان باطلا لقوله عليه السلام لانكاح الابشهود وكل نكاح يكون بشهادة الله ورسوله معظمهم جعلوا ذلك كفرا لانه يعتقد ان الرسول صلى الله عليه وسلم يعلم الغيب وهوكفر)**(٢).

(۴): په خلاصة الفتاوی ج ٢ صـ ١٥ کې راځي چې **(رجل تزوج امرأة ولم يحضره شهود فقال، خداورسول يافرشته ان راه وكواه كردم بطل النكاح وكفر الناكح لاعتقاد أن الرسول صلى الله عليه وسلم والملئكة تعلم الغيب)**.

---

(١): شرح الفقهة الاكبر صـــ ١٥١ تصديق الكاهن فيما يخبر.

(٢): قاضي خان على هامش الهندية باب مايكون اسلامامن الكفر ومالا يكون ج ١ صـــ (٣٣٤).

(۵):(لوتزوج بشهادة الله ورسوله صلى الله عليه وسلم لاينعقد ويكفر لاعتقاده ان النبى صلى الله عليه وسلم يعلم الغيب)[۱].

(۶):(تزوجها بشهادة الله ورسوله صلى الله عليه وسلم لاينعقد ويخاف عليه الكفر لانه يوهم أن النبى صلى الله عليه وسلم يعلم الغيب)[۲].

(۷):اگركسى بدون شهود گفت كه خدا ورسول راگواه كردم يافرشته راگواه كردم كافرشود[۳].

(۸):(ذكر الحنفية فى فروعهم بالتكفير باعتقادان النبى صلى الله عليه وسلم يعلم الغيب لمعارضة قوله تعالى، قل لايعلم من فى السموات ولارض الغيب الاالله)[۴].

(۹):(زوج امرأة بشهادة الله ورسوله هل يكفر؟ ففيه الفاظ الكفر)[۵].

(۱۰):مفتى محمد فريد رحمه الله ليكلي دي چې دعلم غيب دوه معناگانې دي.

(۱):يوعلم مافوق الاسباب يعني بغير داسبابوڅخه علم لرل اوداشرعى اواصلاحى معناده.

(۲):داچې علم په هغه شيانوچې دحواسواوعقل نه اوچت وي او دېته غيب لغوى وايي.

علم غيب په اولنى معناسره دالله جل جلاله سره مختص دى ځكه چې دممكن دټولوكارونو ذات اوصفات دالله تعالى وركړه ده، ومابكم من نعمة فمن الله.

---

(۱):البحرالرائق ج ۳ صــ ۱۵۰).

(۲):برازيه ج ٤ صــ (۱۱۹).

(۳):مالابدمنه صــ (۱۳۹).

(٤):المسامره صــ (۱۵۸).

(٥):خلاصة الفتاوى ج ۲ صــ (۱۵).

اودوهم قسم انبیاء علیهم السلام ته ورکړل شوی دی خوپه قدرد ضرورت نه داچې تول په تول له الخ(۱).

(۱۱): لوتزوج امرأة بشهادة الله ورسوله لایجوزالنکاح وعن قاسم الصفار وهوکفر محض لانه اعتقدان رسول الله یعلم الغیب وهذاکفر(۲).

(۱۲): قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله فرمایلي دي چې (همچنان نصارا عیسی راپسرخداومشرکان عرب ملائکه رادختران خدا گفتند وعلم غیب به انها مسلم داشتند کافرشدند)(۳).

(۱۳): علامه نسفی رحمه الله لیکلي دي چې (رأی المنصورفی منامه صورة ملك الموت وسأله عن مدة عمره فاشارباصابعه الخمس فعبرها المعبرون بخمس سنوات وبخمس اشهروبخمسة أیام، فقال ابوحنیفة رحمه الله هواشارة الی هذالایة فان العلوم الخمس لایعلمهاالاالله تعالی)(۴).

خلیفه منصورپه خوب کې ملک الموت لیدلی وو اودخپل عمرپه باره کې یې ترېنه پوښتنه کړې وه ملک الموت ورته په خپلوپنځه گوتو سره اشاره کړې وه نوبیاپه تعبیرکوونکوکې چا تعبیرپه پنځه کالونوکوه چاپه پنځه میاشتو اوچاپه پنځوورځوامام ابوحنیفه رحمه الله داسې تعبیروکړه چې په دې کې هغو پنځو غیبونو ته اشاره ده چې دالله تعالی څخه بغیر یې هیچاته معلومات نشته الله جل جلاله فرمایلی دي (ان الله عنده علم الساعة).

(۱): فتاوی فریدیه ج ۱ صـ (۸٦).
(۲): مجمع الانهر شرح ملتقی الابحر ج ۱ صـ ٤٧٢ بیروت.
(۳): مالابدمنه صـ (۱۱، ۱۲).
(٤): مدارک ج ۳ صـ (۷۲۳).

چلينج

دحنفي فقهي په سلګونو عباراتوکې صراحتاً راغلی دي چې علم غيب دالله تعالى خاص صفت دی اوغيرالله ته دعلم الغيب عقيدې والاکافردی سيفيان بريلويان دې صرف دوه حوالې دحنفي فقهي څخه داسې پيش کړي چې غير الله ته دعلم الغيب څخه منکرکافردی.

پنځمه مسئله

دحاضراوناظر

سيفيان بريلويان دنورو بريلويانو په شان دحنفي فقهي په مقابله کې نبي عليه السلام ته حاضراوناظروايي.

(۱):دسيفيانوبريلويانو مصنف اعظم مولانا غلام ياسين صاحب محمدی سيفي نقشبندی چشتي ماتريدی، مستقل کتاب لیکلی دی په نوم د(حاضروناظر محبوب) یعنے ہمارا نبی صلی اللہ علیہ وسلم حاضروناضر ہے.

مطبوع مکتبہ محمدیہ سیفیہ راوی ریان حسینی ٹاون جی ٹی روڈلاہور.

(۲):دسيفانوبريلويانو استادالعلماء شيخ الحديث مولانا غلام فريدهزاروی سيفي رضوی يوکتاب لیکلی دی په نوم د معروضات الحاذق فی خدمة مولاناصادق ددې کتاب په (۱۲) صفحه کې يې ليکلي دي (بلکہ میں مسمّٰی غلام فرید سیفی ہزاروی نے ایک موقع پر سرکار مبارک سے دوران گفتگو پوچھا کے کیا حضور صلی ا اللہ علیہ وسلم حاضروناظر ہے؟

توآپ نے تصدیق فرماتی ہے کہ ہا بلکل حضور صلی اللہ علیہ وسلم حاضروناضر ہے)انتهی.

يعنې مايوه ورځ دپيرسيف الرحمان صاحب څخه پوښتنه وکړه چې آيا حضور صلی الله عليه وسلم حاضراوناظردی؟

نوپیرسیف الرحمان صاحب راته وویلې چې هو نبی علیه السلام حاضر او ناظردی.

(۳):پیرسیف الرحمان صاحب وایې چې زه په ټولوفتاوی جاتوکې داحمد رضاخان بریلوی صاحب سره موافق یم[۱].

اودبریلونوغزالی دوران مولوی عمراچهروی لیکلي دي چې (حضور صلی اللہ علیہ وسلم زوجین کے جفت ہونے کے وقت بھی حاضر وناظر ہوتی ہے)[۲].

یعنې خزه اوخاوند چې سره یوځای کیږي په دغه وخت کې هم (معاذالله)نبی علیه السلام حاضروناظردی.

حالانکې په حنفی فقهه کې داسې دي چې (**من قال ارواح المشائخ حاضرة تعلم یکفر**).

الفتاوی بزازیة علی هامش الهندیة،الفصل الثانی فی مایتعلق بالله).

دبریلویانومناظراعظم مولانا نظام الدین الملتانی داحنافومسلک داسې رانقل کړی دی چې (اګرکسی اعتقاد دارد که ارواح مشائخ حاضرآند هر چیزمیداند اوچی حکم دارد؟

جواب: اوکافراست فی البزازیة من قال ارواح المشائخ حاضرون یعلمون یکفر[۳].

سوال: که یوسړی داعقیده ولري چې دمشائخو ارواح په هرځای کې حاضراوناظردي اوپه هرشي خبردي دده په باره کې دشریعت حکم څه دی؟

---

(۱):انواررضا صـــ ۲۵، ۴۰ وغیره...

(۲):مقیاس حنفیت صـــ(۲۸۲).

(۳):انوارشریعت ج ۱ صـــ ۳۹ سنی دارالاشـ عت فیصل آباد.

جواب دادی: چې داسې شخص کافر دی او په فتاوی بزازیه کې راغلي دي چې کوم سړی داووایي چې دمشائخو روحونه حاضر دي او زمونږپه حالاتو پوهېږي هغه کافر دی ،

همدارنګه یې لیکلي دي چې په هروخت په هرځای کې حاضراوناظر دخداوند کریم لم یلد ولم یولد خاصه ده.

او هغه لایزال ذات لیس کمثله شئ دی او په داسې صفاتو ذاتیه وو کې دکوم نبی یادولی شریکول یاداسې ګڼل اوپه دې باندې عقیده لرل ښکاره کفر دی.

لکه څرنګه چې مولانا عبدالحی رحمه الله په خپله فتاوی اول جلد ص ۳۲۸ کې داسې رانقل کړي دي چې (وتزوج بلاشهود وقال خداورسول وفرشته ګان راګواه کردم یکفرلانه اعتقدان الرسول والملک یعلمان الغیب ونیزدربزازیه آست قال علماءنا من قال ان ارواح المشائخ حاضرة تعلم یکفر[1].

ددې حوالې څخه معلومه شوه چې په حنفی مذهب کې په هروخت او هرځای کې حاضراوناظر فقط الله جل جلاله دی.

اوکوم مخلوق په هروخت اوپه هرځای کې حاضراوناظر ګڼل دکفرعقیده ده.

اودسیفیانو بریلویانو عقیده داده چې دښځې اودخاوند دیوځای کېدو په وخت کې هم (معاذالله) رسول الله صلی الله علیه وسلم حاضراوناظردی[2].

پدغه وخت کې دشرم اوحیاله وجې ملائکې جداکېږي لکن دابدبختان پدغه وخت کې نبی علیه السلام حاضراوناظر ګڼي.

---

(۱):انوارشریعت جلد۲ صـ (۲۳۹).

(۲):مقیاس حنفیت صــ(۲۸۲).

مولوی عمراچهروی ددې خپلې ګنده عقيدې لپاره دحديث څخه استدلال کړی دی چې دحضرت ابوطلحه رضی الله عنه ماشوم بچی مريضؤ عين په هغه شپه وفات شوچې په کومه شپه چې ابوطلحه دسفرڅخه کورته راغلو ام سليم رضی الله عنها خبره پټه کړه چې هسې نه چې د ابوطلحه رضی الله عنه ټوله شپه په غم تېره شي دخاوند سره يې بلکل دعامو حالاتوپه شان ګفتګووکړه.

حضرت ابوطلحه رضی الله عنه دشپې خپلې بی بی سره جماع وکړه سهارورته ام سليم رضی الله عنها وفرمايل چې مادرته دشپې حال ونه ويلې چې تاسو خفه نه شئ ستاسو ماشوم بچی وفات شوی دی دتجهيزاوتکفين بندوبست يې وکړه.

ابوطلحه رضی الله عنه چې نبی عليه السلام ته واقعه واوروله نونبی عليه السلام دام سليم دصبراودتحمل څخه تعجب وکړواوپه سواليه اندازېې وفرمايل چې (اعرستم الليلة؟)

آياددې دردناکې واقعې څخه بعدتاسوجماع هم وکړه اوبياهم ام سليم حال نه ويلو؟

ابوطلحه رضی الله عنه وفرمايل چې هو ،انتهی.

دلته په کوم ځای کې راغلي دي چې نبی عليه السلام هلته حاضراوناظروو.

که زيد دعمرو څخه پوښتنه وکړي چې آياتا دخپلې بی بی سره جماع کړې ده هغه ورته ووايې چې هو ،نوددې خودامعنانه ده چې زيدهلته حاضراوناظروو ويده يويې جوړوله.

امام نووی رحمه الله فرمايلي دي چې (السؤال للتعجب من صنيعها وصبرها وسرورا بحسن رضاها بقضاء الله ثم دعا صلى الله عليه وسلم لهما بالبركة فى ليلتهما فاستجاب الله)[1].

(۱):شرح مسلم ج ۲ صــ۲۰۹

دنبی علیه السلام ذاپوښتنه چې (اعرستم الیلة؟) ددې بی بی دصبر اوتحمل څخه دتعجب په بنیاد ده اوپه دې تعجب ؤ چې څومره دالله تعالی په فیصله راضی ده بیایې ورته دبرکت دوعاوکړه الله تعالی دوعاقبوله کړه.

شپږمه مسئله

په مافوق الاسباب کې دغیرالله څخه کومکونه غوښتل

غیرالله مشکل کشااوحاجت رواګڼل:سیفیان بریلویان غیرالله ته باذن الله مشکل کشا وایې اووایې چې غیر الله په مافوق الاسباب کې باذن الله مددکولی شي.

سوال: دادی چې ددوئ په نیزدباذن الله څه مطلب دی؟

جواب:ددوئ په نیزدباذن الله دامعنا ده چې الله تعالی غیرالله ته په مافوق الاسباب کې دمدد کولو قدرت ورکړی دی یعنې الله غیر الله ته داقدرت ورکړی دی چې خلکو ته بچي ورکړي اودخلکو ګناهونه معاف کړي وغیره.... اومافوق الاسباب یو کار کول خلق دی. (**کمافی شرح العقایدفی ذکرالفرق بین الخلق والکسب**)اوغیرالله ته د خلق الاشیاء صفت ورکول ممکن نه دی بلکې محال دی.

(۲)سوال:یارسول الله ماته بچی راکړه زما ګناهونه معاف کړه ماته مړی راجوندي کړه ماته شفاء راکړه داسې مافوق الاسباب امور دغیر الله نه غوختل څنګه دي؟

الجواب: دا شرک في الدعاء دی.

سوال :سیفیان وایې چې مونږ دا ځکه وایو چې الله جل جلاله دا قدرت رسول اللهﷺ صلی الله علیه وسلم ته معجزتا او اولیاء ته کرامتا ورکړي دي.

جواب: د اشاعره وو او ماتریدیه ووپه نیز د شفاء احیاء اماتت وغیره رجوع د الله دتکوین او دخلق صفت ته ده نو دسیفیانو دخبرې مطلب داشو چې الله تعالی اولیاء الله ته دخلق الاشیاء قدرت ورکړی دی او اشعریه او ماتریدیه وایې دا محال دی چې الله چاته د خلق الاشیاء صفت ورکړي او محال تحت قدرت الله نه وي.

سوال: بریلیان سیفیان معتزل (مجوس) وایې چې مونږ خو د اشفاء او احیاء الموتی نسبت غیر الله ته کسباً کوو؟

جواب: ددې داسې مثال دی لکه څوک ووایې چې مونږ بندګانو ته دخلق ا لاشیاء نسبت کسبا کوو حالانکې د اخکاره حماقت او شرک دی (ځکه دادواړه نه شي جمع کېدلی). کسب دالاتو او اسبابو سره تعلق لري یعنې کسب ماتحت الاسباب وي (کمافی شرح العقاید) او خلق مافوق الاسباب وي.

سوال: (واذ تخلق من الطین) سره به څه کوې؟

جواب: معتزله وو او سیفیانو په دې آیت استدلال کړی دی چې ټول بندګان باذن الله د خپلو اعمالو خالقان دي او غلاة متصوفه وو پرې استدلال کړی چې ټول بندګان نه بلکې اولیاء الله باذن الله د اشیاء خلق کولی شي نو دوئ هم معتزله دي په دې مسئله کې مونږ دوئ ته وایو چې هغوئ باذن الله باندې استدلال په خلق الاعمال وکړو نو ګمراه شو چې ته غیر الله ته باذن الله د خلق صفت ورکوې نو ته ګمراه نه یې؟

سوال: ددوئ باره کې حدیث کې څه راغلي دی.

جواب: د بریلیانو او سیفیانو (معتزله وو) په باره کې ددې عقیدې له وجې راغلي چې دوئ ددې امت مجوس دي (مشرکان د).

سوال : د (واذ تخلق من الطين۔۔۔اودباذن الله) څه مطلب دی؟

جواب: د معتزله بريليانو سيفيانو (مجوسو) په نيزيې مطلب دادی چې الله ورته صفت دخلق الاشياء ورکړی دی دا يې ذاتی صفت نه دی بلکې عطائی طور باندې خلق الاشياكوي (والعياذ بالله) او داهل السنة په نيزتخلق په معنی د صورة جوړولو سره دي (شرح فقه اکبر).

او باذن الله مطلب دا نه چې بعطاء الله (چې الله ورته صفت د خلق الاشياء ورکوي) بلکې په ارادې د الله سره او الله چې د کوم شي اراده وکړي هغه په خپله کوينه داسې چې اراده الله (جل جلاله) وکړي او پيدا کوي يې بل څوک اود باذن الله مطلب دا هم دی چې عيسی عليه السلام به ورته فقط ويل قم باذن الله نه چې په خپل قوت به يې دا کار کوه بلکې قم باذن الله د الله نه دعاء وه او الله به قبلوله.

(۱)؛قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله (المتوفی سنة ۱۲۲۵ هـ) ليکلي دي چې:مسئله:آن چه جهال می گويند ياشيخ عبدالقادر جيلانی شيئا لله ياخواجه شمس الدين پانی پتی شيئالله جائزنيست شرک وکفراست واگرالهی به حرمت خواجه شمس الدين پانی پتی حاجات من رواکن گويد مضائقه ندارد حق تعالی می فرمايد (ان الذين تدعون من دون الله عبادٌ امثالکم سورة اعراف ۱۹۴).

يعنې ازکسائی که شمادعامی خواهيد سوای خدا انها بنده گان مانند شما انها راچه قدراست که حاجت کسی برارند؟

واگر کسی گوید که این درحق کفار جواب ان است که اعتبار به عموم لفظ است نه خصوص محل)[1].

جاهلان چې داسې وايې چې یاشیخ عبدالقادر جیلانی شیئاًلله یاداسې وايې چې یاخواجه شمس الدین پانی پتی شیئاًلله (داستمداداو کومک غوښتلو په نیت) شرک او کفر دی.

اوتوسل جائزدی چې کومک اوامداد دالله تعالی څخه غواړې اوخواجه شمس الدین ورته وسیله کوې چې یاالله تعالی دخواجه شمس الدین رحمه الله په وسیله او حرمت زما مشکل حل کړه نو بیا جائز دی.

الله جل جلاله فرمایلي دي چې هغه خلک چې تاسو ور څخه په (مافوق الاسباب کې) کومکونه غواړئ ستاسو په شان بنده ګان دي ستاسو مشکلات نه شي حل کولی که څوک ووایې چې داآیتونه دکافرانو په باره کې نازل شوي دي نو جواب دادی چې اعتبار عموم دلفظ ته وي خصوص دسبب ته اعتبار نه وي.

(۱): حضرت قاضی صاحب داولیاوو په باره کې دګمراه خیالونو والا تعارف داسې کړی دی (وبعضی دراولیاء عصمت وعلم غیب خیال می کند ومی دانند که اولیاء هرچه خواهند همان شود وهرچه نخواهند معدوم گرده وازقبور اولیاء باین خیال مرادات خود طلب می کنند وچون دراولیاء الله ومقربان درگاه که زنده این صفت نمی یابند ازولایت آنها منکر شوند واز فیوض آنها محروم می مانند)[2].

---

(۱): ارشادالطالبین صــ ۴۷، ۴۸ طبع ایران صــ ۲۹ طبع لاهور.

(۲): بستان السالکین ترجمه ارشادالطالبین صــ ۲۰۱ وصفحه ۱۲ طبع ایران.

بعضې داولياوو په باره کې دمعصوموالی اودعلم الغيب عقيده لري اوداگمان کوي چې اولياء څه چې وغواړي هغسې کېږي اوچې اولياء ونه غواړي نه کېږي.

اوپه همدې گمان داولياوو دقبرونوڅخه مرادونه غواړي اوچې کله هغوی په ژونديواولياوو کې داصفت ونه مومی نودهغوی دولايت څخه انکارکوي اودهغوی دفيوضوڅخه محروم پاتې کېږي.

(۳):قاضی صاحب مخکې ليکلي دي چې :

مسئله: اگرکسی گويدکه خدا ورسول برين عمل گواه اند کافرشود اولياء قادرنيستند برايجاد معدوم يااعدام موجود پس نسبت کردن ايجاد واعدام واعطاءرزق يا اولاد ونفع بلاومرض وغيرآن بسوئی شان کفراست.

(قل لااملك لنفسی نفعاولاضراالاماشاءالله)يعنې بگوای محمدصلی الله عليه وسلم مالک نيستم من برائی خويشتن نفع راونه ضرر رامگرآنچه خدا خواهد واگرنسبت بطريق سببيت بود مضائقه ندارد.

که يوکس ووايې چې الله تعالی اورسول صلی الله عليه وسلم په دې عمل شاهدان دي کافرکېږي.

اولياء په دې قدرت نه لري چې معدوم موجود کړي ياموجود معدوم کړي نواولياوو ته رزق ورکوونکی ويل ياموجودونکی ويل يامعدومونکی ويل يااولادورکونکی ويل يادمرضونو اومصيبتونووغيره (په مافوق الاسباب اموروکې کومک کونکی ويل)کفردی.

الله تعالی نبی عليه السلام ته فرمايلي دي چې ته ووايه دغو خلکوته چې زه دځان لپاره دګټې يادتاوان درسولوقدرت نهٔ لرم مګرهغه چې الله تعالی

وغوارې اوكه دسبب په اعتبارنسبت وشي (چې دنبی عليه السلام په واسطه الله تعالى مددوكړو) نوبياحرج نشته.

(۱):علامه محمد طاهر الحنفى رحمه الله (المتوفى سنه ۹۸۶)ليكلي دي چې: (منهم من قصد بزيارة قبور الانبياء والصلحاء ان يصل عند قبورهم ويدعو عندها ويسألهم الحوائج وهذا لايجوز عند احد من علماء المسلمين فان العبادة وطلب الحوائج والاستعانة حق الله وحده).[۱]

بعضې ددې لپاره قبرونوته ځي چې هلته لمونځ اودوعاوكړي اودمړو څخه كومک وغواړي اوداديو مسلمان په نيزهم نده جائزځكه چې عبادت او(په مافوق الاسباب اموروكې كومک غوښتل) يوازې دالله تعالى څخه كيږي.

(۵):علامه الوسى حنفى نقشبندى رحمه الله ليكلي دى چې:(فقدقلت يوما لرجل يستغيث فى شدة ببعض الأموات وينادى يافلان أغثنى فقلت له :قل ياألله فقدقال سبحانه (واذاسألك عبادى عنى فانى قريب أجيب دعوة الداع اذادعان البقرة ۶، فغضب وبلغنى أنه قال فلان منكر على الأولياء وسمعت عن بعضهم أنه قال :الولى اسرع اجابة من الله عزوجل وهذا من الكفر بمكان نسأل الله تعالى أن يعصمنا من الزيغ والطغيان[۲].

يوه ورځ يوسړي ديومړي څخه كومک غوښتلو او ويل يې چې اى فلانكيه!! زمافرياد واوره ماورته وويل چې:ياالله ووايه،(دالله تعالى څخه كومک وغواړه) ځكه الله تعالى فرمايلي دي چې زمابنده ګان چې زماپه باره كې در څخه پوښتنه كوي نوزه نږدې يم ددعاكونكودعاقبلوم كله يې چې زماڅخه وغواړي نوهغه سړى په غوسه شواوزماپه خلاف يې تبليغات شروع كړل چې

---

(۱):مجمع بحارالانوار،ج ۲ صـ ۴۹۹طبع حيدرآباددكن.

(۲):تفسيرروح المعانى ج ۱ صـ (۲۴۴).

اولياوو څخه منکردی او دبعضو خلکو څخه خومې داسې واورېدل چې اولياء
د الله تعالى څخه زرقبلوي، الله دې مونږدخويدلودسرکشۍ څخه وساتي.

(۸): حضرت شاولی الله محدث دهلوی رحمه الله (المتوفی سنه ۱۱۷۶ه) ليکلي دي: (کل من ذهب الی بلدة اجميراوالی قبرسالارمسعوداوماضاهاها لاجل حاجة يطلبهااثم اثماأکبرمن القتل والزنا)(۱).

څوک چې اجميرته لاړو يادسالارمسعودقبرته لاړو اويادکوم بل نبی يادولی قبرته لاړه لپاره دحاجت چې د(نبی يادولی څخه يې غوښتلونودقتل اودزناڅخه يې هم سخته ګناه وکړه)

(۹): همدارنګه يې ليکلي دي چې :(واعلم ان طلب الحوائج من الموتی عالمابانه سبب لانجاحهاکفريجب الاحترازعنه تحرمه هذه الکلمة والناس اليوم فيه منهمکون)(۲).

دمړوڅخه کومک غوښتل ولوکه دسبب په مرتبه کې وي هم کفردی دشهادت کلمه دمړوڅخه کومک غوښتل حراموي اوخلک دمړوڅخه په کومکونو غوښتلوکې مصروف دي.

(۱۰): ملاعلي قاري حنفي رحمه الله(المتوفی سنه ۱۰۱۴ هـ) ليکلي دي چې: (قوله: واذاسألت فسأل الله ای فسأل الله وحده فان خزائن العطاياعنده ومفاتيح المواهب والمزايابيده وکل نعمة اونقمة دنيوية اواخروية فانهاتصل الی العبداوتندفع عنه برحمته من غيرشائبة غرض ولاذميمة علة لانه الجوادالمطلق والغنی الذی لايفتقرفينبغي ان لايرجی الارحمته ولايخشی الانعمته ويلتجأ فی عظائم المهام اليه ويعتمدفی جمهور الاموعليه ولايسأل غيره لان غيره غير

---

(۱): تفهيمات الهيه ج ۲ صـ۴۵ طبع حيدرآباددکن.

(۲): الخيرالکثيرصـ (۱۰۵)

قادر على العطاء والمنع ودفع الضر وجلب النفع فانهم لايملكون لانفسهم نفعا ولاضرا ولايملكون موتاولاحيوة ولانشورا)[1].

كله چې دې غوښتل كول نودالله تعالى څخه يې كوه ځكه چې دوركړې خزانې دالله تعالى سره دي اود بخششيانو اوزيادتونوچاپيانې دالله تعالى په لاس كې دي اوهردينې اودنيوى نعمت دالله تعالى په رحمت انسان ته رسيږې اوهر دينى اودنيوى عذاب دالله تعالى په رحمت دفع كيږي بغيرله غرض اوله علت څخه ځكه چې الله تعالى كامل جوادى:

اوداسې غنى ذات دى چې نه فقيركيږي نوپه كارده چې يوائې دالله تعالى څخه اميدولرو اويوائې دالله تعالى دعذاب څخه وويريږو اويوائې.الله تعالى ته فناء ونيسوپه غتوكارونوكې اودبل چاڅخه كومک ونه غوښتل شي ځكه چې دالله تعالى څخه بغير څوک چاته څه نه شي وركولى اونه دچاڅخه ضرر دفع كولى شي.

(١١):شيخ عبدالحق محدث دهلوى رحمه الله ليكلي دي چې:(**وليس القادر والفاعل والمتصرف الاهو واولياء الله هم الفانون الهالكون فى فعله تعالى وقدرته وسطوته لافعل لهم ولاقدرة ولاتصرف لاالآن ولاحين كانوااحياءفى دارالدنيا**)[2].

قادر اوتصرف كوونكى فقط الله تعالى دى اودالله تعالى اولياء فناء كېدونكى دي.

اولياوو نه په ژوندكې قدرت اوتصرف لرلو اونه دوفات څخه وروسته.

(١٢):شاه عبدالعزيزالدهلوى رحمه الله (المتوفى سنه ١٢٣٩هـ) ليكلي دي:(اول مدد خواستن چيزديگراست وعبادت چيزى ديگراست عوام مسلمين

---

(١):مرقاة المفاتيح ج ٨ صـــ كتاب الاداب باب التوكل والصبر، رقم الحديث (٥٣٠٢).

(٢):لمعات ج ٧ صـــ ٣٩ كتاب الجهاد باب حكم الأسرا.

برخلاف حکم شروع ازاهل قبور مدد میخواهند وپرستش نمی کنند وبت پرستان مدد هم می خواهند وپرستش هم می کنند پرستش انست که سجده کند یاطواف نمایدیانام اوبطریق تقرب وردساز دیاذ بح جانور بنام اوکند یاخود را بنده فلان بگوید وهرکه ازمسلمانان جاهل باهل قبوراین چیزها باعمل ارد فی الفورکافرمی گردد وازمسلمانی می براید.... دوهم انکه بالاستقلال چیزیکه خصوصیت بجانب الهی دارد مثل دادن فرزند یابارش باران یادفع امراض یاطول عمر ومانند این چیزها بانکه دعا وسوال ازجانب الهی درنیت منظور باشد ازمخلوق درخواست نمایند این نوع حرام مطلق بلکه کفراست واز مسلمانان کسی ازاولیاء مذهب خود خواه زنده باشند یامرده این نوع مدد خواهدازدائره اسلام خارج می شود[1].

عبادت جداشی دی اومددغوښتل جداشي دی عوام دشریعت په خلاف دمړو څخه مددونه غواړي اوعبادت يې نه کوي اوبت پرستان دمړوڅخه مددهم غواړي اوعبادت يې هم کوي دمړو عبادت دادي چې قبرته سجده وکړې یادقبرڅخه طواف وکړې اویایې نوم دتقرب لپاره وظیفه کوې یایې په نوم باندې حیوان ذبح کړې یاځان ته دفلانی بنده ووایې اوهرجاهل مسلمان چې داهل قبورسره داعمل وکړي سمدستي کافرکيږي اودمسلمانی څخه وځي.

دوهم داچې (مافوق الاسباب شیان) بالاستقلال دمخلوق څخه غوښتل حرام بلکې کفردی لکه دمخلوق څخه اولادیاباران یادمرضونو دفع کول یادعمر اوږدولوغوښتل اګرچې په نیت کې يې دالله تعالی څخه غوښتل وي کوم

(۱):فتاوی عزیزی فارسی صــ ۳۳ سعیدیه کتب خانه پشاور.

مسلمان چې دخپل مذهب داولیاوو څخه مړه وي اوکه ژوندي وي داقسم (مافوق الاسباب)مددوغوارې داسلام ددائرې څخه خارجیږي.

(۱۳):شیخ عبدالغنی نابلسی الحنفی رحمه الله (المتوفی سنه ۱۱۴۳ ھ) لیکلي دي چې:(لان الخلق کلهم عبید لایملکون لانفسهم نفعا ولاضرا فهم لغیرهم اولی ان لایملکوا لهم ضرا ولانفعا)[۱].

مخلوق ټول دالله تعالی بنده ګان دي چې خپل ځان ته نفع اوضرر نه شي رسولی نوبل چاته خوپه طریق اولی نفعه اوضرر نه شي رسولی.

(۱۴):علامه ابن نجیم المصری اوعلامه ابن عابدین شامی رحمهم الله لیکلي دي چې:(قوله باطل وحرام) لوجوه: منها انهم نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لایجوز لانه عبادة والعبادة لاتکون لمخلوق،ومنها انه ان ظن ان المیت یتصرف فی الامور دون الله تعالی واعتقاده ذلك کفر)[۲].

مخلوق ته نذرلګول نه دي جائزځکه چې نذر عبادت دی اوعبادت دمخلوق نه دی جائز اوڅوک چې داعقیده لري چې مړی په امورو کې تصرف کولی شي هغه کافردی.

---

(۱):شرح الطریق المحمدیة صــ ۵۲۳ طبع استانبول.

(۲):البحرالرائق ج ۲ صــ۳۲۱، ۳۲۲ شامی ج ۲ صــ ۶۶۰ (کتاب الصوم مطلب فی النذرالذی یقع للاموات).

اوومه مسئله
مروجه جشن عيد ميلاد النبى صلى الله عليه وسلم

توضيح: دله درې شيان دي (۱)ذكرولادة النبى صلى الله عليه وسلم(۲)محفل ميلادالنبى صلى الله عليه وسلم ياسيرة النبى صلى الله عليه وسلم چې صرف دنبى عليه السلام دصورت اودسيرت دبيانولولپاره تعليمى اوتبليغى جلسه جوړه شي اودتخصيص شرعى څخه بغير ايصال ثواب وشي(۳)مروجه جشن عيدميلادالنبى صلى الله عليه وسلم :

اول: ذكرولادة النبى صلى الله عليه وسلم دكال په ټولوورځوكې هره ورځ په مدارسواومساجدوكې كېږي.

هره ورځ په مدارسواومساجدوكې دنبى عليه السلام صورت اوسيرت بيانول همداذكرولادة النبى صلى الله عليه وسلم دى .

دوهم: ميلادالنبى صلى الله عليه وسلم ياسيرة النبى صلى الله عليه وسلم چې صرف تبليغى اوتعليمى اوبلاتخصيصه ايصال ثواب وي .

داهماالشيخ المحدث عبدالحق الدهلوى رحمه الله ،ملاعلى قارى رحمه الله اوصاحب دفتاوى الكامليه وغيره لېكلى دى.

ملاعلى قارى رحمه الله فرمايلي دي چې (**بل يكتفى بألتلاوة والاطعام والصدقة وانشادشئ من المدايح النبوية**)[1] .

نوټ: دمحفل ميلادالنبى صلى الله عليه وسلم يادسيرة النبى صلى الله عليه وسلم جلسه په هره مياشت اوهره ورځ كې يوبرابركېدى شي ،دكومې خاصې مياشتې عبادت نه دى.

---

(۱):المورد الروى ضمن مجموعة الرسائل صـــ (۳۹۰).

په ربيع الاول کې نبی علیه السلام پیدا شوی دی نو که دد غې مناسبت له وجې په دې میاشت کې وشي نو هم صحيح ده داتعين عرفی دی.
البته دتعين شرعی عقیده به نه لري.
دريم: مروجه جشن عيد ميلادالنبی صلی الله علیه وسلم بدعت دی.
ځکه چې مروجه جشن عيد ميلادالنبی صلی الله علیه وسلم په ډېرو بدعاتو مشتمل دی.
دمروجه جشن عيد ميلادالنبی صلی الله علیه وسلم اودعاموتعليمی اوتبليغی جلسوپه مابين کې ډېرفرقونه دي.
(۱): عامې تعليمی اوتبليغی جلسې دکومې خاصې مياشتې يادکومې خاصې ورځې عبادت نه دی اومروجه جشن عيد ميلادالنبی صلی الله علیه وسلم ددې ربيع الاول د مياشتې خاص عبادت ګڼل کيږي اودتاريخ الولادة عبادت ګڼل کيږي.
(۲): په عاموتعليمی اوتبليغی جلسوکې هيڅ تخصيص شرعی (تخصيص الجواز، تخصيص الثواب اوتخصيص كثرة الثواب)نه وي.
يعنې داعقيده نه وي چې داجلسه په فلان مياشت اوتاريخ جائزده، اوپه بله مياشت اوبل تاريخ جائزنه ده،.
اونه دا عقيده وي چې په فلان مياشت اوپه فلان تاريخ ډېرثواب لري اوپه بله مياشت اوپه بل تاريخ لږثواب لري.
بلکې تعين عرفی په کې کيږي ديومناسبت له وجې ورته يوتاريخ مقررکيږي.
اوپه مروجه جشن عيد ميلادالنبی صلی الله علیه وسلم کې دتخصيص عقيده وي.

څوک چې مروجه جشن عيد ميلادالنبی صلی الله عليه وسلم ددې مياشتې عبادت ګڼي نوضرور به دربيع الاول په مياشت کې جائزه وي اوپه بله مياشت کې به يې ناجائزه وي يابه دربيع الاول په مياشت کې ثواب لري اوپه بله کې به يې نه لري ،يابه دربيع الاول په مياشت کې زيات ثواب لري اوپه نورومياشتوکې به لږثواب لري .

(۳):په مروجه جشن عيد ميلاد النبی صلی الله عليه وسلم کې مقصود دولادت اودفات ورځ لمانځل وي ، اوپه اسلام کې دولادت اودوفات دورځولمانځل نشته.

وګوره معارف القرآن دمفتی شفيع رحمه الله (**تحت قوله تعالی اليوم اکملت لکم دينکم**).

(۴)په مروجه جشن عيد ميلاد النبی صلی الله عليه وسلم کې دثواب په نيت کوڅې ،کورونه اومساجدپه ګلانو،چراغانواوبلپونوپوښل کېږي، اوعبادت ګڼل کېږي.

(۵):په مروجه جشن عيد ميلاد النبی صلی الله عليه وسلم کې سيفيان بريلويان قيام کوي[1].

دپيرسيف الرحمان په باره کې يې ليکلي دي چې (اورهرسال (۱۲)ربيع الاول کومحفل ميلادالنبی صلی الله عليه وسلم خودأپنی مسجدوآستانه پرمنائی ه .....اورمحافل کی اختتام پرسلام مع القيام پڑھاجاتاها)

(۶):په مروجه جشن عيد ميلاد النبی صلی الله عليه وسلم کې جلوس ويستل کېږي.

---

(۱):وګوره دسيفيانوکتاب (معروضات الحاذق)لمفتی غلام فريد هزاروی صـ۱۲.

حاصل داچې مروجه جشن عيدميلادالنبی صلی الله عليه وسلم په بد عاتو مشتمل دی لهذابدعت دی.

مجددالف ثانی رحمه الله فرمايلي دي چې:(بنظرانصاف ببينداگرفرضاً حضرت ايشان (خواجه ما)دراين اوان دردنيا زنده ميبودندواين مجلس واجتماع منعقدميشدأياباين أمرراضی ميشدند واين اجتماع رامی پسنديد يانه يقين فقيرأنست كه هرگزاين معنی راتجويزنه می فرمودندبلكی انكار مينمودندالخ[1].

دانصاف په نظردې وكتل شي كه خواجه باقی بالله رحمه الله ژوندی وی اودغه محافل دميلادونوجوړيدلی نوآياخواجه باقی بالله رحمه الله به په دغه كار راضي وی ؟

دفقير(مجددالف ثانی)يقين دادی چې هيڅكله به نه وی راضی ،اوپه دغو محافلو دميلادالنبی صلی الله عليه وسلم به يې رداومنع كړی وی.

زمامقصدستاسوخبرول ؤ كه دخواجه باقی بالله رحمه الله اولادونه بياهم دميلادالنبی صلی الله عليه وسلم مجلسونه جوړوي، نوزمالپاره ددوی دصحبت دحرمان څخه بله چاره نشته.

(۲): يوه ورځ خواجه حسام الدين رحمه الله حضرت مجدد الف ثانی ته داهل بدعتويو اعتراض رانقل كړوچې په مولود خوانۍ كې په ښكلي آواز سره صرف دقرآن په لوستلو اودنعت اومنقبت دقصائدو په لوستلو كې څه حرج دی؟

---

(۱):مكتوبات ج۱ ص ۲۲ ،حصه ،مكتوب نمبر(۲۷۳).

ممنوع خودادی چې دقرآن کریم په حروفوکې تغیراوتبدیل وکړی شي ، اودمقاماتودنغموالتزام وکړی شي، اودالحانوپه طریقه اوازونه وشي،اوکه په داسې طریقومولود ولوستل شي چې په قرآنی کلماتوکې تحریف ونه شي ، اوپه قصائدوکې مخکیني شرائط متحقق نه شي ، اوپه صحیح غرض سره مولودوشي نوپه دې کې څه ممانعت دی؟

نوحضرت مجدد الف ثانی رحمه الله جواب ورکړو :زمامخدومه: زماپه زړه کې داخیال راځي چې ترڅوپورې چې دغه دروازه پوره بنده نه شي بوألهوس نه منعه کېږي ،که لږشانته یې جائزکړو نوهغه زیاتېږي مشهوره مقوله ده چې دلږشي څخه زیاتېږي(۱).

بعضې بریلویان دجل کوي دخواجه حسام الذین رحمه الله اعتراض رانقلوي حالانکې په جواب کې چې مجدد الف ثانی رحمه الله مطلقاتردید کړی دی هغه نه رانقلوي.

(۴):حضرت مجدد الف ثانی رحمه الله فرمایلي دي چې (وعمل فقیر نیزبرهمین است وهیچ روزی رابرروز دیگر ترجیح نمی دهد تاانکه ترجیح انها ازشارع معلوم نکند کالجمعة ورمضان ونحوهما)(۲).

زماعمل همدادی چې هېڅ ورځې ته په بله ورځ ترجیح نه ورکوم ترڅوچې دشارع څخه ترجیح نه وي معلومه شوي لکه جمعه ،رمضان اونورې ورځې...

(۵):حضرت شاه عبدالعزیز رحمه الله فرمایلي دي چې:

---

(۱):مکتوبات ،دفترسوم مکتوب ۷۲ ج۳ صـــ (۱٤٤٧).

(۲):مکتوبات حصه چهارم صـــ (٦٧).

سوال: پختن طعام درأیام ربیع الاول برای خدا، ورسانیدن ثواب آن بروح پرفتوح حضرت سرکار کائنات صلی الله علیه وسلم یاحضرت امام حسین علیه السلام درماه محرم ودیگر ال اطهار سید مختار صحیح است یانه؟

جواب: برای این کار وقت وروز ،تعین نمودن وماهی مقررکردن بدعت است آری اگروقتی بعمل آرند که درآن ثواب زیاده شود مثل ماه رمضان که عمل بنده مؤمن به هفتاد درجه ثواب زیاده دارد مضایقه نیست ومخالفت سنت سید الآنام ومخالفت سنت حرام است پس هرکزروانباشد واکر دلش خواهد مخفی خیرات کند درهر روزیکه باشد تانمود نشود[1].

سوال: دربیع الاول په میاشت کې دالله تعالی درضالپاره اودنبی علیه السلام دایصال ثواب لپاره یاپه محرم کې دحضرت حسین رضی الله عنه اونورو اهل بیتوته دایصال ثواب لپاره خیرات کول څه حکم لري؟

جواب: ددې خیراتونو لپاره ورځ او وقت معینه کول (تعین شرعی چې په دې میاشت کې دنورو څخه خیرات بهترکڼي)بدعت دی البته په رمضان کې دخیرات ثواب په اویاچنده دنص څخه ثابت دی ، اوچې په کومه میاشت کې دشارع له طرفه ترغیب نه وي ثابت اوشارع دخیرات لپاره کوم وخت نه وي متعین کړی ،نودځان څخه تخصیصونه اوخیراتونه کول عبث اودسنتو څخه مخالف دي، اودسنتو څخه مخالفت حرام وي.

که دچازړه غواړي نوپټ خیرات دې وکړي په هره ورځ چې وي ترڅوریارانه شي.

(۳): شاه عبدالعزیزرحمه الله په تحفه اثناعشریه کې باب قائم کړی دی(باب یازدهم درخواص مذهب شیعه).

---

(۱): فتاوی عزیزی صـ(۹۳).

ددي باب لاندي ليکلي دي چې:(نوع پانزدهم امثال متجدده را یک چیز بعینه دانستن و این وهم خیلي بر ضعیف العقلان غلبه دارد حتي که آب دریا و شعله چراغ و آب فواره را اکثر اشخاص یک آب و یک شعله خیال کنند و اکثر شیعه در عادات خود منهمک این خیال اند مثلا روز عاشورا در هر سال که بیاید آنرا روز شهادت حضرت امام حسین گمان برند و احکام ماتم و نوحه و شیون و گریه و زاري و فغان و بي قراري آغاز نهند مثل زنان که هر سال بر میت خود این عمل نمایند حالانکه عقل بالبداهه میداند که زمان امیر سیال غیر قار است هرگز جزء اوثبات و قرار ندارد و اعاده معدوم محال و شهادت حضرت امام در روزي شده بود که این روز ازان روز فاصله هزار و دوصد سال دارد این روز را باان روز چه اتحاد و کدام مناسبت و روز عید الفطر و عید النحر را برین قیاس نباید کرد که در انجا مایه سرور و شادي سال بسال متجدد است یعني اداء روزه رمضان و اداء حج خانه کعبه که شکرا للنعمه المتجدد سال بسال فرحت و سرور نو پیدا میشود و لهذا اعیاد شرایع برین و هم فاسد نیامده بلکه اکثر عقلا نیز نوروز و مهرجان و امثال این تجددات و تغییرات آسماني را عید گرفته اند که هر سال چیزي نو پیدا میشود و موجب تجدد احکام مي باشد و علي هذا القیاس تعید بغید بابا شجاع الدین و تعید بعید غدیر و امثال ذلک مبني بر همین وهم فاسد است ازینجا معلوم شد که روز نزول آیه «الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا» و روز نزول وحي و شب معراج را چرا در شرع عید قرار نداده اند و عید الفطر و عید النحر را قرار داده اند و روز تولد و وفات هیچ نبي را عید نگردانیدند و چرا صوم یوم عاشورا که سال اول بموافقت یهود آنحضرت صلي الله علیه و سلم بجا آورده بودند منسوخ شد درین همه همین سر

است كه وهم را دخلي نباشد بدون تجدد نعمت حقيقه سرور و فرحت نمودن يا غم و ماتم كردن خلاف عقل خالص از شوايب وهم است[١].

خلاصه: ديوې ورځې يا ديوې مياشتې امثال عين هغه ورځ او عين هغه مياشت ګڼل يو وهم دى چې په ډېرو دضعيفو عقلونو والاخلكو باندې غالب دى.

ديوې ورځې يا ديوې مياشتې مثل عين هغه ورځ او هغه مياشت ګڼل داسې دي لكه د درياب اوبه چې يو اوبه وګڼې ،حالانكې اوبه روانې دي هرې تېرې شوې اوبه دنورو روانو اوبو څخه جدا دي اويا دفوارې اوبه يو اوبه وګڼې ،يادچراغ رڼا يوه رڼا وګڼې ،حالانكې دايوه رڼا نه ده دهرې دقيقې رڼا دبلې دقيقې درڼا څخه جدا ده عين نه ده ،همدارنګه زمانه هم سياله ده څوارلس سوه كاله مخكې دمحرم هغه لسم تاريخ چې حضرت حسين رضى الله عنه په كې شهيد شوى وودنورو كلونو دمحرم دلسم تاريخ څخه جدا دى هغه دشهادت ورځ بيانه راځي دسږكال دمحرم لسم تاريخ دحضرت حسين رضى الله عنه دشهادت تاريخ نه دى.

دسږكال دمحرم په لسم خو حضرت حسين رضى الله عنه نه دى شهيد شوى، نو دسږكال دمحرم لسم عين څوارلس سوه كاله مخكينى دمحرم لسم نه دى بلكې دهغې مثل دى نو شيعه ګان څرنګه دسږكال دمحرم لسم تاريخ لمانځي؟ داخو دحضرت حسين رضى الله عنه دشهادت ورځ نه ده.

همدارنګه ديو پيغمبر دولادت يا دوفات ورځ يوه وي مثلا: څوارلس سوه كاله مخكې دربيع الاول په مياشت كې نبى عليه السلام پيدا شو ،نو څوارلس سوه

(١): تحفه اثناعشريه صـــ (٣٥١).

كاله مخكني ربيع الاول دنورو كلونو دربيع الاول ځخه جدادی هغه دولادت ربيع الاول بيانه راځي.

دسږكال ربيع الاول دنبی عليه السلام دولادت مياشت نه ده ،دسږكال په ربيع الاول كې خونبی عليه السلام نه دی پيدا شوی ،نوچې دسږكال ربيع الاول عين څوارلس سوه كاله مخكنی ربيع الاول نه دی بلكې دهغې مثل دی اوپه مثل كې نبی عليه السلام نه ذی پيدا شوی نوڅرنګه اهل بدعت دسږكال ربيع الاول لمانځي داخوعين دولادت مياشت نه ده؟بلكې مثل شهرولادة ده.

شيعه ګان امثالو دهغه لسم دمحرم ته چې حضرت حسين رضی الله عنه په كې شهيدشوی وو عين دهمغه لسم حكم وركوي اواهل بدعت امثالودهغه ربيع الاول ته چې نبی عليه السلام په كې پيدا شوی وو عين دهمغه ربيع الاول حكم وركوي.

دشاه عبدالعزيزرحمه الله په دې عبارت كې ښه سوچ وكړئ چې (روزتو لدووفات هيچ نبی راعيدنګردانيدند الخ).

يعنې شريعت دهيڅ نبی دتولد يادوفات ورځ عيد نه دی جوړكړی.

فانقيل:چې بيادعيدالفطر اوعيدالاضحی (دوړوكی اولوی اختر)ورځ ولې هركال راځي؟

نوشاه عبدالعزيزرحمه الله جواب كړی دی چې په وړوكی اولوی اختركې هركال متجدد نعمت راځي چې درمضان دروژو اداء اودحج اداءده،نوپه متجدد نعمت متجدده خوشحالی اومتجدد عيدجوړيږي.

اودانبياء عليهم السلام ولادت او وفات متجدد نه دی لهذاپه شريعت كې هركال متجدد عيدورباندې نه جوړيږي.

(۴): د اهل بدعتو جشن عید میلاد النبی صلی الله علیه وسلم د سیرة النبی صلی الله علیه وسلم دعامو تبلیغی او تعلیمی جلسو په شان تبلیغی او تعلیمی جلسه نه ده بلکې اهل بدعت جشن عید میلاد النبی صلی الله علیه وسلم د دې میاشتې عبادت ګڼي.

لهذا داهل بدعتو جشن عیدمیلادالنبی صلی الله علیه وسلم د ډېرو فقهی قواعدو څخه مخالف دی مثلا: یوه قاعده (السنة الترکیة) ده.

کوم عبادت چې په خیرالقرون کې یې داعی موجود وي او مانع یې موجود نه وي او بیا هم متروک وي د هغې ترک سنت دی.

وګوره نفحات التنقیح شرح مشکاة المصابیح للشیخ سلیم الله خان رحمه الله (تحت قوله من احدث فی امرنا هذا مالیس منه فهو رد).

او د جشن عیدمیلادالنبی صلی الله علیه وسلم داعی په خیرالقرون کې موجود وو او مانع یې نه وو موجود بیا هم متروک وو ،نو ترک یې سنت دی.

بله قاعده اصل په عباداتو کې توقیف دی: او اصل په عاداتو کې اباحت دی حضرت حذیفه رضی الله عنه فرمایلي دي چې (کل عبادة لم یتعبدها اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم فلا تعبدوها)(۱).

صحابه وو چې کوم عبادت نه وي کړی نو تاسو یې مه کوئ او صحابه وو رضوان الله علیهم اجمعین د ربیع الاول په میاشت کې د جشن عید میلاد النبی صلی الله علیه وسلم په نوم عبادت نه دی کړی.

(۱): الاعتصام ج ۱ ص (۱۱۳).

بله قاعده دتعظيم الايام ده: په شريعت کې صرف دهغوورځوتعظيم او لمانځل جائزدي چې لمانځل اوتعظيم يې منصوصي وي حضرت طاوس فرمايلي دي چې (لاتتخذوشهراعيداولايوماعيدا)[1].

دځان څخه يوې ورځې يايوې مياشتې ته شرعی عيدمه وايئ اواهل بدعت دربيع الأول مياشتې اويوې مخصوصې ورځې ته شرعی عيدوايې ، دعيد لوازم په کې کوي اودثواب په نيت يې کوي.

دملکونوورځې څوک دثواب اودعبادت په نيت نه لمانځي.

لهذا دا استدلال غلط دی چې حکومتونه ولې دملکونو دازاديدو ورځې لمانځي؟

بله قاعده دتخصيص ده:علامه شامی رحمه الله فرمايلي دي چې (**تخصيص الذکربوقت لم يردبه الشرع غيرمشروع**)[2].

(لان ذکرالله اذاقصدبه التخصيص بوقت دون وقت اوشئ دون شئ لم يکن مشروعاحيث لم يردبه الشرع لانه خلاف المشروع)[3].

نوتخصيص به شارع کوي،اودجشن عيدميلادالنبی صلی الله عليه وسلم تخصيص تر ربيع الاول پورې دشارع څخه ثابت نه دی.

بله قاعده په خاصوشپوکې دعبادت په نيت کوڅې اومساجدپه ګلانو پوښل دي: فقهاو فرمايلي دي چې (**وفی الخاينة رجل أوصی بثلث ماله لاعمال البرهل يجوز ان يسرج المسجد منه قال الفقيه ابوبکريجوز، ولايجوز ان يزاد علی سراج المسجد لان ذلك**

---

(۱):مصنف عبدالرزاق رقم (۷۸۵۳).

(۲):شامی ج ۱ صـ ۱۷۰ باب العيدين مطلب يطلق المستحب علی السنة.

(۳):البحرالرائق ج ۲ صـ ۱۵۹ باب العيدين.

اسراف سواء كان في رمضان اوغيره ولا يزين المسجد بهذه الوصية، وفي القنية واسراج السرج الكثيرة في السكك والاسواق ليلة البراءة بدعة)[1].

كه يو سړى وصيت وكړي چې زما مال به په نېكو كارونو كې ولګوئ نود مسجد په ضرورى بلپونو كې يې مال لګولى شي لكن په زائيدو ګلانو اوچراغانو كې يې مال لګول جائزنه دى ،همدارنګه په مخصوصوشپو كې لكه رمضان وغيره... كې مسجد په ګلانو او رڼاګانو پوښل بدعت دى.

بله قاعده، دبدعت فى العبادة ده: بعضې علماء بدعت تقسيموي بدعت حسنه اوبدعت سيئه ته ،اوبدعت حسنه بياتقسيموي فرض كفائي ته كتعلم علم الكلام اومستحب ته لكه دكتابونو تصنيف اومباح ته لكه په خوراكونو كې توسع ،ددې مثالونو داستقراء څخه معلومېږي چې بدعت حسنه په عاداتو او وسايلو كې راځي ،په عباداتو كې نه راځي[2].

اوجشن عيدميلادالنبى صلى الله عليه وسلم ددې مياشتې عبادت ګڼل كېږي ،لهذا جشن عيد ميلاد النبى صلى الله عليه وسلم ته بدعت حسنه هم نه ويل كېږي په عباداتو كې فقط بدعت سيئه دى ،لهذا جشن عيد ميلاد النبى صلى الله عليه وسلم چې عامه تعليمى جلسه نه شي اوصرف ذريعه دتعليم نه وي بلكې ددې مياشتې عبادت شي نوبدعت دى.

بله قاعده په مساجدو كى داشعارو لوستل دى: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم ان يستقاد فى المسجد وان ينشد فيه الاشعار، مشكوة ص ٧٠ نبى صلى الله عليه وسلم په مسجد كې دقصاص اخستلو او د اشعارو دلوستلو څخه منعه كړې دې، په يوبل حديث كى راځى چى نهى رسول الله ص عن تناشد الاشعار

(۱):البحرالرائق ج ٥ صـ ٣٣٢ قاضى خان ج ٣ صـ (٢٠٣).

(٢):الصاعقة المحرقة صـ (٧٠).

في المسجد، ايضًا. ص ٧٠ حضرت عمر رض دمسجد څخه بهر چوتره جوړه کړې وه، وقال من کان يريد ان يلغط اوينشد شعراً اويرفع صوته فليخرج الى هذه الرحبة ځوک چې خبرې کول غواړي ياشعر ويل غواړي يا او از او چتوي، نو دغې چوترې ته دې ووزی حافظ ابن حجر رح فرمایلی دی چه داچوتره ئې ځکه جوړه کړې وه چې ځوک مذموم اشعارپه مسجد کی ونه لولی لکن ملاعلی القاری فرمايلی دی چی :وقول ابن حجرای شعراً مذموما ليس فی محله لانه لايباح مطلقا مرقات ج (٢ ص ٢٢٣) دنبی صلی الله علیه وسلم په خصوصی حکم حضرت حسان رض او حضرت کعب رض په مسجد کی اشعار لوستل لکن بل چاته اجازت نه شته بلکی دمنعې به عامو احاديثوبه عمل کيږي له دې وجې يوه ورځ حضرت عمر رضی الله عنه حضرت حسان رضی الله ته په مسجد کی داشعارو اجازت ورنکړو، بيائی ابوهريرة رض ته قسم طرفه ورکړوچې آياتادنبی عليه السلام څخه اورېدلي دي چې زما له طرفه کافرانو ته جواب ورکړه حضرت ابوهريرة رض چې تصديق وکړو نو بيائی يوائی حضرت حسان ته په مسجد کی داشعارو دلوستلو اجازت ورکړونورچاته نه وو.

(٥):ملاعلی قاری رحمه الله فرمایلي دي چې دنبی علیه السلام دولادت په شپه عبادت دنوروورځو څخه زيات ثواب نه لري.

ددې شپې د عبادت فضيلت د قرآن ،سنت او دعلماو څخه ثابت نه دی[١].

فان قيل: شاولی الله رحمه الله جشن عيدميلادالنبی صلی الله عليه وسلم کولو؟

(١):الموردالروی صـ (٤٣٧).

قلنا: داد شاولی الله رحمه الله پورې افتراء ده ،هغه صرف دومره فرمایلي دي چې زه دنبی علیه السلام دپیدائش په ورځ په مکه مکرمه کې دنبی علیه السلام دپیدائش په ځای کې ووم اوډېرفیوضات اوبرکات محسوسېدل.

اوس دنبی علیه السلام دپیدائش په ځای کې کتابخانه ده خلک ورځي برکات اوفیوضات محسوسوي، نو دخلکو راجمعه کیدل دمروجه محفل میلاد لپاره نه وه بلکی دنبی ص د پیدایش دمقدس او متبرک ځای زیارت لپاره وه او اتفاقی اجماع وه.

همدارنګه دشاه ولی الله رحمه الله والدګرامی شاه عبدالرحیم رحمه الله فرمایلي دي چې مابه دولادت په ورځوکې دایصال ثواب لپاره صدقه کوله دایې نه دي ویلي چې مابه دولادت په ورځوکې جلسه جوړوله ،مسجداوکوڅې به مې په ګلانوپوښلې اودزیات ثواب اودتخصیص په نیت به مې جشن عیدمیلادالنبی جوړولو.

فایقل: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چی مارأه المسلمون حسنا فهوعندالله حسن قلنا، په المسلمون کی الف لام استغراقی ندی، بلکی عهدي دی معهود صحابه او ائمه دی ای مارأه الصحابة والائمة حسنافهوعندالله حسن او مروج محفل میلاد ته صحابه وو او امامانو حسن ندی ویلی.

اتمه مسئله

په قبرونوهركال عرس كول

سيفيان بريلويان هركال عرسونه كوي اوعبادت ورته وايي.

دسيفيانو استاد العلماء مولانا غلام فريدسيفى دپيرسيف الرحمان په باره كې ليكلي دي چې (خود اپنے شیخ طریقت او حضرت مجدد الف ثانی کا عرس کراتی ہے)[1].

پيرسيف الرحمان هركال دخپل شيخ عرس كوي اودمجدد الف ثانى عرس هم كوي.

حالانكې عرس په حنفى فقه كې نشته دى.

(١):رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې زماقبرعيدمه جوړوئ[2].

ددې حديث ډېرې معناګانې دي، (١):لاتجتمعوللزيارة اجتماعكم للعيد داسې په تداعى اواهتمام سره زيارت ته مه راجمعه كېږئ لكه په اختركې چې راجمعه كېږئ، اوپه عرس كې همداسې اجتماع وي.

(٢):المرادالحث على كثرة الزيادة اى لاتجلعوا كالعيدالذى لايأتى الافى السنة

مرقات

يعنې په دې حديث كې دډېرډېر زيارت كولو طرف ته ترغيب دى يعنې نبى عليه السلام فرمايلي دي چې زمازيارت ته بيابيا رائځئ داسې نه لكه اخترچې په كال كې يوځل وي اوعرس هم په كال كې يوځل وي.

---

(١):معروضات الحاذق صــ (١٢).

(٢):مشكوة ج١ صـ (٨٦).

(۲)؛علامه ظفراحمد العثمانی رحمه الله فرمايلي دي چې (وامارسوم الصوفية من السماع والاعراس والحلقات ونحوهما فلايعبأبها، قال الشيخ ولی الله رحمه الله وامارسومهم فلاتقوم بشئ الخ[۱].

دصوفيانو عادات چې غزلې وايې،عرسونه کوي اوحلقې وغيره کوي داکارونه هيڅ اصل نه لري.

شاه ولی الله رحمه االله فرمايلي دي چې دصوفيانورسمونه اورواجونه (عرسونه، غزلې اوحلقې)په شريعت کې هيڅ شی هم نه دي.

(۳):الشاه عبدالعزيز المحدث الدهلوی رحمه الله ليکلي دي چې دعرس لپاره دورځې التزام (لکه په دې ملکونوکې چې کيږي چې دمتوفی دوفات په ورځ هرکال عرس کيږي)بدعت دی[۲].

اوپه بل ځای کې يې ليکلی دي چې که عرس داسې وکړی شي چې په دغه ورځ نوې جامې واغوندې اوپه قبرقوالیانی وشي، اودقبرڅخه طوافونه وشي ،درقص اودسرود مجلسونه منعقدشي نوداسې عرس اوداټول امورحرام اوممنوع دي.

(۴):په تفسيرمظهری کې يې ليکلي دي چې (لايجوزمايفعله الجهال بقبور الأولياء والشهداء من السجود والطواف حولها واتخاذ السرج اليها ومن اجتماع بعدالحول کالاعياد ويسمونه عرسا)[۳].

---

(۱):اعلاء السنن ج ۱۸ صـ (٤٥٤).

(۲):فتاوی عزيزی فارسی صـ (۸۹).

(۳):تفسيرمظهری ج ۲ صـ ٦٥٠ (۱).

قبرونوته سجده دقبرونوڅخه طواف اوپه قبرونوډيوې بلول اوعرس کول ناجائزدی.

(۵):شاه ولی الله رحمه الله فرمایلی دي چې په غټوبدعتونو کې یودادی چې دقبرونوڅخه میله اوعید جوړکړې.

تفهیمات الهیه ج ۲ صـ۶۴همدارنګه یې فرمایلي دي چې (دیگرازعادات شنیعه مامردم اسراف است درماتمها وسیوم وچهلم وششماهی وفاتحه سالینه)[1].

زمونږدخلکوپه خرابوعادتونوکې په ماتمونوکې اسراف دی ،همدارنګه دریمه څلوېښتمه، ششماهی اوکلني پرګرامونه دي،اوسالینه عرس دی.

(۶):قاضی ثناءالله رحمه الله فرمایلي دي چې (قبوراولیاء بلندکردن وگنبد برآن ساختن وعرس وامثال آن وچراغان کردن همه بدعت است)[2].

اوچت قبرونه جوړول په قبر ګنبدجوړول ،په قبرشمعې اوډیوې بلول اوعرس کول ټول بدعت دي.

(۷):شاه اسحاق رحمه الله فرمایلي دي چې (مقررکردن روز عرس جایزنیست) دعرس لپاره ورځ مقررکول جائزنه دي[3].

(۸)قاضی ثناء الله پانی پتي رحمه الله وصیت کړی ؤ چې (بعدمردن من رسوم دینوی ،مثل دهم ،سستم ،چهلم وششماهی وبرسینی هیچ نکند)[4].

(۱):تفیهمات ج۲ صـ ۲٤۷ وصیت نامه (۱۳).

(۲):ارشادالطالبین صـ ۲۲ ،صـ ۵۰ طبع ایران.

(۳):مسائل اربعین صـ (۳۸).

(۴) : وصیت نامه مع مالا بدمنه صـــ (۱۹۱).

زمادوفات څخه وروسته زماپسې لسمه،شلمه ،څلوېښتمه، شپږمیاشتنۍ او سالانه (عرس) هیڅ هم ونه کړئ.

(۹):مفتی فرید رحمه الله فرمایلي دي چې ددیوبند اودسهارنپور علماء د عرس کولو څخه متنفر دي اګرچې امربالمعروف اونهی عن المنکرپه کې کیږي ځکه چې دکوم عرس اختیار دبی علمه خلکوسره وي یوه ورځ به خامخا په کې تړنګ تکور دحاضراوناظر عقیده کیږي(۱).

(۱۰): مفتی تقی عثمانی رحمه الله فرمایلي دي چې دعرس لپاره په شریعت کې هیڅ اصل نشته بلکې بدعت دی(۲).

(۱۱):مولانا رشید احمد ګنګوهی رحمه الله لیکلي دي چې دبزرګانو زیارت ته سفرکول اختلافی دی بعضې علماوو ورته صحیح ویلی دی اوبعضې منع کوي په دې کې نزاع تکرارنه دی په کار مګردعرس په ورځ زیارت ته تلل حرام دي(۳).

فائده: داولیاوو سره محبت دالحب فی الله موافق بهترین عمل دی،داولیاوو په نقش قدم تلل دخیر اودبرکت باعث دی داولیاوو دوفات څخه وروسته دشرعی قواعدو ماتحت ایصال ثواب اودهغوی درفعې د درجاتو لپاره دعاء بهترین عمل دی که نږدې وي نودهغوی زیارت ته په ورتللو کې اختلاف نشته اودلری څخه زیارت ته سفرکول اختلافی دی.

لکن دزیارت لپاره ورځ مقررول اوپه معینه ورځ اجتماع اوعرس بدعت دی.

---

(۱):فتاوی فریدیه ج ۱ صـ (۳۲۷).

(۲):فتاوی عثمانیه ج ۱ صـ (۱۰۸).

(۳):فتاوی رشیدیه حصه دوم صـ (۲۹).

نهمه (۹) مسئله
دمړي پسې دریمه جمعګي اوومه اوڅلوېښتمه

سیفیان بریلویان دمړی پسې دریمې ، جمعګۍ ،اوومې اوڅلوېښتمې وغیره ته جائزوایې[1].

حالانکې په حنفی فقهه کې یې هروخت خیرات اوایصال ثواب ته جائزویلی دي اودورځوتخصیص نشته.

داسې نه ده چې په دریمه ،جمعګۍ،اوومه اوڅلوېښتمه خیرات اوایصال ثواب جائزدی اوپه نورو ورځو کې ناجائزدی .

داسې هم نه ده چې په دغو ورځوکې یې ثواب زیات دی اوپه نورو ورځوکې یې ثواب کم دی بلکې د ټولوورځوخیرات اوایصال ثواب یوشان ته دی .

اکثرملګری ځانونو ته بریلویان نه وایې لکن بیاهم وایې چې په دریمه ،اوومه یاڅلوېښتمه خیرات اوایصال ثواب بهتردی یایې ثواب زیات دی.

حالانکې په فقهه حنفی کې دریمه ،جمعګی ،اوومه اوڅلوېښتمه په دې نیت چې په دې ورځوکې ایصال ثواب دنورو ورځوڅخه بهتردی یاپه دې نیت چې په دې ورځوکې یې ثواب دنورو ورځوڅخه زیات دی بدعت دی دثواب په ځای وربانديې عذاب دی.

(۱):رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې (لاتختصولیلة الجمعة بقیام من بین اللیالی اه[2]).

---

(۱):جاء الحق صــ (۲٤۱).

(۲):مشکوة ج۱ صــ (۱۷۹).

حاصل یې همدادی چې دجمعې شپه دتهجدولپاره مه خاص کوه بلکې دټولوشپودتهجدوثواب یوشان دی.

اوس که یوسړی دجمعې په شپه په دې نیت تهجدکوي چې داشپه بهتره ده نودتهجدو ثواب به یې زیات وي نوداکس بدعتی دی اوداعمل یې بدعت دی دثواب په ځای ورته عذاب دی.

مولانااشرف علی تهانوي رحمه الله فرمایلي دي چې څوک غیرمنقول تخصیص کوي هغه بدعتی دی [1].

(۲):صاحب دفتح القدیرلیکلي دي چې (ویکره اتخاذالضیافة من الطعام من اهل المیت لأنه شرع فی السرورلافی الشروروهی بدعة مستقبحة) [2].

دمړی له طرفه دخوراک میلمستیا تیارول منع دی ځکه چې میلمستیا دخوشحالۍ په وخت کې مشروعه ده دغمونوپه وخت کې مشروعه نه ده اوداډیرخراب بدعت دی.

(۳):علامه شامی رحمه الله لیکلي دي چې (ویکره اتخاذالضیافة من الطعام من اهل المیت لانه شرع فی السرور،وهی بدعة مستقبحة وروی الامام احمدوابن ماجه باسنادٍ صحیح عن جریر بن عبدالله قال ((کنانعد الاجتماع الی اهل المیت وصنعهم الطعام من النیاحة)).

وفی البزازیة: ویکره اتخاذالطعام فی الیوم الاول والثالث وبعدالاسبوع) [3].

دمړی له طرفه دخوراک میلمستیاتیارول منع دي ځکه چې میلمستیا دخوشحالۍ په وخت کې مشروعه ده دغمونوپه وخت کې مشروعه نه ده

---

(۱):اشرف الجواب صــ (۱۱٦).

(۲):فتح القدیر ج ۲ صــ ۱۹۲- (۱٤۲).

(۳):شامی ج ۲ صــ ۲٤۰ مطلب فی کراهة الضیافة من أهل المیت.

اوداخراب بدعت دی اوپه مسند احمد اوابن ماجه کې دجريربن عبدالله رضی الله عنه څخه روايت دی چې مونږ(صحابه کرامو)به دمړی خاندان ته راجمع کېدل،اودمړی د خاندان له طرفه دډوډۍ تيارولوته نياحت ويلو.

په فتاوی بزازيه کې دي چې دمړی له طرفه د،اولې،يادريمې يادهفتې څخه وروسته چې کوم خوراک تيارولی شي هغه ټول مکروه اوممنوع دی.

(۴):حضرت قاضی ثناءالله پانی پتی حنفی نقشبندی رحمه الله ليکلي دي چې(بعدمردن من رسوم دنيوی مثل دهم وهشتم وچهلم وشمشاهی وعرس برسينی هيچ نکند[۱].

زمادوفات څخه وروسته هيڅ رسم اورواج ونه کړئ لکه لسمه ،شلمه، څلوېښتمه، ششماهی اوسالانه (عرس).

(۵):الشيخ المحدث عبدالحق الدهلوی رحمه الله ليکلي دي چې(وعادت نبود که برای ميت جمعه شوند وقرآن خوانند وختمات خوانند برسرگورونه غير آن واين مجموع بدعت است، نعم برای تعزيت اهل ميت وجمع وتسليه ودرفرمودن ايشان راه سنت و مستحب است امااين اجتماع مخصوص روزسوم وارتکاب تکلفات ديگر وصرف اموال بی وصيت ازحق تيامی بدعت است وحرام[۲].

همدارنګه يې په شرح سفرالسعادات صفحه ۲۷۳ او اشعة المعات ج۱ صفحه ۷۴۵ کې هم ليکلي دي.

---

(۱):مالابدمنه صــ (۱۶۱).

(۲):مدارج النبوت ج۱ صــ (۴۲۱).

(۷):مولانااحمدعلی سهارنپوری رحمه الله فرمايلي دي چې(هذا محل تذكر للذين يصرون على الاجتماع في اليوم الثالث للميت ويرونه ارجح من الحضور للجماعة(۱).
داحديث دهغوخلكولپاره دنصيحت مقام دی چې دمړی په دریمه ورځ راجمعه کېږي اودارجمع کېدل دجماعت دلمانځه لپاره دراجمع کېدلو څخه هم مقدم گڼي.

(۸):الامام حافظ الدين محمدبن شهاب الكردی الحنفی فرمايلي دي چې ويكره اتخاذالطعام فی اليوم الاول ،والثالث وبعدالاسبوع والاعياد(۲).
اوله، دريمه،هفتگي اوسالانه(عرس)كول ټول مكروه دي.

(۹): دابن حجرالمالكی الشافعی رحمه الله څخه پوښتنه شوې ده چې (عمايعمل يوم ثالث من موته من تهئة اكل واطعامه للفقرآءوغيرهم وعمايعمل يوم السابع الخ..
دمړي په دريمه چې كومه ډوډۍ تياريگي همدارنگه په اوومه ورځ ددې حكم څه دی؟
هغه ورته په جواب كې فرمايلي دي چې (جميع مايفعل مماذكرفی السؤال من البدع المذمومة)(۳).
په سوال كې چې كوم شيان ذكرشول ټول بدعت دی .
علامه ابن عابدين شامی رحمه الله ليكلي دي(مذهبناومذهب غيرناكالشافعية والحنابلة)(۴).
زمونږاودشوافعواوحنابله و همدامسلک دی(۵).

(۱):هامش ترمذی ج۱ صـ(٤٠).
(۲):فتاوی بزازيه ج ٤ صـ ٨١ طبع مصر.
(۳):فتاوی كبری ج۲ صـ ٧ بحواله راه سنت (٢٦٣).
(٤):شاميه ج(١٨٤١).
(٥):بحواله راه سنت مولانا سرفرازخان صفدرصاحب رحمه الله صـ (٢٦٣).

(۱۰): ملا علی قاری رحمه الله د عاصم بن کلیب رضی الله عنه د روایت په تشریح کې لیکلي دي چې (قرر اصحاب مذهبنا من أنه یکره اتخاذ الطعام فی الیوم الاول والثالث وبعد الاسبوع)[۱].

زمونږ د حنفي مذهب فقهاوو دا خبره ثابته کړې ده چې د مړی په اوله ، دریمه همدارنګه د هفتې څخه بعد د ډوډۍ او خوراک تیارول منع دي.

(۱۱): مولانالکهنوی رحمه الله لیکلي دي چې (شیخ محدث عبدالحق دهلوی رحمه الله درجامع البرکات می نویسد وانکه بعد سالی یاششماهی یاچهل روز درین دیار پزند ودرمیان برادران بخشش کند وآنرا بهاجی میکویند چیزی داخل اعتبار نیست بهتر انست که نه خواند)[۲].

شیخ محدث عبدالحق دهلوی رحمه الله په جامع البرکات کې لیکلي دي چې په دې ملکونو کې چې په څلوېښتمه یا شپږمیاشتې بعد یا کال بعد کوم خوراکونه پخېږي بهاجی ورته وایې دا ټول په شریعت کې اعتبار نه لري بهتره دا ده چې ونه خوړل شي.

همدارنګه مولانا عبدالحی رحمه الله لیکلي دي چې (مقرر کردن روز سوئم وغیره بالتخصیص و او راضروری انګاشتن درشریعت محمدیه ثابت نیست صاحب بنصاب الاحتساب ان رامکروه نوشته وتراه تخصیص بګزارند وهر روز یکه خواهند ثواب بروح میت رسانند)[۳].

(۱۲): الشیخ المحدث الشاولی الله الدهلوی رحمه الله لیکلي دي چې (دیګراز اعادات شنیعه مامردم اسراف است درماتمها روزسیوم، وچهلم

---

(۱): مرقات ج ۵ صـ ۴۸۲ بحواله راه سنت صـ (۲۶۵).

(۲): مجموعة فتاوی ج ۳ صـ (۷۶).

(۳): مجموعه فتاوی ج۳ صـ (۷۷).

وششماهی وفاتحه سالینه واین همه درعرب اول وجودنبود مصلحت انست که غیرتعزیت وارثان میت تاسی روز واطعام شان یک شب وروز رسمی نباشد)[۱].

(۱۳) علامه نووی رحمه الله لیکلي دي چې(والطعام فی الایام المخصوصة کالثالث والخامس والتاسع والعشرین والاربعین والشهرالسادس والسنة ممنوعة)[۲].

په دریمه،پنځمه، نمه ،شلمه،څلویښتمه ،شپږمه میاشت اوکال بعدخیرات بدعت دی.

(۱۴):دبریلویت بانی احمدرضاخان بریلوی لیکلي دي چې دمړی په اوله ،دریمه،او اوومه باندې دمړی له طرف نه ډوډۍ تیارول مکروه دي، اوبیایې لیکلي دي چې (ضیافت نمودن اهل میت اهل تعزیت راوپوختن طعام برای همه انهامکروه است به اتفاق روایات چه ایشان رابه سبب اشتغال به مصیبت استعداد وتهیه آن دشوار است پس انچه متعارف شده ازپختن اهل مصیبت طعام را در رسوم وقسمت نمودن ان میان اهل تعزیت واقران غیر مباح ونامشروع است وتصریح کرده بدان درخزانه چه شرعیت ضیافت نزد سرور ست نه نزد شرور وهو المشهور عند الجمهور)[۳].

بریلویان نن صبا دګېډې په غم کې دخپل مشردفتوې منلوته هم تیارنه دي.

---

(۱):تفهیمات ج۲ صــ ۲٤۷ ووصیت نامه صــ (۱۳).

(۲):شرح منهاج به حواله راه سنت صــ (۲٦٥).

(۳)فتاوی رضویه ج ۹ صــ (٦٦۲).

(۱۵):په فتاوی حقانیه کې دي چې دمړی وارثانوته دایصال ثواب لپاره صدقات هروخت جائزدي لیکن دوخت دتعین چې کوم صورتونه په عواموکې مروج دي لکه جمعګي، دریمه،لسمه،څلوېښتمه اوداسې نوردې تخصیص له وجې شرعاناجائزدي.

ځکه چې دتخصیص اودالتزام له وجې کله کله مباح اوجائزافعال هم ناجائزګرځي.

(۱۶):مفتی محمدفریدرحمه الله فرمایلي دي چې دڅلوېښتمې وغیره خاص کول په دین کې نوی شی پیداکول دي اوممنوع دي اګرچې صرف خیرات غوره عبادت دی[1].

فائده: مفتی فریدرحمه الله په رساله قبریه وغیره کتابونوکې لیکلي دي چې ضیافت اودصدقې په مابین کې فرق دی صدقه هروخت جائزه ده اوضیافت تردرېورځوپورې ممنوع دی.

فائده: دجمهورمسلمانانوپه ایصال ثواب باندې اتفاق دی دمالی عبادت په ایصال ثواب کې دهېچااختلاف نشته اودبدنی عبادت په ایصال ثواب کې بعضې شوافع اومالکیه اختلاف کوي لکن اکثرشوافع اومالکیه دجمهوروسره متفق دي[2].

لکن دایصال ثواب اودخیرات لپاره شرائط دي:

اول: چې مړی به مسلمان وي.

دوهم: ریااورواج به نه وي.

دریم: ایصال ثواب اوخیرات به دحلال مال څخه وي.

څلورم: دخیرات په مال کې به دصغیروماشومانو اوغائبووارثانوحق نه وي.

---

(۱):فتاوی فریدیه ج۳ صـ ۱۳۰ احکام الجنائز.

(۲):شرح فقه اکبر صـ ۱۵۷ اوکتاب الروح صـ (۱٤٥).

پنځم: خيرات صرف غريبانو او مسکينانو ته ورکړل شي.

شپږم: دخپل ځان له طرفه په کې دورځو تخصيص دريمه، اوومه، څلويښتي وغيره نه وي.

لسمه(۱۰) مسئله

نذراونياز

په حنفي فقهه کې يې نذرته عبادت ويلی دی لهذا دغيرالله لپاره دنذرمنل حرام بلکې شرک دی.

اهل بدعتوپه زيارتونوکې بکسونه لګولي وي اودباباليپاره نذريې وربانديې لېکلی وي.

څوک چې په زيارت کې څاروی حلالوي اويا په قبررو فيې اچوي يادنذرپه دغه صندوق کې روفيې اچوي دهغه مقصد ددې ولي څخه استعانت اودغه بزرګ ته تقرب اونزديکت وي مقصديې ايصال ثواب نه وي.

(۱): علامه الوسی رحمه الله فرمايلی دي چې (وفي قوله تعالى ان الذين تدعون من دون الله لن يخلقوذباباً الحج ۲۲ الخ اشارة الى ذم الغالين في اولياء الله تعالى حيث يستغيثون بهم في الشدة عن الله تعالى وينذرون لهم النذور، والعقلاء منهم يقولون انهم وسايلنا الى الله وانما ننذرالله تعالى ونجعل ثوابه للولي ولايخفى انهم في عواهم الاولى اشبه الناس بعبدة الاصنام القائلين انمانعبدهم ليقربونا الى الله زلفاً، وعواهم الثانية لابأس بها لولم يطلبوا منهم بذلك شفاء مريضهم اوردغايبهم اونحوذلك، والظاهر من حالهم الطلب ويرشدالى ذلك انه لوقيل: انذروالله واجعلوا ثوابه لوالديكم فانهم احوج من اولئك الاولياء لم يفعلوا الخ)(۱).

په دې آيت کريمه کې دهغوخلکومذمت دی چې داولياوو په باره کې دغلوښکاردي.

---

(۱): روح المعاني ج۲ ص(۲۱۳).

دالله تعالی څخه غافله دي په مصايبوکې داولياوو څخه مدد غواړي اوداولياوو په نوم نذراونيازکوي په دې کې پوه خلک وايې چې دغه زمونږلپاره الله تعالی ته وسيله ده.

اومونږدغه نذراونيازالله تعالی ته کوو البته ددې ثواب ولي ته ښښو.

په دې کې هیڅ شک نشته چې دوی په اوله دعوه کې دهغوبت پرستانوپه شان دي چې هغوی وايې دبتانوعبادت ددې لپاره کوي چې الله تعالی ته وربانديې نږدې شي.

پاتې شوه دوهمه دعوه نوپه دې کې به هيڅ خبره نه وه که دوئ داولياوو څخه دخپلو مريضانولپاره شفاء اودخپلو غايبو خلکوپيدا کول نه غوښتلی.

ددوی دحال څخه ظاهره داده چې دوی داولياوو اوبزرګانو څخه دغوښتلوپه نيت نذراونيازکوي.

که دوی ته وويلی شي چې نذراونيازدالله تعالی په نوم وکړه اوثواب يې دولی په ځای خپلو والدينوته وښښه ځکه چې ستاوالدين ددې بزرګ په نسبت ثواب ته ډېرمحتاج دي.

نودغه خلک بيادغه عمل ته تيارنه وي.

ددې څخه معلومېږي چې ددوی مقصدداولياوو څخه استعانت اواولياووته تقرب دی.

(۲): علامه شامی رحمه الله فرمايلي دي چې (کان يقول ياسيدی فلان ان رد غائبی اوعوفی مريضی اوقضيت حاجتی فلك من الذهب اوالفضة اومن الطعام اوالشمع اوالزيت كذا(قوله باطل حرام)لوجوه:منها انه نذرلمخلوق والنذرلمخلوق لايجوز لانه عبادة والعبادةلاتكون لمخلوق.

ومنهاان المنذورله ميت،والميت لايملك

ومنها ظن ان الميت يتصرف في الامور دون الله واعتقاده ذلك كفر)[1].

داولیاوو لپاره دنذراونیازصورت دادی چې څوک ووایې چې ای زمافلان پیره که زماغائب خپلوان واپس راغلو یازمامریض جوړشو یازماکاروشو نودومره سره زر دومره سپین زر دومره خوراک یاشمعه یادومره تیل ستالپاره نذرکوم. داندراونیازله څووجوڅخه باطل اوحرام دی.

(۱):داچې دادمخلوق لپاره نذراونیازدی حالانکې نذر اونیازعبادت دی اوعبادت دمخلوق ناجائزدی.

(۲):داچې دکوم مړي لپاره نذراونیازکوې هغه مړوي اومړدهیڅ شي مالک نه جوړېږي.

(۳):داچې دنذراونیازورکونکی داالله تعالی څخه لاندې اویادالله تعالی څخه بغیر دغه ولی اوبزرګ په کارونوکې متصرف ګڼي اوداد کفرعقیده ده.

(۳):په فتاوی عالمګیری کې دي چې (والنذر الذی يقع من اكثر العوام بأن يأتى الى قبر بعض الصلحاء، ويرفع ستره قايلا ياسيدى فلان ! ان قضيت حاجتى فلك من الذهب مثلا كذا، باطل اجماعا)[1].

اکثره عوام داسې نذرمنی چې یوزیارت ته لاړشي پرده اوچته کړي او ووایې ای زمافلان پیره! که تازمادغه مشکل حل کړه نوستالپاره زماله طرفه دومره سره زر نذردي داپه اجماع سره حرام دی.

(۴):امام ربانی مجددالف ثانی فرمایلي دي (وازاین عالم است صیام نساء که بنیت پیران وبیبیان نگاه دارند واکثرنامها ایشان را از نزد خود ترا شیده روزه

---

(۱):فتاوی شامی ج ۲ صـ (٤٣٩).

(۱):فتاوی عالمکیری ج ۱ صـ ۲۱٦).

ها خود رابنام آنها نیت کنند ودروقت افطار ازبرائی هر روز طعام خاصی به وضع مخصوص تعین می نماید وتعین ایام نیز می کنند ازبرای صیام ومطالب ومقاصدخودرابه این روزه ها مربوط می سازند وبتوسل این روزه ها از این ها حوائج خود می خواهند وروای حاجات خود را ازانها می دانند این شرکت درعبادت است وبتوسل عبادت غیر حاجات خود را از غیر خواستن است شناعت این فعل رانیک باید دریافت)[1].

اوددې قسم څخه دښځوهغه روژې هم دي چې دپیرانو اودبیبیانو په نوم يې نیسي اوددوئ اکثره نومونه دخپل طرفه تراشي په خپلوروژوکې ددوی په نوم نیت کوي.

اودهرې روژې په افطارکې یوخاص طعام په مخصوصه طریقه مقرروي، اودروژو لپاره دورځوتعین هم کوي اوخپل مقاصد اومطالب ددغه روژو پورې تړي ،اوددې روژوپه وسیله ددغه پیرانوڅخه خپل حاجتونه غواړي اودخپلوحاجتونو پوره کېدل داولیاوو له طرفه ګڼي چې داپه عبادت کې شرک دی.

اودغیرالله دعبادت په ذریعه خپل حوائج غواړي،ددې کاربدی بائد په ښه طریقه وپېژندل شي.

(۵): علامه ابن نجیم مصری اوعلامه ابن عابدین الشامی رحمهم الله لیکلي دي چې (قوله باطل وحرام، لوجوه منها: انه نذرلمخلوق والنذرلمخلوق لایجوز لانه عبادة والعبادة لاتکون لمخلوق.

---

(۱): مکتوبات ج ۳ صـ (۳٦٤).

ومنه ظن ان المیت یتصرف فی الامور دون الله واعتقاده ذلك كفر)(۲).
دماتن قول چې باطل اوحرام دی داله څو وجهوڅخه:یوداچې دامخلوق ته نذردی اونذرلغیرالله جائزنه دی ځکه چې داعبادت دی اودغیرالله عبادت جائزنه دی بله داچې که دده داګمان وي چې مړی په امورو کې متصرف دی نودادكفرعقیده ده.

۶-قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله فرمایلي دي چې (پس نذركردن برای اولیاء جائزنیست كه نذرعبادت است واگركسی نذكركرد وفاء نذرنه كند كه احترازمعصیت بقدرامكان واجب است)[1].
یعنې اولیاوو ته نذرجائزنه دی ځکه نذرعبادت دی اوکه چانذرمنلی هم وي نودهغې پوره کول جائزنه دي ځکه چې داسې نذرمعصیت دی اودمعصیت څخه ځان ساتل په قدردامکان واجب دی.

(۶):حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله لیکلي دي چې(**انهم یستعینون بغیرالله فی حوائجهم من شفاء المریض وغناء الفقیروینذرون لهم یتوقعون انجاح مقاصدهم بتلك النذورویتلون اسماءهم رجاء بركتها فأجب الله تعالی ایاك نعبدوایاك نستعین وقال تعالی:فلاتدعومع الله احد،،الجن ۱۸ : ۷۲.**
ولیس المراد من الدعاءوالعبادة كما قال المفسرون بل هوالاستعانة لقوله تعالی:بل ایاه تدعون فیكشف ماتدعون،،الانعام؛ ۴۱ ایه)(۲).
مشركانودخپلو حاجاتو لپاره مثلا: دمریضی څخه دشفاء دغریبۍ څخه دمالدارۍ لپاره دغیرالله څخه مددونه غواړي، اود اولیاوو په نوم نذر

---

(۲):البحرالرائق ج ۲ صـ ۳۲۱ شامی ج ۲ صـ ۶۶۰ كتاب الصوم مطلب فی النذر الذی یقع للاموات.
(۱):ارشادالطالبین صـ (۴۶).
(۲):حجة البالغة ج ۱ صـ (۱۸۵).

اونیازکوي اودا امیدلري چې په دغه نذر اونیاز سره ددوی حاجتونه پوره کیږي ،اودبرکت لپاره دهغوی نومونه هم لولي.

نوالله تعالی په دوی لازمه کړه چې په هرمونځ کې (ایاك نعبدوایاك نستعین)ولولي.

همدارنګه یې فرمایلي دي چې (فلاتدعومع الله احدا) ددې دعاء څخه عبادت مرادنه دی.

بلکې استعانت ترینه مراد دی (بل ایاه تدعون فیکشف ماتدعون)

(۷):علامه محمدبن علی حصکفی حنفی رحمه الله لیکلي دي چې(واعلم ان النذر الذی یقع للاموات من أکثر العوام ومایؤخذ من الدراهم والشمع والزیت ونحوها الی ضرائح الاولیاء الکرام تقربا الیهم فهوبالاجماع باطل وحرام).

پوه شه چې هغه نذرچې اکثرعوام یې مړوته کوي او اولیاوو ته دتقرب په نیت چراغونه اوتیل وروړي په اجماع سره باطل اوحرام دي.

فانقیل:چې نذرپه دوه قسمه دی (۱)شرعی نذردی(۲)لغوی نذردی اولیاوو ته لغوی نذرکیږي اوپه شرعی نذرکې الله تعالی ته نذرمنل کیږي اوپه لغوی نذرکې اولیاوو ته نذرمنل کیږي[1]:

قلنا:داباطل فرق دی دا داسې دی لکه یوکس چې غیرالله ته سجده وکړي اوبیاووایې چې دالغوی سجده ده.

اویادقبرڅخه طواف وکړي اوبیاووایې چې دالغوی طواف دی غیرالله ته لمونځ وکړي اوبیاووایې چې دالغوی مونځ دی.

فائده:په (انماالصدقات للفقرآء)کې (لام) دعبادت اودتقرب نه دی بلکې (لام) دمنفعت دی.

(۱):جاء الحق صــ (۳۰۷).

یوولسمه (۱۱) مسئله
دغیرالله په نوم حیوان ذبح کول

(۱):داحنافوپه نیزدیوبزرگ اودیوولی دتقرب اودخوشحالولو لپاره دحیوان ذبح کول حرام دي لکه اکثرخلک زیارتونوته څاروی بیایی اوهلته دولی دتقرب اودخوشحالولولپاره ذبح کوي نوداحرام دی اوداغوښه نجسه ده.

(۲):الله تعالی فرمایلي دي چې(وماأهل به لغيرالله)په لغيرالله کې (لام)دعبادت اودتقرب لپاره دی بعضې خلک وايې چې مونږهلته څاروی دالله تعالی لپاره ذبح کوو اوغوښه يې په فقيرانوتقسيموو نودابه هلته ومنلی شي چې دده په عقيده کې زيارت ته وړل اومدرسې ته وړل يوبرابروي همدارنګه څاروي اوغوښه وړل ورته يوبرابروي حالانکې داسې نه ده دغوښې په وړلوېې تسلي نه کېږي ترڅوېې چې هلته حيوان نه وي ذبح کړی.

فائده: په وما(اهل لغيرالله)کښی لام دعبادت اودتقرب اوفرح لپاره دی يعنې هغه څاروی حرام دی چې غيرالله ته دعبادت اوغيرالله ته دتقرب اودغيرالله دخوشحالولو لپاره ذبح شي.

اوپه (**انما الصدقات للفقراء**)کې لام دمنفعت لپاره دی چې حيوان دالله تعالی دعبادت اودتقرب په نيت ذبح شي اونفع يې فقراءوو ته ورسېږي .

(۳):حضرت مجدد الف ثانی رحمه الله فرمايلي دي چې حيوانات (**راازمشائخ ميکنند وبرسر قبرهای ايشان رفته آن حيوانات راذبح می نمايددر روايات فقهيه اين أمر رانيزداخل شرك ساخته أندودراين مبالغه نموده واين را أزجنس ذابح جن انه اشته اند که ممنوع است وداخل دائره شرك**)[۱].

---

(۱):مکتوبات دفترسوم مکتوب (۴۱).

حیوانات د مشائخو په نوم کوي قبرونه ته يې وړي او هلته يې ذبحه کوي دا هم دفقهي رواياتو مطابق په شرک کې داخل دي او په دې کې فقهاوو مبالغه کړې ده او دغه ذبحه يې د جن په نوم د ذبحې مترادف ګڼلې ده چې دا ممنوع او د شرک په دائره کې داخل دی.

(۱۴): شاه عبدالعزيز رحمه الله فرمايلي دي چې (قال العلماء لوان مسلماً ذبح ذبيحة وقصد بذبحها التقرب الى غير الله تعالى صار مرتدا وذبيحته ذبيحة مرتد)(۱)
که يو څوک د غير الله د تقرب په نيت څاروی ذبح کړي نو مرتد ګرځي او ذبيحه يې د مرتد ذبيحه ده.

مخکې ئې لیکلي دي چې داسې خلک هم شته چې ځانونو ته مسلمانان وايې او په واقع کې شرک کوي دا خلک کفر او د اسلام يو د بل سره خلطوی ، کله داسې کوي چې حيوان غير الله ته د تقرب په نيت ذبحه کوي او د ذبحې په وخت کې د الله تعالى نوم اخلي،نو د الله تعالى د نوم اخيستلو څخه په ظاهره کې دا رامعلومېږي چې په اسلامی طريقه يې ذبحه کوي حالانکې په واقع کې دا هم کفر دی، ددې خلکو دا ګمان دی چې صرف الله اکبر و وايه بيا که دې دالله تعالى دتعظيم نيت وي او که دغير الله دتعظيم نيت وي(۲).

بيائی مخکې ليکلي دي چې (ذبحه کردن جانور بنام غيرخدا خواه پيغمبر شد خواه ولی، خواه شهيد ، خواه غير انسان حرام است و اګر به قصد تقرب بنام اينها ذبح کرده باشد ذبيحه آن جانور هم حرام و مردرا ميشود و ذبحه کننده مرتد ميشود)(۳).

(۱):فتاوى عزيزى فارسى صـ (۲۱).
(۲):فتاوى عزيزى فارسى صـ (۲۳).
(۳):فتاوى عزيزى فارسى صـ (۳۹).

که دغيرالله په نوم حيوان ذبحه شي پيغمبروي ،که ولی وي او که شهيد وي او که دانسان څخه بغير ملائکه ياپيری وي دا ذبيحه حرامه ده .

او که دغيرالله دتقرب لپاره حيوان ذبحه شي نو دا ذبحه حرامه او مرداره ده او ذبحه کونکی مرتد ګرځي.

دولسمه(۱۲) مسئله
دجنازې څخه بعد دعاء

(۱): علامه علی بن عثمان تمیمی رحمه الله (المتوفی سنة ۵۶۹ هـ)لیکلي دي چې: (اذا فرغ من الصلاة لایقوم بالدعاء)[۱].
چې کله د جنازې د لمونځ څخه فارغ شی نو د دعا لپاره به نه اودرېږئ.

(۲): حافظ الدین محمد بن محمد بن شهاب بن یوسف الکردی البریقینی الخوارزمی المعروف بزازی یاابن البزاز الکردی الحنفی رحمه الله (المتوفی سنة ۸۲۷ هـ) لیکلي دي چې: (لایقوم بالدعاء بعد صلاة الجنازة لانه دعا مرة)[۲].
دجنازې دلمونځ څخه وروسته به ددعالپاره نه اودرېږي ځکه چې یوځلې دعا کړې ده.

(۳): ملاعلی قاری الحنفی رحمه الله (المتوفی سنة ۱۰۱۴ هـ)لیکلي دي چې: (ولایدعو للمیت بعد صلاة الجنازة لانه یشبه الزیادة فی صلاة الجنازة)[۳].
دجنازې دلمونځ څخه وروسته دمړي لپاره دعامه کوه ځکه چې دادجنازې په لمونځ کې د زیادت سره مشابه دی.

(۴): په ذخیره او محیط کې دي چې: (لایقوم بالدعاء بعد صلاة الجنازة).
دجنازې دلمونځ څخه وروسته به دجنازې لپاره نه اودرېږي.

---

(۱): فتاوی سراجیه صـ (۱۳۳).
(۲): فتاوی بزازیه ج۱ صـ ۵۳ دارلفکر بیروت.
(۳): مرقاة المفاتیح ج ۹ صـ ۴۹ مکتبه رشیدیه کویټه.

(۵):علامه ابن نجيم الحنفي رحمه الله ليکلي دي چې: (ولايدعوبعدالتسليم)[1].
د سلام څخه وروسته به دعا نه کوي.

(۶):دابن حامد څخه مروی دی چې: (ان الدعاء بعد صلاة الجنازة مکروه)
دجنازې دلمانځه څخه بعد دعامکروه ده.

(۷):دحضرت المجدد الف ثانی دجنازې سوانح نگارداسې ليکلي دي:
(حضرت مخدوم زاده بزرگ خواجه محمد سعيد دامت برکاته امامت نمازجنازه پيروپدر بزرگوار خودرضی الله عنه نمودندوبعدازنماز برائی دعای توقف نفرمودند که مقتضی سنت چنين نيست ودرکتب فقهيه معتبره مرقوم ست که بعدازنماز جنازه ايستاده دعاکردن مکروه است[2].

(۸):مفتی محمد فريد رحمه الله بعدکسرالصفوف ،صرف جائزورته ويلي دي اوبيايې صراحتاليکلي دي چې بهتره داده چې بعدکسرالصفوف هم دعاونه کړل شي.

پای

---

(۱):البحرالرائق ج ۲ صـ ۳۲۱ در الكتب العلمية بيروت.

(۲):برکات احمديه فارسی صـــ (۲۹۹).

فهرست

اهل السنة والجماعة:..(۳)
حنفي:..(۳)
ديوبندي:..(۴)
دحنفي فقهي دترجيح وجهي:..............................(۵)
دحنفي فقهي سره دانگريزانو دوښمني:....................(۶)
تعجب!!!..(۷)
اوله مسئله سيفيان بريلويان دي:...........................(۹)
دبريلويانو په تائيد كې پيرسيف الرحمان دعلماء ديوبند اكابرينو دتكفير قائل دی:(۱۷)
پيرسيف الرحمان دحرمينو داامامانو په اقتداء كې لمونځ نه كولو:..........(۲۰)
(۱۴): پيرسيف الرحمان دبريلويانو په شان نبی عليه السلام حاضراو ناظر گڼلو:....(۲۱)
(۱۵)چلينج:..(۲۲)
د پير سيف الرحمن دعوی:...................................(۲۳)
اوله دعوه:..(۲۳)
(۱):اوله تبصره:..(۲۳)
(۲):دوهمه دعوه:..(۲۳)
(۲):تبصره:..(۲۳)
دريمه دعوه:..(۲۴)
تبصره:...(۲۴)
څلورمه دعوه..(۲۴)
(۱):تبصره...(۲۵)

پنځمه دعوه:..................(۲۶)

(۱): تبصره:..................(۲۶)

شپږمه دعوه:..................(۲۷)

(۱)تبصره:..................(۲۷)

اوومه دعوه:..................(۲۷)

تبصره:..................(۲۷)

اتمه دعوه:..................(۲۸)

نهمه دعوه:..................(۲۸)

لسمه دعوه:..................(۲۹)

تبصره:..................(۲۹)

یوولسمه دعوه:..................(۲۹)

دولسمه دعوه:..................(۳۰)

د پیر سیف الرحمان په خلاف د مستند و مدارسو او مفتیانو حضراتو فتوی:. (۳۰)

دوهمه مسئله د سیفیانو رقص او ګډا:..................(۳۶)

حجل:..................(۳۶)

د سیفیانو د رقص بنیاد چا ایښی دی؟..................(۳۸)

د تصوف په نوم د دې رقص په خلاف لیکل شوي کتابونه..................(۳۹)

د سیفیانو بریلویانو د رقص او ګډا اجمالی حکمونه:..................(۳۹)

د سیفیانو د ګډه رقص په خلاف د حنفي فقهي عبارات..................(۴۱)


قال الشارح:..................(۴۳)

والحاصل: ....(۴۴)
فائده: ....(۴۸)
فائده: ....(۴۹)
وقالت المالکیه: ....(۵۸)
وقالت الحنابلة: ....(۵۸)
وقالت الحنفیه: ....(۵۸)
السماع الشرعی..(۷۳)
دریمه مسئله ذکر بالجهر تعبد آبدعت دی عند الاحناف..................(۷۵)
دلائل (۱): ....(۷۶)
دجنازې پسې شاته ذکر کول بدعت دی..........................(۸۴)
څلورمه مسئله عقیده دعلم الغیب: ....(۸۴)
داهل السنة والجماعة احنافو دعقیدې وضاحت: ....(۸۴)
حاصل داچې غیب په دوه قسمه دی (۱): ....(۸۵)
حاصل داچې غیب په دوه قسمه دی (۱): ....(۸۷)
داحنافو په نیز غیرالله ته علم الغیب ثابتول کفر دی.......................(۸۸)
چلینج: ....(۹۳)
پنځمه مسئله دحاضر اوناظر: ....(۹۳)
جواب دادی: ....(۹۵)
شپږمه مسئله په مافوق الاسباب کې دغیرالله څخه کومکونه غوښتل: ......(۹۷)
غیرالله مشکل کشا او حاجب رواګڼل: ....(۹۷)
مسئله: 111 (111)

اوومه مسئلهمروجه جشن عید میلاد النبی صلی اللہ علیہ وسلم: ....(۱۰۷)
توضیح: ....(۱۰۷)
نوټ: ....(۱۰۸)
خلاصه: ....(۱۱۴)
بله قاعده په خاصوشپوکې دعبادت په نیت کوڅې اومساجدپه ګلانوپوښل دي(۱۱۵)
بله قاعده په مساجدوکی داشعارولوستل دی: ....(۱۱۶)
بله قاعده دتعظیم الایام ده: ....(۱۱۷)
بله قاعده: ....(۱۱۸)
فان قیل: ....(۱۱۹)
اتمه مسئله په قبرونوهرکال عرس کول: ....(۱۲۰)
نهمه (۹)مسئله دمړي پسې دریمه جمعګي اوومه اوڅلوېښتمه: ....(۱۲۴)
لسمه(۱۰) مسئله نذراونیاز: ....(۱۳۱)
یولسمه (۱۱) مسئله دغیر اللہ په نوم حیوان ذبح کول: ....(۱۳۷)
دولسمه(۱۲) مسئله دجنازې څخه بعد دعاء: ....(۱۳۹)











الناشر

اَهلُ السُّنَّةِ وَالجَمَاعَةِ العَالَمِی

ندیم ټریډ سنټر محله جنګي قصه خواني بازار پښاور

مسئول مولوی هدایت الله بدر
0348-4319541

فرهاد دلسوز
0307-8517886

DESIGING BY- AL SYED PRINTERS 0300-5925017